خصوصي نمبر

مياشتنی

# پښتو

جنوري، فروري، مارچ ۱۹۹۶ء

شمس العلماء قاضي مير احمد شاه رضواني

۱۰ر اپريل سنه ۱۸۶۰ء - ۳۰ر دسمبر سنه ۱۹۳۴ء

پښتو اکېډمي پېښور يونيورسټي

Scanned with CamScanner

د پښتو اکېډيمۍ د مطبوعاتو سلسله نمبر ۴۸۶

میاشتنۍ

# پښتو

نګران

ډاکټر راج ولي شاه خټک

ډائرېکټر پښتو اکېډيمي

اداره

سلمیٰ شاهين   پروېز مهجور خويشکي   ډاکټر هدايت الله نعيم


کال چنده ـــــ ۶۰ روپۍ

د دې ګڼې قيمت : ۲۰ روپۍ

ټېليفون ـــــ ۴۱۰۰۹

جلد : ۲۸

شماره : ۱، ۲، ۳

جنوري، فروري، مارچ ۱۹۹۶ء

رجسټرډ نمبر ـــــ ۱۳۶

د محمد جاويد خليل په اهتمام په ملت پرنټرز لاهور کښې چاپ شو او د

پښتو اکېډيمۍ پېښور يونيورسټۍ نه خور شو


Scanned with CamScanner

# فهرست


| مخ | لیکوال | لیک | شمیر |
|---|---|---|---|
| ۷ | اداره | اداریه | ۱ |
| ۱۰ | ډاکټر میاں سهیل انشاء | د میراحمد شاه رضواني صاحب د ژوند لیک نیټه لیک | ۲ |
| ۲۸ | ټولنه او ترتیب: ډاکټر میاں سهیل انشاء | شجره نسب عالیه حضرت سید میر عبدالرحمن بخاري نقشبندیه | ۳ |
| ۲۹ | قاضي میراحمد شاه رضواني | د شکرستان افغاني نه یوه بېلګه زهرمهره | ۴ |
| ۳۰ | همیش خلیل | تحفة الاولیاء | ۵ |
| ۳۳ | محمد همایون هما | د میر احمد شاه رضواني نثر | ۶ |
| ۴۲ | قاضي میراحمد شاه رضواني | د بهارستان افغاني یوه بېلګه سپلمه | ۷ |
| ۴۳ | پوهاند صدیق الله رشتین | میراحمد شاه رضواني | ۸ |
| ۴۹ | عبدالله غمخور | د نومیالي پښتون رضواني په یاد کښې | ۹ |
| ۵۰ | مرتضی شاهین | میراحمد شاه رضواني | ۱۰ |
| ۵۳ | محمد ملا همکار | د میراحمد شاه رضواني په یاد کښې | ۱۱ |
| ۵۴ | محمد آصف صمیم | د قاضي میراحمد شاه رضواني د التلخیص في العروض لنډه پېژندنه | ۱۲ |


Scanned with CamScanner

| | | | |
|---|---|---|---|
| ١٣ | میر احمد شاه رضواني ته د عقیدت ګلونه | قمرزمان قمر نریوال | ٥٨ |
| ١٤ | رضواني د خپل شعر په رڼا کښې | پروین مهجور خویشکي | ٦٠ |
| ١٥ | میر احمد شاه رضواني | جوهر خلیل | ٦٩ |
| ١٦ | قصیدة الرضواني في بني افغان | پښتو ژباړنه: احمد شاه منصور | ٧٠ |
| ١٧ | قاضي میر احمد شاه رضواني | سید فیروز شاه اثر کیلاني | ٧٥ |
| ١٨ | د عقیدت ګلونه | شهسوار سنګروال نیاز | ٨٠ |
| ١٩ | قاضي میر احمد شاه رضواني د یو قواعد نویس په حیثیت | ډاکټر خالد خان | ٨١ |
| ٢٠ | د رضواني صاحب په بهارستانِ افغاني یو نظر | عبد الرؤف نوشهروي | ٨٩ |
| ٢١ | د رضواني صاحب یاد | ودود اشنغرے | ٩٢ |
| ٢٢ | میر احمد شاه رضواني | ډاکټر شیر زمان طائزے | ٩٤ |
| ٢٣ | حدیث شریف | فقیر محمد عباس قادریه | ٩٨ |
| ٢٤ | د میر احمد شاه رضواني دوه ناپېژندلي کتابونه | زلمے هیوادمل | ٩٩ |
| ٢٥ | میر احمد شاه رضواني | سرزمین شاه سرزمین | ١٠٣ |
| ٢٦ | سرگذشت باستان در تاریخ قدیم افغان | حبیب الله رفیع | ١٠٤ |
| ٢٧ | د رضواني په یاد کښې | شهریار قتاش خیل | ١٠٨ |
| ٢٨ | رضواني او خطاطي | سید محی الدین هاشمي | ١٠٩ |
| ٢٩ | سرحدي صوبه | میر اعظم شاه بیدل | ١٢٣ |
| ٣٠ | د میر احمد شاه رضواني علمي او ادبي تحقیق تشریح او تصنیف | ډاکټر محمد صدیق ازهري | ١٢٨ |
| ٣١ | میر احمد شاه رضواني صاحب ته | قاضي حنیف الله حنیف | ١٤٠ |
| ٣٢ | د رحوص چای | میر احمد شاه رضواني | ١٤١ |
| ٣٣ | پښتانه شاعران | میر احمد شاه رضواني | ١٤٢ |
| ٣٤ | راغلے لیک | سرزمین شاه سرزمین | ١٤٣ |


Scanned with CamScanner

اداریه

# بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

## نَحْمَدُهٗ وَنُصَلِّیْ عَلٰی رَسُوْلِهِ الْکَرِیْم

د پښتو مجلې دا خصوصي ګڼه د شمس العلماء قاضي میر احمد شاه رضواني نمبر دے۔
رضواني صاحب د پښتو ادب د تاریخ په داسې موړ زیږېدلے وُ چې د کلاسیکي شعرو ادب
د یو زرین دور نه پس په دې زمکه یو اوږد، شاړ او بنجر دور راخور شوے وُ۔ په
دغه دور کښې هم خال خال پښتانهٔ عالمان، ادیبان او شاعران پیدا شوي دي۔ ولې
د ادب د پرمخ تګ هغه تحریک چې له ستر خوشحال خان خټک را شروع شوے وُ هغه لکه چې په
ځائے ودرېدلے وُ۔ د ادب مؤرخین او نقادان ددې ډېر اسباب بیانوي ولې یو سبب
ئې خارجي استبداد هم وُ۔ د مغلو نه پس سیکان او د سیکانو نه پسته انګرېزان دلته
راغلل دا یو داسې هنګامي او هنګامه خېز دور وُ۔ چې ثقافتي اقدار و په کښې د ودې
په ځائے د فنا لار نیولې وه۔

د انګرېزانو په برصغیر د مکملې قبضې نه پس چې په حالاتو کښې څهٔ نه څهٔ
استحکام را ښکاره شو نو د هغوي سترګې بیا د پښتنو د علاقو د دا نیولو په لور شوې
یوه لویه برخه د هغوي په قبضه کښې راغله هم۔ خو د هغوي یو مشکل د پښتو ژبې زده
کول هم وو۔ دا یوه داسې موقع وه چې د پښتو د شعرو ادب او د ژبې خوا خوږو ته یوه
موقع په لاس ورغله۔ ددې موقعې نه د فائدې اخستو د پاره که هرڅو که هغوي د
انګرېزانو د پاره په پښتو کښې د لیکلو لوستولو او لولولو سبب پیدا کولو۔ نو بیل خوا ئې د
پښتو ژبې وده او ترقي هم په نظر کښې وه۔ غالباً چې دا دوېم مقصد د هغوي اصل
مقصد وُ۔ او د پښتو د جدید ادب د دور د دروازې پرانستې کېدې۔

میر احمد شاه رضواني په ۱۱، اپریل ۱۸۶۰ء کښې په اکبرپوره کښې زیږېدلے
وُ۔ د خپل بې پناه علمیت او د علمي ادبي خدماتو په عوض کښې ورته انګرېز حکومت د

شمس العلماء خطاب هم ورکړے وُ - شاید چې دا وړومبے پښتون عالم وُ چې دغه ستر خطاب ئې تر لاسه کړے دے - دا په هغه وخت کښې هم د پښتنو د پاره د وياړ خبره وه - ځکه چې د هندوستان د مضبوط ثقافت پاللیو ډېرو عالمانو دغه خطاب تر لاسه کړے وُ - او د پښتنو په باره کښې د علمیت له لحاظه د هغوي سترګي د رضواني صاحب په خطاب به غړېدلې هم وې -

د رضواني صاحب خدمات ډېر زیات دي - د پښتو د پاره او د پښتو ادب د خورون د پاره هغهٔ بې شانه زیات خدمات تر سره کړي دي - کتابونه ئې ليکلي دي - او د کتابونو ليکلو د پاره ئې حالات او اسباب پيدا کړي دي - د شفاهي ادب نه تر پښتنو د تاريخ پورې ئې موضوعات راخستي دي - ليکل ئې پرې کړي دي - دا زيارئې کړے دے - چې د وخت د مشرقي ژبو سره پښتو هم سياله کړے شي - ولې ډېر غټ کار ئې دا کړے دے - چې پښتو ئې په هغه حالاتو کښې په کورسونو او نصاب کښې شامله کړې ده - د رضواني صاحب په ژوند کار او زيار به په دې کنه کښې تاسو ډېر څهٔ اولولئ - زمونږ يقين دے چې د هغه د ژوند او شخصيت په هر اړخ رڼا اچولې شوې ده - دا خصوصي نمبر د پښتو اکيډيمۍ له خوا د شمس العلماء ميراحمد شاه رضواني د خدماتو د اعتراف په توګه شائع کولے شي -

مونږ د قاضي ميراحمد شاه رضواني په باب له دې کوشش د ليکلو تکل کوؤ - چې په دې کښې د پښتنو په سيمه د يو لوئې غر د راپرځيدو درزخوړ شو - دې درز د هر پښتون او د هر پاکستاني زړهٔ ولړزوؤ - غني خان په خپل ذات کښې يوه اداره وه - ادارې په عمرونو کښې جوړېږي - د ادارې د ورانيدلو د تاوان نه شايد چې په علمي دنيا کښې بل غټ تاوان نهٔ وي - د غني خان په مرګ پښتو د يو داسې نابغه شخصيت نه محرومه شوه کوم چې په صديو کښې چرته يو پيدا کيږي - د ستر خوشحال خان خټک نه پسته کهٔ د پښتو په تاريخ کښې بل زوردار علمي شخصيت پيدا شوے وُ نو هغه د غني خان شخصيت وُ - دې ليوني فلسفي چې پښتو شعرو ادب، فن او ثقافت ته څهٔ بخښلي دي - هغه د يوې پيړۍ کار دے - هغه چې د خپل منفرد او ځانګړي فکر له برکته کوم مکتب فکر ساز کړے دے د پښتون شعور د پاره ئې کومه رڼا راوړلې ده - په هغې به د دې وګړو ذهنونه تر مودو مودو منوّر وي - هغه که هرڅو د

وګړو په زړونو کښې تل عمرې ژوندي وي. د هغه د سرمدې سندرو انګازې په دې غرونو. رغونو کښې داسې خورې شوې دي چې تر زمانو به اورېدے شي. ولې په جسماني طوره هاغه ښکلے خوبصورته، خوش خصلته، خوش طبيعته او خوش ذوقه وجود زمونږ نه جدا شو. يوه تنده، يو ارمان پاتې شو. زمونږ دُعاده چې لوې خدائے دې د هغه روح ته ابدي قرار ورکړي او الله تعالیٰ دې يُې اووهٔ واړه جنتونه نصيب کړي. امېد دے چې د هغه ذا وېنا به د حقيقت ځائے بيا مومي.

ع — نهٔ منم نهٔ منم ياره مرګ انجام د هستۍ نهٔ دے
خلاصېدل شراب په جام کښې اختتام د هستۍ نهٔ دے
که يو نهٔ وي بل به نهٔ وي او که وي نو وي به دواړه
دې درياب له چرته شته دے لرې بله يوه غاړه

په دې ورځو کښې يو بل علمي او ادبي شخصيت پروفيسر عبدالرؤف نوشهروي صاحب هم په حق ورسېدو. د هغه خدمات هم د هېرولو نهٔ دي. مرحوم په بنيادي توګه د کيميا سائنسدان وُ. ولې د پښتو ادب يُې هم تر خپله وسه ښهٔ خدمت کړے دے. د هغه په مرګ هم زمونږ اداره د غم او ژړا ښکار ګڼ ده. او الله تعالیٰ ته سوال کوُو چې د نوشهروي صاحب دې جنتونه نصيب کړي.

د پښتو مجلې دا ګڼه په دې سبب لږه وځنډېده چې دا يو خصوصي نمبر وُ. د ضخامت له مخه د درېو مياشتو رساله ده. د رضواني صاحب په حقله د مختلفو ليکوالو نه مقالې او مضامين راټول هم وو. مونږ تر خپله وسه د رضواني د شخصيت د احاطې کولو زيار کړے دے. کېدے شي چې ځنې اړخونه تش پاتې شوي وي. ولې بيا هم زمونږ له آخره کوشش دے چې يو ښه سوغات دے. امېد دے چې لوستونکي به يُې هرکلے وُکړي. په دې لړ کښې مونږ د ښاغلي ډاکټر مياسهيل انشاء ډېره زياته منندوي چې په خپله ليونۍ جذبه او رضواني صاحب سره د وينې او مينې له جوشه مونږ سره د دې نمبر په راويستو کښې بې حده زيات تعاون او مرسته کړې ده. زمونږ پام يُې په هر کام د دې ګڼې د معياري کولو په لور راګرځولے دے. او ډېرې زياتې نادرې مسودې يُې راکړې دي. د ډاکټر صاحب د زيار او کړاو که په دې حقله هر څو مره ستائنه وکړو ځائے لري. د ډاکټر انشاء نه علاوه مونږ د هغه ټولو ملګرو ليکوالو منندوي چې د خپل درانهٔ ليک په ذريعه د دې ګڼې په راويستو کښې کومک کړے دے.

وما توفيقي إلا بالله

Scanned with CamScanner

ډاکټر میا سهیل انشاء

# د میراحمد شاه رضواني صاحب

## د ژوند لیک نېټه لیک

اروابناد شمس العلماء قاضي مولوي سید میراحمد شاه رضواني صاحب زموږ د ادب د کتاب یو ځلاند څپرکے دے، دے په لیک لوست، کړه وړه، نوکرۍ او د ژوند په هره ګوټ کښې د پرفعال او متحرک انسان وُ۔ په ارام ناسته دده په سرشت کښې نهٔ وه۔ ان تر دے چې د لوبو د میدانونو سنګراني او د لوبغاړو حوصله افزائي به ئې هم کوله۔ کهٔ د لوست خبره به وه نو د هغې اندازه ئې دې نه لګېدے شي چې د نهو کالو په کوچني عمر کښې ئې د "سراجي" کتاب مطالعه کړله کوم چې د میراث د مسئلو یو کتاب دے۔ بیا چې لیک ته متوجه شو نو د کتابونو انبارونه ئې ولیکل او په هر موضوع باندې ئې ښهٔ طبع ازمائي وکړه۔ د نورو حلقو په کتابونو باندې تبصرې او اخباري مضامین ددې نه علاوه دي۔ په عام ژوند کښې چې په کومه محکمه کښې ئې ملازمت کړے دے۔ نو خپل ښه فعاله تعمیري کردار ئې لوبولے دے او نور هم پېښه ترې نه دومره متاثره شوي دي چې دده د توصیف او تعریف نه بغیر به نهٔ پاتې کېدهٔ کله چې به د ټېکسټ بک کمېټۍ اجلاس وُ۔ نو په بحث و مباحثه او کارکردګۍ کښې به دده یو جوت مقام وُ۔ نور ټول غړي به صُمٌ بُکمٌ ناست وُ۔

دلته د رضواني صاحب د ژوند لیک لنډ نېټه لیک په دې عرض پېش کولے شي کهٔ څینې خلق د څهٔ خاص مصروفیاتو له کبله دده د شخصیت مطالعه ونهٔ کړے شي۔ نو دا به د دوي د پاره ډېره اسانه ثابته شي۔ د دومره لوړې پایې عالِم او همه ګیر او همه جهت شخصیت دا نېټه لیک کهٔ څوک هر څومره وړ دګڼي خو بیا هم دده د عمر ۷۷ کالو ډېر لنډ حال دے دده نېټه لیک په لیکلو کښې ما دده د ژوند د بېلا بېلو پېښو په باب یو انګرېزي کتاب چې نه استفاده وکړه چې د ۱۸۷۵ نه ۱۹۱۵ پورې احاطه کوي نوم ئې Testimonials of Qazi Mir Ahmad Shah دے

Rizwani Shams-ulama of Akbarpura District Peshawar

په دغه کتابګي کښې دده په باب ۵ تصدیق

نامې دي خو نمبرې نهٔ لري - د هرې تصدیق نامې په

اخیره کښې دا نخښه (—) ده - ما ورته نمبرې ورکړي -

ددې کتابچې نه چې ما کله هم حواله اخستې ده، نو مختصراً
مې Ts لیکلې دی لکه:
نمبر ۶ حواله نمبر ۲ وګورئ چې دا سې لیک ده -

Ts، T، ۵ - دا خبره هم کول ضروري ګڼم چې دېرې

تصدیق نامې شته چې ډېرې دخوند وړ دي - خو چونکې

نېټه نهٔ لري په دې وجه هغه پرېښودے شوې

دغېښو واقعاتو نېټې ئې د سرکاري فائیل د بیلا بیلو

دستاویزاتو نه په لاس راغلې -

اوس دا روایناد رضواني صاحب د ژوند او

متحرک ژوندلیک (بایوګرافي) نه لنډ نېټه لیک

(کرونالوجي) وړاندې کولے شي:

۱- ۱۱ اپریل ۱۸۶۰ء: په اکبرپوره علاقه پبو تحصیل نوښار، ضلع نوښار کښې د قاضي میر صاحب زاده

صاحب په دیني، علمي، فرهنګي او پلار په

نیکهٔ شاهي سند یافته کورنۍ کښې زېږېدل

حواله ۱ د میر احمد شاه رضواني ذاتي ډائري

حواله ۲ د میر احمد شاه رضواني د زوے سید

میر اعظم شاه بېدل مضمون "سرحدي صوبه"

۲- ۱۱ اپریل ۱۸۶۰ء: د اخونزاده عبد الغفور

صافي مشهور په سېدو باباجيؒ یا سوات

باباجيؒ دده په غوږونو کښې اذان وئېل او

خوله کښې ورته خپلې لاړې ورکول -

حواله خانداني روایت

۳- ۱۸۶۹ء: د نهو کالو په عمر کښې د سېدو

باباجيؒ دیدار له خپل پلار سره سوات ته تلل -

سېدو باباجيؒ ته "سراجي" نومې د مسائلو

کتاب نه اقتباسات اورول - د باباجيؒ دده

په سینه لاس کښېښود او ورته دعا کول -

حواله: "کتاب تحفة الاولیاء" (فارسي)

مصنف رضواني مطبوعه مفید عام پریس لاهور

سن ۱۳۲۱ ص ۴۸ - ۴۹

۴- ۱۸۷۱ء: دیوولسو کالو په عمر کښې دعلم په

تلاش کښې د سفر موزې په پښو کول -

حواله: "رضواني" لیکوال خیال بخاري اشاعت

په "کابل" مجله جدي ۱۳۲۴ ص ۳۲ - ۳۸

۵- اګست / ستمبر ۱۸۷۲ء: د دولسو کالو او شلورو

میاشتو په عمر کښې په خپله خوبصورته خطاطۍ

باندې په عرب‌جه کښې "تجوید القرآن" رساله

د فارسي شرحې سره لیکل -

حواله: دا رساله زما په ذاتي کتابتون کښې

خوندي ده -

۶- ۱۸۷۵ء: د پنجاب پوهنتون د پوهنځي

(ختیځ پوهنې) کښې د مولوي (عرب‌جه) په امتحان

کښې شریکېدل -

حواله ۱ د اوریجنل سرټیفیکیټ فوټو کاپي

موجوده ده -

Scanned with CamScanner

حواله ع۲ Ts، T ۵۰

۷- ۲۶ فروري ۱۸۷۶ء : د مولوي (عربي) په امتحان کښې کامیابېدو سره سم ورته د پنجاب یونیورسټي رجسټرار یو - آر برکوله طرفه سرټیفیکېټ پېش کول -

حواله ع۱ : داوریجنل سرټیفیکېټ فوټو کاپي موجوده ده

حواله ع۲ Ts، T ۵۰

۸- ۱۸۷۶ء : د پنجاب پوهنتون په پوهنځي (ختیځپوهنې) کښې د مولوي عالِم (عربي) په امتحان کښې شریکېدل -

حواله ع۱ داوریجنل سرټیفیکېټ فوټو کاپي موجوده ده

حواله ع۲ Ts، T ۵۱

۹- ۲۶ اپریل ۱۸۷۷ء : د مولوي عالِم (عربي) په امتحان کښې پنځلس امیدوارانو کښې ټاپ پوزیشن اخستلو سره سم ورته د پنجاب یونیورسټي د رجسټرار جي ډبلیو لیټنر له طرفه سرټیفیکېټ پېش کول -

حواله ع۱ داوریجنل سرټیفیکېټ فوټو کاپي موجوده ده

حواله ع۲ Ts، T ۵۱

۱۰- ۱۸۷۸ء : نېغ په نېغه د پنجاب پوهنتون د پوهنځي (ختیځپوهنې) د منشي فاضل (فارسي) په امتحان کښې شریکېدل -

حواله ع۱ داوریجنل سرټیفیکېټ فوټو کاپي موجوده ده -

حواله ع۲ Ts، T ۵۳

۱۱- ۱۸۷۸ء : د پنجاب پوهنتون داورینټل کالج د آنرز ډګرۍ (فارسي) د امتحانونو ممتحن شمس العلماء خان بهادر مولوي ضیاء الدین پېشن ګوئي چې رضواني ښېل ټولو کلاس فېلو کښې قابل انسان دے -

حواله Ts، T ۴۱

۱۲- ۱۸۷۸ء د شمس العلماء خان بهادر مولوي ضیاء الدین وېنا چې رضواني دیولوے صلې مستحق دے -

حواله Ts، T ۴۱

۱۳- ۲۵ جولائي ۱۸۷۸ء : د مولوي ضیاء الدین ممتحن رپورټ او پېشن ګوئۍ سره سم منشي فاضل (فارسي) په امتحان کښې پنځو امیدوارانو کښې ټاپ پوزیشن سره سم د رجسټرار پنجاب یونیورسټي جي ډبلیو لیټنر له طرفه ورته سرټیفیکېټ پېش کول -

حواله ع۱ داوریجنل سرټیفیکېټ فوټو کاپي موجوده ده -

حواله ع۲ Ts، T ۵۳

۱۴- ۱۸۷۹ء : د پنجاب پوهنتون په پوهنځي (ختیځپوهنې) د مولوي فاضل (عربي) په امتحان کښې شریکېدل -

Scanned with CamScanner

حواله ع۱ داوریجنل سرټیفیکیټ فوټوکاپي
موجوده ده -
حواله ع۲ Ts، T ۵۲

۱۵ اګست ۱۸۷۶ء: دمولوي فاضل (عربي)
په امتحان کښې دویم پوزیشن حاصلولو سره
سم ورته د پنجاب یونیورسټۍ د رجسټرار جي
ډبلیو لیټنر له طرفه سرټیفیکیټ پیش کول
حواله ع۱ داوریجنل سرټیفیکیټ فوټوکاپي
شته دے -
حواله ع۲ Ts، T ۵۲

۱۶ ستمبر ۱۸۷۶ء امرتسر ته تلل هلته درې کاله
ټلو میاشتې استوګنه کول او په نارمل سکول
امرتسر کښې یونیم کال د عربۍ او فارسۍ د
هیډ ټیچر په عهده پاتې د پرنسپل د تسکین
مطابق ښه کار کول
حواله ع۱ د میر احمد شاه رضواني ذاتي ډائرۍ
حواله ع۲ د میر احمد شاه رضواني د زوے سید
میر اعظم شاه بیدل مضمون "سرحدي صوبه"
(اُردو)
حواله ع۳ Ts، T ۳۸

۱۷- ۲۹ مئی ۱۸۸۰ء: دمولوي فاضل (عربي)
دویم انعام د پنجاب یونیورسټۍ رجسټرار
جي ډبلیو لیټنر نه حاصلول -
حواله ع۱ داوریجنل سرټیفیکیټ فوټوکاپي
موجوده ده -

حواله ع۲ د دویم انعام د سرټیفیکیټ فوټوکاپي
موجوده ده -
حواله ع۳ Ts، T ۵۲

۱۸- ۲۸- اپریل ۱۸۸۱ء د سي جے داجز پرنسپل
نارمل کالج امرتسر له طرفه ورته په نارمل
کالج د هیډ ټیچر په عهده باندې دده کار
ستائینه او په لسانیاتو کښې دده په مهارت
باندې تسلي ظاهرول -
حواله Ts، T ۳۸

۱۹- ۲ جنوري ۱۸۸۲ء د ایل ډبلیو کنګ ملازمت
اختیارول -
حواله ع۱ د میر احمد شاه رضواني ذاتي ډائرۍ
حواله ع۲ Ts، T ۳

۲۰- ۱۸۸۲ء: ایل ډبلیو کنګ د پېښې کمشنر پښتو
له خوا اعترافي وینا " زما کرانه مولانا صاحب
ما بناغلي ډین رچیف سیکرټري حکومت پنجاب)
ته د خپل طرفه تا ته د شمس العلماء خطاب
عطا کولو د پاره لیکلي دي د کوم چې ته په حقیقت کښې
مستحق یې "
حواله ع۱ د سرکاري فائل ) درخواست د رضواني
د ریوالور د لائسنس نوي کولو د پاره -
وګورئ ع۲۱
حواله ع۲ Ts، T ۲۷

۲۱- ۱۸۸۲ء: پښتو هائي پروفیشنسي کښې کامیابېدو
باندې ایل وائټ کنګ خپل استاد رضواني له

په تحفه کښې دلسځانو ریوالور ورکړو۔

حواله ۱ سرکاري فائل ۔ قاضي صاحب ریوالور لائسنس نوي کولو دپاره درخواست کښې دا تفصیل ورکړے دے سن ټې ۱۸۸۳ پورې لیکلے دے۔

حواله ۲ Ts ۲، ۷، ۲۷ سن نهٔ لري خو د حواله ۱ نه ټې سن دا وځي۔

۲۲۔ جون / جولائي ۱۸۸۵ء: د خواجه معین الدین چشتي اجمیري (سلطان الهند) په شان کښې په عربۍ او فارسۍ کښې په کال (۱۳۰۲ھ) کښې قصائد غرا لیکل کله چې دې د خواجه صاحب په جماعت کښې اعتکاف کښې ؤ۔

حواله "کتاب تحفة الاولیاء" (فارسي) مصنف رضواني مطبوعه مفید عام پریس لاهور سن اشاعت ۱۳۲۱ھ ص ۱

۲۳۔ ۱۹ اکتوبر ۱۸۸۶ء (۱۰ محرم ۱۳۰۴ھ) پلوار د ریاست کشمیر کښې د سیر و سیاحت او ښکار په دوران کښې د لته د فطرت نه متأثره کېدو باندې پلوار (د اینمرز په خواؤ شا کښې) د فارسۍ دري نظمونه ولیکل۔

حواله: دوه غیرک کتابونه شرح شُلشُلیه اعشیٰ اسدي جاهلي (عربي او فارسي) او شرح شنفریٰ (فارسي) په اخیره کښې ص ۲ ۶۹ - ۷۲ تفصیل دپاره وګورئ د ۲۷ حواله

۲۴۔ ۲۱ جولائي ۱۸۸۷ء (اخري نیټه شوال ۱۳۰۴ھ) شرح شُلشُلیه اعشیٰ اسدي جاهلي المعروف بشُلشُل والمقلب بصناجة العرب باندې په عربۍ او فارسۍ دواړو ژبو کښې شرحې لیکل۔

حواله: دوه غیرک چاپ شوي کتابونه چې تا مُتل باندې ټې لیک دے "شرح قصیده شُلشُلیه اعشیٰ اسد جاهلي المعروف بشُلشُل والمقلب بصناجة العرب مع شرحه قصیده شنفریٰ المشهورة بلامیته العرب فی فارسیه والعربیه معًا من مولفات العبد الفانی الی الصفا الرضواني الاوغانے" مطبع روز بازار امرتسر میں باهتمام منشي فاضل شیخ غلام محمد مختار عدالت و مالک و مهتمم مطبع شائع هوا۔ دویم کتاب په بنګلور کښې لیکلے شوے ؤ۔ او دویم کتاب د لیک نیټه او ځائے نهٔ لري۔

۲۵۔ ۲۰ اګست ۱۸۸۷ء (اخري نیټه ذي قعده ۱۳۰۴ھ) د عروضو کتاب "التلخیص فی العروض" په عربۍ کښې لیکل۔

حواله: کتاب موجود دے۔ کتاب د قاضي صاحب د بنګلور په بهجنده نومي ځائے کښې د استوګنې په وخت لیکلے شوے ؤ او بیا په شعبان المعظم ۱۳۱۵ھ کښې چاپ شوے ؤ۔ پورا تا مُتل ټې دا دے "التلخیص فی العروض" للقاضي ابي الصفا میر احمد شاه الرضواني الاکبرپوري الپشاوري هیډ مولوي ګورنمنټ سنټرل ماډل سکول لاهور۔ بسعی مولانا عبدالوهاب الکنزے الافغانے

تحت ادارهٔ راجی رحمة الله الحمید مولوي عبدالعزیز محمد عبدالرشید مالک مطبع وتاجر کتب لاهور کشمیري بازار در مطبع عزیزي واقع لاهور طبع گردید - فی شهر شعبان المعظم ۱۳۱۵ھ

۲۶ ۱۱ر جون ۱۸۸۸ء (۳۰ رمضان ۱۳۰۵ھ) د عروضو بل کتاب " مخ البعوض فی علم العروض" په عربۍ کښې لیکل -

حواله: د عربۍ رساله " الفیصل" د احمد الجاسر لیکنه (شوال ۱۴۱۲ھ اپریل ۱۹۹۲ء) ګڼه ۱۸۴ ص ۴۲ کالم ع ۱ ، دا کتاب د قسطنطنیه چاپ د (۱۲۹۸ھ) نورو کتابونو سره ګنډلی او د امریکي په لائبریرۍ کښې د (W892.7 SA 31) نمبر لاندې خوندي دے -

۲۷ر جولائۍ اخري نېټه ۱۸۸۸ء خپل پلرني کلي اکبرپورې ته راتلل او دلته دې میاشتې او لس ورځې استوګنه کول -

حواله: د رضواني صاحب ذاتي ډائري -

۲۸ر ۲۹ر اکتوبر ۱۸۸۸ء په نارمل سکول پښاور کښې پنځه څلویښت روپۍ میاشت باندې داورینټل ټیچر په حیثیت د تقررۍ اردر د راتلل خو ښکاري دا سې چې دا پېشکش ئې قبول نهٔ کړو (وګورئ نمبر ۲۹)

حواله: ټي - سي - لیوئس اسکوائر ایم اے افیشیټینګ ډائرېکټر آف پبلک انسټرکشن پنجاب د خط نمبر ۱۹۵۰ نېټه ۲۹ر اکتوبر ۱۸۸۸ء

۲۹ر ۱۱ نومبر ۱۸۸۸ء په سررشته تعلیم پنجاب کښې د مولوي شیخ احمد نومي افسر د انتقال په ځائے ددهٔ په اویا روپۍ میاشت باندې په مدرسته المعلمین پښاور کښې د فارسۍ مدرس په توګه تقرری کېدل.

حواله ع ۱ " کتاب تحفة الاولیاء " فارسي) ص ۵۳ - وګورئ د ع ۳ حواله (کتاب تحفة الاولیاء
حواله ع ۲ " سرحدي صوبه" (اردو) لیکوال سید میر اعظم شاه بیدل (زوے د رضواني) لیکنه -
حواله ع ۳ " رضواني" خیال بخاري - وګورئ د (ع ۴) حواله
حواله ع ۴ د رضواني صاحب ذاتي ډائري

۳۰ ار ستمبر ۱۸۸۹ء د پښتو ګرامر (اردو) لیکلو باندې پیل کول.
حواله: د پښتو ګرامر یعنی قواعد صرف و نحو زبانِ افغاني منظور کرده پنجاب ټیکسټ بک کمیټي اشاعت ۱۳۲۶ھ ۱۹۰۸ء : ایډیشن سوم چاپ کننده راے صاحب ایم ګلاب سنګھ اینډ سنز - دیباچه ص ۲

۳۱ر ۱۸۸۹ء ددهٔ په کوششونو د پنجاب پوهنتون د شرقي علوم په څانګه کښې پښتو په کورس کښې شاملېدل -

حواله ع ۱ " رضواني " خیال بخاري ... وګورئ د ع ۴ حواله
حواله ع ۲ د پښتو ګرامر دیباچه ... د کتاب د پاره وګورئ د ع ۳۰ حواله -

Scanned with CamScanner

٣٢ - جنوري ١٨٩٠ء د پښتو ګرامر المسمی به وافيه
(اردو) په اردو کښي د پښتو ورو سينے باقاعده
ګرامر تصنيف کول دے نه علاوه څهٔ نور
کتابونه هم ليکل -
حواله ع١ Ts، T ٣٩
حواله ع٢ شمس العلماء قاضي مير احمد شاه
رضواني د يو قواعد نويس په حيث - د
ډاکټر خالد خان خټک مقاله (ناچاپ)
حواله ع٢ پښتو ګرامر : "د پښتو د ګرامر
تاريخچه" د ډاکټر زرغونه د پښتين زيوره مقاله
ص ٢٩١ - پښتو ټولنه ١٣٥٦ د زمرۍ ١٥
حواله ع٣ : پښتو ګرامر ليک صديق الله
رښتين پښتو ژباړه محي الدين هاشمي سن ١٩٩٤ء
١٣٧٢ ص ١٨ يونيورسټي بک ايجنسي خيبر بازار پښتور

٣٣ - ستمبر / اکتوبر ١٨٩٠ء د اسهال د بيمارۍ
د لاسه د دهٔ پلار قاضي مير صاحب زاده دَ
چارشنبي په ورځ ماسختن انتقال کيدل
حواله ع١ کتاب تحفة الاولياء (فارسي) - دَ
تفصيل د پاره د ع٣ حواله وګورئ -- ص ٩٩٠
حواله ع٢ مشاهير علماء ډاکټر قاري
فيوض الرحمن حصه دوم مطبع حفيظ پريس
١٠ ټيمپل روډ لاهور سن اشاعت نهٔ لري
ص ٩٢٣

٣٤ - ٢٠ اپريل ١٨٩١ء د ايل ډبليو کننګ ډپټي
کمشنر ډي آئي خان وينا "قاضي صاحب د عربۍ،
فارسي د هائي پروفيشنسي او د پښتو د هائي
سټينډرډ د يونيه استاد ، د سکه شناسۍ يو
ښهٔ ماهر او د نجوم يو ښهٔ پوهان دے "
حواله Ts، T ٣٦

٣٥ - ١٥ ستمبر ١٨٩٢ء په راولپنډۍ کښي "تاريخ
انبياء عليهم الصلوة والسلام" (فارسي)
ليکل کوم چې تر وسه ناچاپ کتاب دے -
حواله : د کتاب فوټو کاپي موجوده ده -

٣٦ - ٢٦ اپريل ١٨٩٣ء د دهٔ د مشر زوے مير
عبدالسلام زيږيدنه - کوم چې ميرات
مړ دے -
حواله د رضواني صاحب ذاتي ياداشت نه

٣٧ - ١ مارچ ١٨٩٧ء هيم راج - ايم - اے -
هيډ ماسټر نارمل سکول راولپنډي وينا
"د قاضي صاحب را تلو سره د سکول کارکردګي
ډيره ښهٔ شوه -"
حواله Ts، T ٣٥
حواله ع٢ د هيم راج اصلي خط موجود دے

٣٨ - ١ مارچ ١٨٩٧ء هيم راج ايم اے هيډ ماسټر
نارمل سکول راولپنډي له طرفه د دهٔ د اعلی
خدماتو زښته مننه
حواله Ts، T ٣٥
حواله ع٢ د هيم راج اصلي خط موجود دے

٣٩ ١٠ مارچ ١٨٩٧ء اقبال کشن ايم اے اسسټنټ
ماسټر رو ټرانسليټر سنټرل ټريننګ کالج

لاهور له طرفه دده د کارګزارۍ منته

حواله: Ts، T ۲۹

۴۰- ۲ مارچ ۱۸۹۵ء ایل ډبلیو کنګ کمشنر پېښور
له طرفه قاضي صاحب ته دیو قابل قدر خطاب
ورکولو پۀ زوره سفارش

حواله Ts، T ۲۹

۴۱ ۱۰ مئی ۱۸۹۶ء دده د دویم زوی
میرعبدالحئ زېږېدنه

حواله: د میراحمدشاه رضواني ذاتي یادداشت

۴۲- ۲۵ جون ۱۸۹۶ء په سنټرل ماډل سکول
لاهورکښې اته کاله ملازمت پوره کول-

حواله ۱: ذاتي ډائري د میراحمد شاه رضواني

حواله ۲: سرحدي صوبه (اردو) د سید
میراعظم شاه لیکنه

۴۳- دسمبر ۱۸۹۶/ جنوري ۱۸۹۷ء (شعبان
۱۳۱۵ھ) دده د عروضو کتاب "التلخیص
فی العروض" (عربي) شائع کېدل-

حواله: کتاب موجود دے وګورئ د ۲۵ حواله

۴۴ ۱۴ دسمبر ۱۸۹۷ء د انټرنس امتحان دپاره
د پښتو سپیشل کورس مرتب کول ولې د
اورینټل فیکلټۍ نه نامنظور شول

حواله: سرکاري فائل- د قاضي میراحمدشاه
د خط جواب د ایم اے سټین اسکوائر پي
ایچ-ډي رجسټرار پنجاب یونیورسټي لاهور
۲۰۴۲ نېټه ۱۴ دسمبر ۱۸۹۷ء

۴۵- ۱۸۹۸ء د پښتو ګرامر (اُردو) دویم ایډیشن
چاپ کول- دا په عزیزي پریس لاهورکښې چاپ شو-

حواله ۱ "د پښتو ګرامر" (اُردو) دریم ایډیشن
دیباچه ص ۲

حواله ۲ " په هندکښې د پښتو ژبې او ادبیاتو
دا ایجاد او ودې پړاونه" سر محقق ز-ه-
دویم چاپ ۱۳۲۳ ش ص ۹۹- ۹۸ م، ۵۰۵

۴۶- ۱۸۹۸ء د پښتو کتاب "بهارستان افغاني"
لیکل-

حواله ۱ کتاب شته ولې دا یې د ۱۹۵۶ء چاپ
دے-

حواله ۲ فرهنګ زبان و ادبیات پښتو
(فارسي) جلد اول ز-ه ص ۱۹۵ اشاعت
۱۳۵۶ او جلد سوم ۱۳۶۶ ۴۴ م ۲۵۰- ۲۵۵

حواله ۳ د پښتو ښځوانۍ تذکرې (پښتو)
حبیب الله رفیع د تاریخ ټولنې او ادب ټولنې
خپرونې ۱۱۲ دافغانستان اکېډیمۍ خپرونې
۴۸ ۱۳۴۹ - ص ۷۱، ۷۲

حواله ۴ د پښتو کتاب بنود حبیب الله رفیع
(پښتو) ۱۳۵۶ د زمري ۱۵ ام ص ۲۷۱

حواله ۵ پښتو پانګه- لومړے ټوک-
حبیب الله رفیع (پښتو) پښتو ټولنه
۱۳۵۴ ص ۲۷، ۲۸ سیریل ۴۴

۴۷- ۲۲ دسمبر ۱۸۹۸ء لاله ساګرچند ښځوانې
انسپکټر آف سکولز راولپنډۍ سرکل بیان

«اُمید لرم چې د قاضي صاحب میرټ به یو ځلي ومنلې شي او د شمس العلماء په خطاب به ونمانځلې شي»

T, Ts ۲۷، ۲۸

۴۸- ۳۰ اپریل ۱۸۹۹ء - د جیکسن سپرنټیسډنټ چیف کورس وینا «قاضي صاحب زما بنې طرف ته درد دپاره یو د اسې وخت زما علاج وکړو، کله چې زه میډیکل علاج نه مکمل مأیوسه شوی وم. د دوی په علاج زه مکمل طور سره صحت یاب شوم.»

حواله: T ، Ts ۲۷

۴۹- ۱۱ مئی ۱۸۹۹ء - قاضي طلا محمد خان له طرفه رضواني صیب ته په فارسۍ کښې زبردست منظوم خراج تحسین.

حواله- T ، Ts ۱۷

۵۰- ۲۲ مئی، ۱۸۹۹ء ایم اے ستهین آئی ای ایس پرنسپل مدرسه کالج کلکته بیان: «امید لرم چې په یو خاص وخت به د قاضي صیب خدمات ومنلې شي او په یو مناسب وخت به ورته د عزت افزائي یو مشرقي خطاب عطاء کړې شي.

حواله: T ، Ts ۲

۵۱- ۱ر اگست ۱۸۹۹ء جے سایم اسکوائر ایم اے ایل ایل ډی، سی ائي ای، ډایریکټر اف پبلک انسټرکشن پنجاب لاهور ته د قاضي صیب خط: «امید لرم چې زما د قابلیت او خاندانی وجاهت په وجه به ما ته یو ادبي خطاب راکړې شي او ما به په خپلو هموطنو کښې نورو نه ممتاز کړي.

حواله: د قاضي صیب خط موجود دے.

۵۲ ۵ر اگست ۱۸۹۹ء میټنګ کمیټی انجمن اسلامیه پنجاب له طرفه قاضي صیب ته د شمس العلماء د خطاب عطا کولو پر زوره سفارش کول او د قاضي صیب د دې انجمن ممبر غوره کول.

حواله۱: روئیداد جلسه میټنګ کمیټی انجمن اسلامیه پنجاب لاهور په نیټه ۵ر اگست ۱۸۹۹ء ځائے د خان بهادر برکت علی خان ریټایرډ اکسټرا اسسټنټ کمشنر کوټهی - خان بهادر د انجمن تاحیات جنرل سکرټری وو. دا بیان په «انجمن اسلامیه پنجاب لاهور کا سه ماهی رساله» بابت سه ماهی سوم مختتمه ۳۰ر ستمبر ۱۸۹۹ء کښې د انجمن اسلامیه پنجاب لاهور له طرفه رفاه عام پریس لاهور په مطبع کښې شایع و. رساله موجود دے.

حواله۲ T, Ts ۱۹ - برکت علی صیب د لاهور میونسپل کمیټی نایب صدر او د پنجاب یونیورسټۍ فیلو هم وُ.

۵۳ ۹ر اگست ۱۸۹۹ء د منشي لال هیډ ماسټر سنټرل ماډل سکول لاهور له خوا پرنسپل سنټرل ټریننګ کالج لاهور ته دیو لیک ۱۵۴ نیټه ۹ر اگست ۱۸۹۹ء نه ماخوذ «...... د دے ټولو حالاتو په وجه زه د قاضي صیب درخواست د دے حقدار ګڼم چې په یو امتیازي اعزاز لکه شمس العلماء باندے دے او نمانځلې شي»

حواله: سرکاری فائل خط ۱۵۴ مورخه ۹ر اگست ۱۸۹۹ د هیډ ماسټر سنټرل ماډل سکول لاهور نه پرنسپل سنټرل ټریننګ کالج لاهور ته - چاپ شده خط موجود دے.

۵۴ ۹ر اگست ۱۸۹۹ء ایل - بي ټلر پی ار - سی

Scanned with CamScanner

ته پښتو ښودلو باندې دلیل په د قاضي
صیب شکریه ادا کول .
حواله Ts ، T ، ۲۲ .
۵۵ ۱۰ ر اگست ۱۸۹۹ء دجنرل سکرټری انجمن حمایت
اسلام پنجاب له طرفه په ائر ډکټر اف پبلک
انسټرکشن پنجاب ته " ستا په خدمت کښې د
انجمن اسلامیه پنجاب دمتفقه قرار داد
کوم چې په ۵ ر اگست ۱۸۹۹ء کښې منظور شو
یوه کاپي درلېږم ، تاسو مهربانه وکړئ او
پنجاب حکومت ته یې واستوئ . ستاسو تابعدار
محمد برکت علی خان ، خان بهادر سکریټري
انجمن اسلامیه پنجاب " .
حواله : چاپ شده خط موجود دے .
۵۶ ۱۹ ر دسمبر ۱۸۹۹ء دقاضي صیب د دریم
نوے میراعظم شاه بیدل زیږید نه (دخلولو
پنځم نمبر نامنو مرګ بیتی ترلاسه نه شوی
څوک چې میرات مری د دنیا نه تلی وو . )
حواله : د میراحمد شاه رضواني ذاتي یادداشت .
۵۷ - ۱۴ دسمبر ۱۹۰۰ء دکمشنر ایل وایټ کنګ
له طرفه په تحفه کښې لس دزی دیوالور
مارک LEG Harbert by X/12 NO دزوی کولو
دپاره د سټرکټ مجسټریټ پېښور ایل همبرې
ته درخواست لیږل .
حواله سرکاري فایل فارم نمبر ۷۱۱۱
۵۸ ۱۹۰۱ء دسید عبدالرزاق بغدادی ادیب

او محصل ددار العلوم قاهره له طرفه ده
ته د سید جمال الدین افغاني ایپتر قسطنطنیه
له طرفه تاریخ افغانان بزبان عربي پیش کول
دبغدادی صیب دده له خولې نه قصیده
فی بنی افغانان اوریدل او بیا بغدادی
صیب وینا بخدا هذا کقول الحماسی
(په خدای چې داخو دحماسي اشعار دی
او ویل .
حواله د سرحدی صوبه اردو لیګ میراعظم شاه
بیدل .
۵۹ ۲۴ فروري ۱۹۰۱ء انجمن حمایت اسلام لاهور
ته د سید ۵۲۹ باندې سل روپۍ چنده ورکول
حواله : رسید موجود دے -
۶۰ - ۹ نومبر ۱۹۰۱ء بالاخر د وایسرائے هند او
ګورنر جنرل آف انډیا ان کونسل له طرفه ده
ته د " شمس العلماء " ویاړلے او سپیڅلے خطاب
عطا کول په دې توګه قاضي صاحب د موجوده
پاکستان په جغرافیائي حدودو کښې وړومبے
عالم وګرځېده څوک چې په دې امتیازي خطاب
ونمانځلے شو -
حواله ۱ : داوریجنل سند فوټو کاپي موجوده ده -
حواله ۲ : Ts ، T ،
حواله ۳ :

The Gazzette of India Extraordinary published by Authonty Simla Saturday

صفحہ ۲ November 9,1901

حواله ۴ رضواني - دخيال بخاري مقاله (د تفصيل دپاره د ۴ حواله وګورئ)

۶۱- ۱۶ نومبر ۱۹۰۱ء د رفيق هند" اخبار له طرفه دۀ ته د شمس العلماء په خطاب ورکولو باندې دخوشحالۍ اظهار کول۔

حواله Ts T ۳۷

۶۲. ۱۵ جنوري ۱۹۰۲ - د ايل وائټ کنګ اڼ سي ايس، ايل ايل ډي، فيشيټنګ کمشنر لاهور له طرفه دۀ ته د شمس العلماء په خطاب د خوشحالۍ اظهار کول کوم دپاره چې دۀ پرله پسې دده نوم وړاندې کړے وُ

حواله Ts، T ۳

۶۳- ۱۴ مارچ ۱۹۰۲ء د پنجاب پوهنتون د سنډيکيټ فيصله چې ائنده کانوکيشن په موقع به قاضي صاحب ته د خارجه محکمې د خط نمبر ۱۳۵م نېټه ۹ نومبر ۱۹۰۱ يوه کاپي او د شمس العلماء حلعت د وائسرائے او ګورنر جنرل ان کونسل آف انډيا له طرفه پېش کوے شي۔

حواله Ts، T ۴۸

۶۴- ۷ مارچ ۱۹۰۳ د "انجمن نعمانيه" په پنځلسمه جلسه کښې يو في البديهه فارسي نظم اورولو باندې حاضرينو د طرفونه د احسنت او مرحبا توصيفي اوازونه۔

حواله: "رفيق هند" اردو اخبار ۷ مارچ ۱۹۰۳

۶۵- ۴ جولائي ۱۹۰۳ (۷ د ربيع الثاني ۱۳۲۱ھ) "کتاب تحفة الاولياء" فارسي تکميلول

حواله: د "کتاب تحفة الاولياء" د اخري صفحې اخري دوه غټې کرښې (وګورئ د ع۳ حواله)

۶۶- جولائي ۱۹۰۳ء (د ربيع الثاني ۱۳۲۱ھ) د کانوکيشن په موقع دۀ ته د وائسرائے او ګورنر جنرل آف انډيا اِن کونسل له طرفه د خارجه محکمې د نوټيفيکيشن ع۱۳۵م نېټه ۹ نومبر ۱۹۰۱ء د شمس العلماء د خطاب يوه کاپي او يو د شمس العلماء حلعت ورکول۔

حواله "کتاب تحفة الاولياء" فارسي ص ۴ وګورئ نمبر ۳ حواله

۶۷ ۱۹ جولائي ۱۹۰۳ء د ايچ تهي نالټن د ويناچې قاضي صاحب په طالب علمانو او د سټاف په ممبرانو دواړو کښې ډېر هر دلعزيزه او مقبول دے۔

حواله Ts، T ۳۸

۶۸ ۲۳ جون ۱۹۰۴ء کمشنر ايل ډبليو کنګ له طرفه قاضي صاحب ته درخواست چې ورته د هندوستاني ژبو باندې د پوهې يو سرټيفيکيټ ور وليږي۔

حواله Ts، T ۳۱

۶۹ ۲۵ جون ۱۹۰۴ء نباغلي کنګ ته د قاضي صاحب له طرفه مطلوبه سرټيفيکيټ ور ليږل۔

حواله سرکاري فائل د قاضي صاحب د طرفه

Scanned with CamScanner

د لیږلې شوې سرټیفیکیټ کاپي موجوده ده -

۷۰ ۱ر جولائي ۱۹۰۴ء د سرټیفیکیټ په حصول د
واټ کنډکټ د قاضي صاحب شکریه ادا کول
حواله Ts ، T ۳۲

۷۱ ۴ر جولائي ۱۹۰۴ء ګورنمنټ سنټرل
ټرېننګ کالج لاهور ته د شرقي علومو د
پروفیسر په توګه د ده تقرري کېدل
حواله ع۱ ذاتي ډائري میراحمد شاه رضواني
حواله ع۲ Ts ، T ۲۱

۷۲ ۱۰ نومبر ۱۹۰۴ء قاضي صاحب ایچی سن کالج
لاهور ته په ترقۍ لاړو - ټي ډبلیو رائټ
پرنسپل سنټرل ټرېننګ کالج لاهور ته د
قاضي صاحب په تللو افسوس خو د قاضي صاحب
په ترقۍ د خوشحالۍ اظهار -
حواله سرکاري فائل د ډبلیو ټي رائټ
پرنسپل ټرېننګ کالج لاهور نه پرنسپل ایچی سن
کالج ته د فارورډنګ خط یوه کاپي

۷۳ ۲۰ مارچ ۱۹۰۵ د کونسل اف پنجاب ایسوسیشن
له طرف نه لیفټیننټ ګورنر ته شالامار ګاردن
لاهور کښې یو غرمنۍ ورکول کښې شمس العلماء
قاضي میراحمد شاه رضواني ته دعوت ورکول.
حواله: دعوت نامه موجوده ده.

۷۴ ..... ۱۹۰۵ د پښتو کتاب پښکرستان افغاني تالیف
کول.
حواله ع۱ کتاب شته ولې د ټائیټل صفحه نه لري.

حواله ع۲ د پښتو پخوانی تذکرې، حبیب الله
د رفیع (وګورئ د نمبر ۶۹ حواله ع۳) ص ۲۷
حواله ع۳ فرهنګ زبان و ادبیات پښتو
(فارسي) - ز - ه جلد سوم (وګورئ د ع۶۹
حواله ع۳) ص ص ۲۸۳ - ۲۸۴
حواله ع۴ د پښتو کتابښود حبیب الله رفیع
(وګورئ د ع۶۹ حواله ع۴) ص ۱۲۲ سیریل ۶۲۹
حواله ع۵: پښتو پانګه، حبیب الله رفیع
(وګورئ د ع۶۹ حواله ع۵ لومړی ټوک) ص
۲۲۴ سیریل ۳۵۷

۷۵ ۱۰ر اپریل ۱۹۰۵ء د لیفټیننټ ګورنر له طرفه
په یوه غرمنۍ کښې شمس العلماء قاضي میراحمد شاه
رضواني ته دعوت ورکول.
حواله: دعوت نامه موجوده ده.

۷۶ ۲ر اګست ۱۹۰۵ء د نصاب د تیارۍ د پاره د
جوړې شوې کمیټۍ کښې د یو ممبر په توګه
نامزد کېدل.
حواله: Ts ، T ۱۱

۷۷ ۱۰ر فروري ۱۹۰۶ء د قاضي صاحب په عرفیت کرایم
یانې د شمس العلماء مولوي ضیاء الدین خان
بهادر د ټیس دهلي دا "د قاضي صاحب فرسټ
ریډر اینډ اکسرسائز بک مي وکتلو او ستائنه
ئي وکړم".
حواله: د مولوي ضیاء الدین خط په نوم د
اي ټي ایچ من اسکوائر صدر د ټیکسټ بک ریویو

Scanned with CamScanner

کمیټي پنجاب لاهور۔ نقل موجود دے۔

۷۸ اپریل ۱۹۰۶ء د فرسټ، سکنډ او تهرډ مډل د پاره د عربۍ ریډر په نامه درې کتابونه هائي سکول د پاره عربیک هائي سکول بک او یو ایلیمنټري عربک ګرامر (کل پنځه کتابونه) مرتب کول او لیکل۔

حواله: د ټیکسټ بک درېوژن کمیټۍ د صدر اي تهاټیله مین د صدارت لاندې د رپورټ کاپي ص ۴۷۱، XVI، ۲XXX، XXXX او ۱۱۱XXXX

حواله ۲: Ts، 5T

۷۹ ۱۔ اکتوبر ۱۹۰۶ء پرنسپل سنټرل ټریننګ کالج لاهور د بلیو ټي رائټ ویناپچ قاضي میر احمد شاه رضواني صاحب د عربۍ فارسي او پښتو هیډ اګزامینر ډاکټر او د دهٔ کارکردګي د اعتماد وړ وه۔

حواله Ts، 6T

۸۰ ۲۰ د سمبر ۱۹۰۶ء د قاضي صاحب ترقي کړيږه ۱۰۰ روپۍ نه کړيږه ۱۲۰ روپو ته وشوه۔
سرکاري فائل محکمه تعلیم ۱۹۰۷ ریاډت ۱۱۱ (ف ګزټ) نوټیفیکیشن ۶۷۵-E نېټه ۱۸ فروري ۱۹۰۷۔ پروموشن۔

۸۱ - ۱۹ جون ۱۹۰۷ء : اي تهاټیله مین صدر پنجاب ټیکسټ بک کمیټي بیان چې قاضي صاحب په یوائي ځان باندې د عربي کورس له پاره د کتابونو یو سټ تیار کړو۔

حواله ۱: د پنجاب ټیکسټ بک رېوژن کمیټۍ د صدر اي تهاټیله مین د صدارت لاندې د رپورټ کاپي (روکوډئ د نمبر ۷۸ حواله او نمبر ۸۰)

حواله ۲: Ts، 5T

۸۲ ۱۹ جون ۱۹۰۷ قاضي صیب په عربۍ، فارسۍ، اردو او پنجابي ژبو کښې د وسیع مطالعې په وجه د کمیټۍ په عمومي کار کړدګۍ کښې خصوصي ارزښت حاصل دی۔

حواله ۱ (د نمبر ۸۱ حواله ۱)

حواله ۲ (د نمبر ۸۱ حواله ۲)

۸۳ - ۱۲ نومبر ۱۹۰۷ء چیف کمشنر پېښور په دربار کښې قاضي صاحب ته د شرکت دعوت ورکول۔

حواله: د چیف کمشنر این ډبلیو ایف پي د دفترنه د قاضي صاحب په نوم د عبدالله خط

۸۴ ۱۹۰۸ء "اسلام کے بنیادی اُصول" نومې اردو کتاب لیکل او چاپول۔

حواله: شخصیات سرحد مرتبه محمد شفیع صابر، بار اول، سن اشاعت نهٔ لري ص ۸۹۵، ۸۹۶

۸۵ ۱۹۰۸ء د پښتو ګرامر اردو اشاعت سوم چاپ کول۔

حواله: کتاب موجود دے پورے لیکلي دي:
"پښتو ګرامر" یعني قواعد صرف و نحو زبان افغاني منظور کرده پنجاب ټیکسټ بک کمیټي ۱۳۲۶ھ ۱۹۰۸ء مطبع مفید عام لاهور میں چھپی، شائع کنندګان رائے صاحب ایم ګلاب سنګه اینډ سنز قیمت ۱۲ آنې

Scanned with CamScanner

۸۶ - ۲۱ مارچ ۱۹۰۸ء موسیٰ خان تحصیلدار
نوښار وینا « د قاضي صیب په شان
عالم نه اکبرپوره کښې شته او نه به
پیدا شي .

حواله T.Ts ۱۹

۸۷ - ۲۸ ستمبر ۱۹۰۸ء ایچ ټي نالټن پرنسپل
سنټرل ټریننګ کالج لاهور له طرفه دده د اعلیٰ
او ارفع خدماتو مننه او اعتراف کول

حواله T، Ts ۲۱

۸۸ - ۱۶ اکتوبر ۱۹۰۸ء سر شاهد علي خان ته
د جج په حیثیت تقرر که باندې هغه
ته د مبارکۍ په ځواب کښې د شاهد علي خان
دده مننه کول .

حواله : د قاضي صیب په نوم د موصوف
خط موجود دے .

۸۹ - ۲۴ جنوري ۱۹۰۹ء میرعالم شاه دیونیو
افیسر نوښار له طرفه دده د اکبرپوره
په محل مفتی کښې د لسوزرو روپو د جایداد
تصدیق کول -

حواله T، Ts ۲۰

۹۰ - ۱۰ مارچ ۱۹۰۹ دده د تره زوی حاجی منیر شاه
په مړک کلي ته راتلل .

حواله : ذاتي ډایري .

۹۱ - ۱۸ مارچ ۱۹۰۹ء د چیف کمشنر پېښور په دربار
کښې دهٔ ته د شرکت دعوت ورکول .

حواله د چیف کمشنر این ډبلیو ایف پي د دفتر
نه دهٔ په نوم د خان عبد الله خط موجود دے .

۹۲ - ۳ جون ۱۹۰۹ء دهٔ ته د ټیکسټ بک کمیټي د
سروس د وخت د ۱۵۰ روپو ماهوار هزیریم
منظوري راتلل .

حواله ۱ : خط ۱۳۶ نیټه ۳ جون ۱۹۰۹ء چیف
سکرټري نه ګورنمنټ پنجاب د ایریکټر پبلک
انسټرکشن پنجاب ته - بیا د پبلک انسټرکشن
پنجاب نه په خط ۴۵۵۳ نیټه ۱۹ جون ۱۹۰۹ء
باندې پرنسپل ټریننګ کالج لاهور نه قاضي
صیب ته انفارمیشن د پاره اولیږلے شو .

حواله ۲ : T، Ts ۲۳

۹۳ - ۲۲ مارچ ۱۹۱۰ء قاضي صاحب د عربۍ د کتابونو
سیټ تیار کړے وُ ولې دده نوم پرې نهٔ وُ - دهٔ
درخواست وکړو چې دهٔ نوم دې شائع شي
دے په دقم نهٔ کلیم (Claim) کوی .

حواله : خط نمبر ۲۵۰۷ نیټه ۲۲ مارچ ۱۹۱۰ء
له طرفه د سیکرټري پنجاب ټیکسټ بک کمیټي
لاهور نه قاضي میراحمد شاه رضواني شمس العلماء
لاهور ته په دې کښې لیک دے چې ستا نوم به
په کتابونو باندې په حیثیت د مصنف راشي -

۹۴ - ۳۰ جنوري ۱۹۱۱ء ایچ سي رابسن لفټیننټ
او کم ګورکها رائیفل کوټه بلوچستان وینا
شمس العلماء قاضي میراحمد شاه ماته شپږ
هفتې پښتو وښودله - دهٔ سره زده کړه کښې

Scanned with CamScanner

سرے ډېر خوند محسوسوي -

حواله ع۱ T.Ts ۱۲

حواله ع۲ د رابسن خط موجود دے

۹۵- ۱۹۱۱ فارسي گرامر جدید و سیکنډري مډل
کلاسونو د پاره تصنیف کول.

حواله د ټولو پوهانو رائے په دې گرامر باندې
۴ دسمبر نه ۱۴ دسمبر پورې لیکلے شوې وه په
دې وجه وټلے شوچې گرامر به هم په ۱۹۱۱
کښې لیکلے شوے وي - وګورئ نمبر ۹۶، ۹۷، ۹۸،
۹۹، ۱۰۰ او ۱۰۲

۹۶ ۴ دسمبر ۱۹۱۱ء په فارسی گرامر مولفه
رضواني باندې د سوهن لال بي اے - بي ټي
انګلش ماسټر سنټرل ټرېننګ کالج لاهور
رائے "د گرامر د سلیبس مطابق لیکلو کښې
مصنف ډېر زیات زیار کالے دے - کومه طریقه
چې اختیار کړې شوې ده صفه بالکل درست ده"

حواله ع۱ خط موجود دے

حواله ع۲ خط په
Opinion on the new persian Grammer"
ONPG کښې شائع دے ردې نه پس به دا صرف
لیکلے شي -

۹۷ ۵، دسمبر ۱۹۱۱ء پۀ فارسی گرایمر مولفه
رضواني باندے د غلام محی الدین بی اے
بی ټی فرسټ انګلش ماسټر سنټرل ټرېننګ
کالج لاهور رائے" داد عوامو د مطالعې
دیرینه ارزو پوره کوي د دے نه مخکښې
گرامرې په ترتیب کښې بې ترتیبه او انګریزي گرامر سره نامواني
وو. دې گرامر دا نوقصاني خامه لرې کړي دی" حواله ع۱
دغلام محی الدین خط موجود دے

حواله ع۲ ONPG کښې دا خط شایع
شوے دے

۹۸ ۶، دسمبر ۱۹۱۱ء په فارسي گرایمر
مولفه رضواني باندے د محمد عبدالعلي
بی اے سیکنډ سائنس ماسټر سنټرل ټرېننګ
کالج لاهور رائے "د دې گرامر نه مخکښې د
خلقو دا خیال وو چې د عربۍ او فارسی گرایمر
د انګریزی په طرز نشي لیکلی کیدے. ولے
قاضي صيب د خپل گرایمر لیکلو سره دا خبره
بېخي غلطه او باطله ثابته کړه."

حواله ع۱ د محمد عبدالعلي خط موجود دے.

حواله ع۲ ONPG کښې دا خط شایع شوے

۹۹ ۶، دسمبر ۱۹۱۱ء پۀ فارسي گرایمر مؤلفه
رضواني باندے د ایچ - ایم - نور بخش
ایم اے سنټرل ماډل سکول لاهور رائے "مصنف
د دې عرق ریزۍ نه کاراخیسی دے -
مضامین او مثالونه یې د طلباء مشکل
اسانوي امید دے چې د سیکنډری سکولونو
د ماډل کلاسونو د پاره به ډېر مفید وي."

حواله ع۱ ایچ ایم نور بخش خط موجود
دے

حواله ع۲ ONPG کښې دا خط شایع

Scanned with CamScanner

شوي دي.

۱۰۰ـ ۱۰ دسمبر ۱۹۱۱ء په فارسي ګرامر مولفه
رضواني بانډے د نذر محمد بي اے اسسټنټ
انسپکټر آف سکولز لاهور ډویژن رائے
"ډاګرامر ورنیکلر طلباؤ دپاره یوه هیره
ده کوم چې دوی ضرور حاصل کړی
ما دلسے مفید هدایاتی کتاب نه دے
کتلے."

حواله: ۱ د نذر محمد بی۔ اے خط
موجود دے.

حواله: ۲ ONPG کښې دا خط شائع
شوے دے.

۱۰۱ـ ۱۲ر دسمبر ۱۹۱۱ء ډکنګ امپرر
لاهور دربار کښې درسم تاجپوشۍ
په موقع ټاون هال ګارډن لاهور کښې
د آر۔ اے همفرے ډپټی کمشنر لاهور
له طرفه قاضي صیب ته هم دعوت ورکول.

حواله: دعوت نامه موجوده ده.

۱۰۲ـ ۱۴ دسمبر ۱۹۱۱ء په فارسي ګرامر
مولفه رضوانی بانډے د چرنجیت لال
اسسټنټ سپرنټنډنټ سنټرل ټرېنینګ
کالج لاهور رائے "ګرامر کښې یو منطقي
اوقدرتي لار خپله شوې ده کوم چې
ګرامر نه یو سائنس جوړوي داد خپل
نوعیت واحد کتاب دے۔"

حواله ۱ د چرنجیت لال خط موجود دے

حواله ۲ ONPG داخط شائع شوے دے.

۱۰۳ـ ۱۲ مارچ ۱۹۱۲ء "پهلو مها مهوپدیایا"
او "شمس العلماء" خطاب لرونکو ته سل روپۍ
سالانه پنشن منظوري دا تللی چې ورکښې
میراحمد شاه صاحب هم شامل و۔

حواله نوټیفیکشن ۴۳۶۔ اي۔ بي نېټه
کلکته ۱۲ مارچ ۱۹۱۲ء محکمه خارجه

۱۰۴ـ ۱ مئی ۱۹۱۲ قاضي صاحب ته په فارسي ګرامر برائے
مډل کلاسز نیکلو یاندې ۵۰۰ روپۍ هنر پریم
منظوري دا تلل۔

حواله ۱ خط نمبر ۲۵۲۰ نېټه ۱۱ر مئی ۱۹۱۲ء
له طرفه د انرېبل مسټر جے سي ګوډلے ایم اے
ډائرېکټر آف پبلک انسټرکشن پنجاب لاهور
نه سیکرټري پنجاب ټیکسټ بک کمیټی ته ۵۰۰۰
بیا د انډورسمنټ نمبر ۶۴۳ نېټه ۱۸ مئی ۱۹۱۲ء
لاندي قاضي صاحب ته لیږل۔

حواله ۲ T3 T7 15

۱۰۵ـ ۲۴ جون ۱۹۱۲ء د قاضی صیب
هنر پریم وصولول

حواله: خط ۶۱ له طرفه سیکرټري
پنجاب ټیکسټ بک کمیټی مسټر ایچ ټي
نالهن لاهور نېټه ۲۴ جون ۱۹۱۲ء نه
قاضي میراحمد شاه ته

۱۰۶ـ ۱۵ر اکتوبر ۱۹۱۲ء د قاضي صیب
فارسي ګرامر میسرز ګلاب سنګھ اینډ

Scanned with CamScanner

سنز له طرفه شايع کيدل اوده آني
يولس پاڅې باندې خرڅېدل
حواله: سرکلر ۳۸ له طرفه دانريبل
مسترجي - سي ګوډلې نېټه لاهور ۱۵
اکتوبر ۱۹۱۲ء

۱۰۷- ۱۹۱۲ء په لاهور کښې "يادګار باستان در تاريخ قديم افغان و افغانستان" (فارسي) په دوو حصو مشتمل کتاب ليکل - حواله: د کتاب وحطي نسخې فوټو کاپي موجوده ده -

۱۰۸- ۲۱ فروري ۱۹۱۳ء د شمس العلمائي پنشن نه په ۱۳۵ روپۍ باندې د احون پنجو بابا د دربار بېروني دروازه تعميرول او هم دې پنشن نه په ۱۲۷ روپۍ باندې دخپل ابا و اجداد قبرونه پخول -

حواله: ذاتي ډائري درضواني

۱۰۹- ۱ جون ۱۹۱۵ء د پنجاب يونيورسټۍ د اورينټل فيکلټۍ يو اضافي ممبر په توګه نامزدګي کېدل
حواله T s ۹ T

۱۱۰- ۱ جولائي ۱۹۱۵ء: په نوکرۍ کښې ديوکال دتوسيع ورومبنۍ منظوري تر ۱ جولائي ۱۹۱۶ پورې راتلل -

حواله: خط د چرن جيت لال پرنسپل ټرېننګ کالج (لاځلپور)، نه داټرېکټر آف پبلک انسټرکشن پنجاب ته شاخط ۸۱۵ جي ايس نېټه ۹ ستمبر ۱۹۱۹ مطابق زۀ دا وايم چې قاضي صاحب دوهم ايکټ سي - ايس - ار پروژون لاندې په ۳۰ جون ۱۹۲۰ء کښې ريټائرکېدونکے دے - دا به دده پنځم ايکسټنشن مکمل شي - هغه نور پاتې کېدل نۀ غواړي - ولې زما خواهش دے چې يو بل ايکسټنشن دې ورته ورکړے شي ، ځکه چې دهغه هومره قابل ، تجربه کار ، ذهين او فطين خلق ډېر کم دي - ترجون ۱۹۲۱ پورې دې دده خدمات په کار راشي - بيا دې ريټائر کړے شي" په دې وجه دا وېلے شو چې دا دده ورومبنۍ توسيع ده -

۱۱۱- ۱۵ جنوري ۱۹۱۶ء قاضي صاحب ته د سرصاحبزاده عبدالقيوم خان خط - په دې کښې قاضي صاحب ته داخواست شوے کړے دے چې اسلاميه کالج پېښور کښې مولوي فاضل او منشي فاضل کلاسونو پرانستو کښې ورسره امداد وکړي -
حواله: خط موجود دے .

۱۱۲- ۱ جولائي ۱۹۱۶ء دے نېټې نه په سروس کښې ديوبل کال ايکسټنشن دويمه منظوري راتلل
حواله وکورئ د نمبر ۱۱۰ حواله

۱۱۳- مارچ ۱۹۱۷ء په "رفيق التعليم" (اردو) کښې د قاضي صاحب مضمون "يادګار پاستان" شائع کېدل -

حواله: اخبار "رفيق التعلم" اردو بابت ماه مارچ ۱۹۱۷ء

۱۱۴- ۱ جولائي ۱۹۱۷ء دې نېټې نه په سروس کښې ديوبل کال ايکسټنشن درېمه منظوري راتلل

حواله: وکورټۍ د نمبر ۱۱۰ حواله

۱۱۵- ۱، جولائي ۱۹۱۸ء دې نېټې نه په سروس کښې د
یو بل کال ایکسټنشن څلورمه منظوري دا تلل
حواله وکورټۍ د نمبر ۱۱۰ حواله

۱۱۶- ۶، مارچ ۱۹۱۹ء د ایچ ټي نالټن انسپکټر آف
سکولز امباله ډویژن له طرفه د قاضي صاحب
دهر اړخیزې کامیابۍ خواهش -
حواله خط موجود دے

۱۱۷- ۱۰، جون ۱۹۱۹ء قاضي صاحب ما ته اردو ښودلو کښې
ډېر محنت کړے دے یورپي افسرانو سره سرکاري
دیاس کښې په سفرونو هم تلے دے په ماضي کښې
ئې کالج له ښه کار کړے دے - (د سنټرل ټریننګ
کالج لاهور یو ملازم چې نوم ئې ما ونه لوستے شو)
حواله خط موجود دے -

۱۱۸- ۱، جولائي ۱۹۱۹ء د دې نېټې نه په سروس کښې د
یو بل کال د ایکسټنشن پنځمه منظوري دا تلل
حواله: وکورټۍ د نمبر ۱۱۰ حواله

۱۱۹- ۲۹، ستمبر ۱۹۱۹ء چرنجیت لال پرنسپل ټریننګ
کالج لائل پور وینا "قاضي صاحب په جون ۱۹۲۰
کښې ریټائر کېدونکے دے ځکه چې عمر له ئې شپېته
کاله شي او دا به په سروس کښې پنځم ایکسټنشن
برابر کړي. خود کالج ښېګړه په دې کښې ده چې یو
بل ایکسټنشن هم ورته ورکړے شي یعني جون ۱۹۲۱ء
پورې ځکه چې دده هومره اهلیت او قابلیت
په محکمه کښې ډېر کم لیدلے شي او لا جسماني لحاظ
سره هم مضبوط دے -
حواله: وکورټۍ د نمبر ۱۱۰ حواله... خط موجود دے

۱۲۰- ۳۰ جنوري ۱۹۲۰ء وائس پرنسپل سنټرل
ټریننګ کالج لاهور بیان چې قاضي صاحب او دوۀ
کالو راسې پېژنم هغه د پاره ښۀ احترام لرم -
د ټیکټ بک کمیټۍ څو کاله ممبر وو - ډېر خوشحاله
یم چې د داسې قسمه هستۍ توصیف تحریروم -
پارکنسن وائیس پرنسپل سنټرل ټریننګ کالج لاهور
حواله: خط موجود دے -

۱۲۱- آخر جون ۱۹۲۰ء آخر په خپله خوښه پنشني
شو او لائل پور نه خپل پلرني کلي اکبرپورې
ته راغلو - په دې توګه د محکمه تعلیم دا بې تاجه
بادشاه د چا خبره به چې حرف اخروه د دوه
دېرش کاله سروس نه پس کورته راغلو -

۱۲۲- ۳۰ دسمبر ۱۹۳۴ء په خپل کلي اکبرپوره کښې
په ۲۲ رمضان ۱۳۵۳ پاندې سحر لس بجې انتقال
کېدل او په دې طریقه د علم و ادب دا لوړ
دبستان د فرهنګ شمع د پښتنو د سربلندۍ
او د پښتنو د سرفرازۍ لار ښود همېشه همېشه له
مونږه جدا کېدل -
حواله ۱ رضواني - خیال بخاري (او وکورټۍ د نمبر ۱۱۰ حواله)
حواله ۲ د رضواني د قبر د پرلیک د کوم فوټوګراف
چې ما اخستے دے ڈاکټر سهیل)

تولنه او ترتیب : میاں سہیل اِنشاء

# شجره نسب عالیه حضرت سید میر عبدالرحمن بخاري نقشبندیہ

سید قاضي حافظ میر عبدالله بخاريؒ

د میا عنصر قریشيؒ خور د دوي بي بي وه

سید میر میا عزیزالدین بخاريؒ

د دهٔ اولاد په بخارا کښي پاتي او مېشته شو

سید قاضي حافظ میر حافظ غلام محي الدین بخاريؒ

د شینکي علاقه چهچه دیا سین خان خور د دوي بي بي وه

سید میر شرف الدین بخاريؒ

دے په شهید بابا باندي مشهور دے

سید میر غیاث الدین بخاريؒ

سید میر حضرت جيؒ — سید میر محبوب جيؒ — سید قاضي میر صاحب زاده جيؒ — سید میر بادشاه جي مجذوبؒ — سید میر صاحب جيؒ — سید میر احمد جيؒ

سید میر فضل احمدؒ — شمس العلماء سید قاضي میر احمد شاه رضواني — سید میر سلطان احمد

سید میر عبدالسلام (میرات) — سید میر عبدالحئ — سید میر اعظم شاه بیدل — سید میر فضل حق (میرات) — سید میر عبدالحق (میرات)

سید میر عبدالقیوم

سید علي اصغر شاه (میرات) — سید علي حیدر شاه (میرات) — سید علي اکبر شاه

سید میر جهان زیب شاه — سید میر راشد شاه

میر رضوان شاه — میر زمان شاه (میرات) — میر عبدالحمید (میرات) ، میر خادم شاه — میر جعفر شاه — میر مسلم شاه اول — میر مسلم شاه دوم — میر زاهد شاه — میر هدایت شاه

جهانګیر شاه — عالمګیر شاه — معظم شاه — ناصر شاه — میر اضفر ریاض شاه — میر بلال شاه — میر اسد علي شاه — سلیمان شاه — نعمان شاه

میر عابد شاه — میر مجاهد شاه — میر محمد احمد شاه

نوټ : ما سره د دې خاندان بشپړه شجره موجوده ده چې د هغې نه د خصوصي نمبر دپاره صرف د رضواني صاحب شجره چوڼ کړه -
ډاکټر میا سهیل انشاء

Scanned with CamScanner

میراحمد شاه رضواني

## د شکرستان افغاني نه یوه بېلګه

# زهرمهره

زهرمهره په دري قسمه ده - نو په واړو کښې اعلیٰ خطائي وي د تبت او د ختن په غرونو کښې یو قسم غرڅه ده چې په سر د پر لوئے لوے ویښته لري - او تل ماران خوري او پرې مستېږي په فارسۍ ژبه هغه ته مار خوره وائي - چرته چې د مار په سوړه راشي نو خوله پرې کېږدي او مار ترې راوګاږدي - او له واره ئې تېر کړي - سرئې په خوله کښې چیچي او له خوشحالۍ دانګي چړې چې خوک مار پرې غالب راشي - او دوئي چیچي نو او ښې د دې له سترګو روانې شي - او له زهرو له جوش نه ښنې شنې سبلخناکي او یوه لکه ویلي شوي غوړي په مخ ئې بهېږي - او هغو په شان د او د بوز ویښتو سره ئې غټه شي - دغه څېر اصلي زهرمهره ده -


## اعلان

د میاشتنۍ "پښتو" به د نوي وطن پاکستان د ازادۍ د زرین جشن (ګولډن جوبلي) د نمانځلو په موقع خپل خصوصي نمبر ؤباسي - د تحریک ازادۍ او تحریک پاکستان د نومورو غازیانو او شخصیتونو د کارنامو نه بهوا به په دې نمبر کښې ښکلې تحقیقي مقالې وي او د ځنې نادرو دستاویزونو او د شخصیاتو عکسونه به هم شامل شي ښاغلیو لیکونکو ته خواست دے چې خپل لیکونه صفا د کاغذ په یو مخ او که کېدے شوه په نوې املا کښې دې لیک کړي -

همیش خلیل

# تحفة الاولیاء

شمس العلماء قاضي میر احمد شاه رضواني مرحوم د خپل وخت یو عالم او فاضل انسان و، په عربۍ او فارسي ژبو ښه پوهېده. نږدې د پرشو پورې کتابونه ئې لیکلي دي. او خپلې زمانې د پښتو ژبې منلی شوی شاعر او ادیب و. د پښتو شعرونو د یو دیوان نه علاوه نور هم د پښتو څنې آثار لري. لکه "بهارستانِ افغاني" او "شکوستانِ افغاني" وغیره. حقه خو داده چې دی یو عالم په حیثیت ئې د علم و ادب ښه په زړه پورې خدمت کړی دی. او لکه د عربۍ او فارسي ژبو په پښتو ژبه ئې هم حق دی بې حسابه او بیا په تېره تېره په درسي نصاب کښې د پښتو شاملول د موصوف هغه خدمت دی چې د هېرولو نه دی.

د قاضي صاحب په تالیفاتو کښې یو "تحفة الاولیاء" هم نومېږي. اګر که څنې کتابونه ئې اوس نه پیدا کېږي. ولې هغه کتابونه چې د زمانې د ګرد ودي له لاسه په امان پاتې شوي دي. هغو کښې یو "تحفة الاولیاء" هم دی دا کتاب په فارسي ژبه دی. او د هجري کال ۱۳۲۱ د ربیع الثاني په اوومه ورځ لاهور (پنجاب) کښې تکمیل شوی دی او هم په دغه کال د فقیر محمد خان دراني په کوشش چاپ شوی دی.

"تحفة الاولیاء" د حضرت سید عبد الوهاب اخون پنجو او څنو نورو بزرګانو په حالاتو مشتمل دی. د کتاب په تندي د حافظ شیرازي دا شعر لیک دی

آنچه زر میشود از خاصیتش قلب سیاه
کیمیا ئیست که در حضرتِ درویشان است

خود حافظ شیرازي په دیوان کښې د شعر حقیقت داسې دی.

آنچه زر میشود از پرتوِ آن قلبِ سیاه
کیمیا ئیست که در صحبتِ درویشان است

د کتاب د تالیف سبب دا ښائي چې څه وخت په کال ۱۳۰۳ھ کښې مؤلف په اجمیر شریف کښې د حضرت خواجه بزرګوار سلطان الهند شیخ معین الدین

Scanned with CamScanner

چشتي قدس سرّه د مزار سره معتکف وُ. او هم په دغه کال ئې په عربۍ او فارسۍ ژبو مشتمل يو کتاب د سلطان الهند په مناقبو ليکلے وُ. يوه شپه ئې حضرت اخون پنجوؒ په خوب کښې وليدو چې د خپل مزار ا نګڼ کښې د نورو درېو کسانو سره ناست وو، ماته متوجه شول او په ډېره مينه ئې په پښتو کښې له ما پوښتنه وکړه.

" د خواجه صاحب اجمير مناقب ليکونکے هغه مولوي خو ته نه ئې؟" ما عرض وکړو.

"هو! هغه زهٔ يم". بيا ئې وفرمائيل "ډېره ښهٔ ده." خو ما يو ځل بيا عرض وکړو.

"بنده د اکبرپورې دے. او کهٔ اجازه وي، هغه کتاب به ستاسو په خدمت کښې وړاندې کړم."

د خبرو اترو په دغه دوران کښې د لنګر دوېش اواز وشو. بيا دوي پاسېدل. ما پوښتنه وکړه، چې دا څوک وو؟ جواب راکړے شو، چې حضرت اخون پنجوؒ وُ. او بيا څهٔ وخت چې له خوبه بېدار شوم، نو حېران شوم چې د دوئ آخر د خواجه صاحبؒ سره څهٔ نسبت دے؟ ولې وروستو بيا د خپل پلار نه راته معلومه شوه، چې حضرت اخون پنجوؒ په يو سلسله[1] واسطه د خواجه صاحب مُريد دے. بيا ما دا هم اورېدلي وو چې خواجه صاحب د اجمير په چا مهربانه شي، نو "برخه" ورکوي. ځکه مې اراده وکړه، چې کهٔ چرته "برخه" په لاس را غله. تصديق به ئې د مناقبو په کتاب کښې وکړم. او لله چې کرامت د اولياوُ حق دے. هغه "برخه" ماته د خواجه صاحبؒ د مريد حضرت اخون پنجوؒ له مزاره په لاس را غله. او لا تر اوسه چې پنځلس کلونه تېر شوي دي. ماته را رسېږي. خو د برخې راکولو په وخت ئې راته فرمائيلي وو. "څهٔ شکرانه به ورکول غواړې."

ما عرض وکړو. "څهٔ چې زما توفيق وي."

بيا مې عهد وکړو چې کهٔ فرصت وُ، نو د دوئ يعني حضرت اخون پنجوؒ مناقب به هم وليکم، چې له خادمه يادګار پاتې شي.

بيا ليکي چې اګر کهٔ د حضرت اخون پنجوؒ مناقب د اکبرپورې د شېخانو مورث مياعلي په فارسي نثر ليکلي وو، چې په کال ۱۱۹۸ه کښې دا مناقب د اکبرپورې خاکي نومې شاعر د شېخ عبدالرحيم د زوے شېخ ابو سعيد په خواهش په فارسي ژبه منظوم کړهٔ. او دغه شان هم دغه منظوم فارسي مناقب وروستو بيا ميا بادشاه په پښتو نظم کړهٔ. چې اوس هم د خلقو سره محفوظ دي. ولې وړاندې ذکر شوي د مياعلي منثور او خاکي منظوم مناقب ناياب دي. وړاندې ليکي.

---

[1] خو په تحفة الاولياء کښې دا واسطه د يارلسمه ده. وګورئ ص. ۴ او ۵.

چونکې د میا بادشاه پښتو منظوم مناقب ځنې قابل ذکر حالات نهٔ لري - او ځنو مطالب هم مشکوک معلومېږي - ځکه مې د خلقو د صحیح راهنمایۍ او فائدې دپاره دا کتاب (تحفة الاولیاء) ولیکلو - او د خپل پلار نه مې علاوه د ملا محمد غفران اخونزاده صاحب، میا فضل قادر صاحب اخون خېل د ترنګزو او جناب شیخ عبدالغفور حب منا المعروف په صاحب د سوات نه هم استفاده وکړه.

قاضي عبدالحلیم اثر افغاني مرحوم په خپل تالیف "روحاني رابطه او روحاني ترون"[۲] کښې د سید عبدالوهاب رح د لقب "اخون پنجو" په حقله د قاضي میر احمد شاه رضواني په حواله کوم روایت بیان کړے دے هغهٔ سره په دغه ضمن کښې اختلاف ځکه کېدے شي چې دا خبره رضواني مرحوم د سرمست له خولې بیان کړېده - الفاظ دادي :-

" سرمست تاریکی که پیر این مردم بود - چون ازین معامله خبر یافت مخالفت با آنحضرت پیدا کرد و به سبب حقارت ایشان را پنجو مے گفت - یعنی آن کس که تعلیم پنج بنائے اسلام مے کند - و دیگرے چیزے نمیداند - اخوند صاحب چون شنید - فرمود که ازین چه بهتر خواهد بود که لقب من معلم پنج بنائے اسلام باشد - و دعا کرد که حق تعالی این لقب بر من تا قیامت قائم بدارد -"

(تحفة الاولیاء - ص ۱۵)

قاضي عبدالحلیم اثر د سید الوهاب رح د نسبتي نوم "اخون پنجو" متعلق د محمد ابن جزري الشافعي د عربي تالیف "حصن حصین" په آخر کښې د غلام صدیق د ۱۲۸۳ھ د لاس لیکلي شجرهٔ نسب په حواله د دغه لقب وجه تسمیه دا بیان کړېده چې چونکې سید عبدالوهاب رح د "سلطانانِ پنجم" د یو سلطان ارغش (ارغوش) په څلورم پشت کښې و، په دغه وجه په ئې ورته "اخون پنجو" وئیل کړے.

قاضي عبدالحلیم اثر مرحوم په ځنو نورو هم ډېرو خبرو کښې د قاضي میر احمد شاه رضواني سره اختلاف لري - او خپل دغه اختلافات ئې د "سلوک الغزات" او "آئینه تصوف" په حوالو ډېر په تفصیل سره بیان کړي دي - خو هر کله چې دغه کتابونه ماته په لاس رانهٔ غله - ځکه نو زهٔ دا نشم وئیلے چې دغو اختلافاتو کښې به هم لکه د سرمست له خولې د اخون پنجو د لقب روایت (لکه چې وړاندې ئې ذکر شوے دے) د سرمست په ځائے د قاضي میر احمد رضواني له خوا بیان شوے وي او کهٔ نه

---

۱ ص - ۳۲۱ ۲ روحاني رابطه - روحاني ترون صفحات ۳۷۲ تا ۳۷۴

لیک: محمد همایون هما

# د میر احمد شاه رضواني نثر

پوهان وايي چې د دنیا په ډېرو ژبو کښې د ادب شروعات د شاعرۍ نه شوي دي او نثر ورو ستو لیکلے شوے دے. د اولیت له مخه که هر څو شاعري ته د همېشه نه یو مرکزي حیثیت حاصل دے او نثري تخلیقاتو څه موده پس د غه مقام بیاموندلے دے خو زه د لته په دې بحث یعني د برتوتیه ځائے چې د یوې ژبې د ترقۍ د پاره شاعري ضروري ده او که نثر اهم. تبغ په تبغه دا وئیل غواړم چې د شاعرۍ په مقابله کښې نثر په خپله لمنه کښې د یو قام د ژوند ژواک کنې ارخونه رانغښتي وي او د نثري تخلیقاتو د پاره یو مرتکز ذهن، یو کوټلے فکر او ښکاره مقصد ضروري وي او دا هله ممکن شي چې کله یو قام په تهذیبي ډګر د یو اوږد سفر نه پس د علم او شعور روښانه منزلونو ته را نزدے شي.

دا پښتو د ورومبي نثري اثر د سالو وړمه چې د ابو محمد هاشم سرواني (۲۲۳ھ - ۲۹۷ھ) تخلیق یادېږي په درېمه هجري پېړۍ کښې لیکلے شوے دے په دغې حساب ترديې وخته د پښتو په نثر کم او زیات دولس پېړۍ اوړېدلې ښکاري. د یوې ژبې د نثري ادب د پاره دا یو ښه اوږد وخت دے خو د پښتو د نثر د دغې قدامت باوجود زمونږ د ژبې د نثر پنګه دومره درنه او کوټلې نه ده څومره چې د خپل زوړوالي په اعتبار پکار ده. په پښتو کښې د نثر د کمي په باب له زمونږ د پوهانو خیال دے چې:

> "د هرې ژبې پر مخ تګ او لوړتیا د حکومتونو پاملرنه او ولسي مرسته او داسې نورې کومکونه غواړي مګر له پښتو ژبې سره په تېرو زمانو کښې د غه یو کومک هم نه دے پاتې شوے."[26]

په پښتو کښې د نثري ادب د کمې د غه ایکي
يوه وجه نه ده په دغې لار کښې نور هم بې شمېره
خزانې بیا موندے شي خو د هغې لټون يوه
جدا موضوع ده -

په پښتو کښې د هغې د نثري ادب د پېړو
زوړ تاریخ با وجود د دې د وړومبي معلوم نثر
لیکونکي بایزید انصاري (۹۲۵هـ - ۹۸۶هـ) دَ
نثري اثر خیر البیان او د هغې په جواب کښې دَ
اخون درویزه (۹۴۰هـ - ۱۰۴۶هـ) لیکلي شوي اثر د
مخزن او د دغې دواړو فاضلانو د عقیدت مندو دَ
خورو ورو مذهبي رسالو نه پرته د نولسمې عیسوي
پېړۍ تر آخره کله نه چې د پښتو د روښانه نثري
دور ابتداء کیږي مونږ ته په خپله نثري پنګه
کښې څه کوم منشور آثار مخې ته راځي په هغوي
کښې د خټکو د کورنۍ د رانه علمي او تاریخي لیکونه
د محمد هوتک (۱۰۸۲هـ - ؟) انقلابي
تذکره پټه خزانه د کمو پښتو عالمانو مذهبي
رسالې او د قرآن پاک تفسیرونه د فارسۍ او دَ
عربۍ د څنې علمي کتابونو ترجمې د پیر معظم شاه
( ؟ ) تالیف تواریخ حافظ رحمت خاني
او د روهیل کهنډ د پښتنو نوابانو لغاتونه؛
(چې زمونږ تحقیق کارانو په خپلو تذکرو کښې په
نثري ذیارونو کښې شمېرلي دي) د یاد ولو جوګه دي -

د پښتو په منثور ادب کښې د روښانه
دور ابتداء هم د هغې اثراتو لاندې شوې ده -

د کومو له مخه چې په اُردو کښې د نوي نثر بنیاد و له
ایښودے شوي وو - په کال ۱۸۵۷ء کښې دَ
آزادۍ په جنګ کښې د ماتې خوړو نه پس سرسیّد
احمد خان (۱۲۳۲هـ/۱۸۱۷ء - ۱۳۱۶هـ/۱۸۹۸ء) چې د خرد افروزي
او فکري روښانتیا کوم لیتکي بل کړه دغه په ادبي
تاریخ کښې "د سرسید تحریک" په نوم یادیږي دغې
تحریک اردو ادب د خیال پرستۍ د تیرونه رابهر
کړو او ادب په ورشو کانو د حقیقت پسندۍ
او د مقصدیت رنها کانې خورې شوې په شاعرۍ
کښې د روایتي موضوعاتو ځاے ژوندي مضامینو
بیا موندہ او په نثر کښې د داستان ګویۍ او دَ
ما بعد الطبیعاتي مسئلو او د هغې د بیان د پاره دَ
پُر تکلّفه لواړ او اړو پېچ انداز ـــ د
سرسید او د هغهٔ د ملګرو د مقصدي - علمي او
تاریخي لیکونو د پیشکش روان، ساده او سپځلي
اسلوب کښې بدل شو سرسیّد په خپله د انګریزي
ادب د حقیقت پسندۍ او د هغې د بیان د سادګۍ
لوے مبلّغ وُ او دا يې کوشش وُ چې اُردو ادب
هم په دغې انقلابي لارو روان کړي - اُردو په
برصغیر کښې د هشته قامونو ترمینځه د رابطې
دیوې اهمې وسیلې نه پرته د پښتنو کاونډي ژبه
هم وه او د دوي د اُردو خوانو سره د پېړو راسې
معاشرتي تهذیبي او ثقافتي تړون را روان وُ
کله چې پېرنګي په کال ۱۸۵۷ء کښې د خونړي
جنګ نه پس د برِّ اعظم کې واک اختیار تر لاسه

Scanned with CamScanner

کړو. نو بیا هغوي د خپل سیاسي تسلط د ټینګښت او
مضبوطیا د پاره د جدید تعلیم په لاره د پښتو په
ژبه او ادب هم اثر او غورځاوه او د غه رنګ په
هغو وختونو کښې د زماني په تېښتونو پوهه او د
وختونو په سیوري پېښتاوه رسید و شکي لیکوالو
دا ضروري وګڼله چې هغوي هم خپل ادب د حالاتو
په سمون، سم کړي، د پښتو دغې لیکوالو په اردو
کښې د سرسید تحریک د انقلابي اقداماتو، او د
انګرېزي ادب د اثراتو لاندې پښتو ادب او په
تېره تېره د پښتو نثر یو نوي اسلوب سره بلد
کړو. د دغې وختونو د سیمه‌ئیزو نثر لیکونکو په ډله
کښې مولوي احمد (۱۲۴۱ھ - ۱۳۰۱ھ) میا حبیب ګل
کاکاخېل (؟ — ۱۳۰۵ھ) میا نعمان الدین کاکاخېل
(۱۲۷۲ھ-۱۳۲۶ھ) میا عنوان الدین کاکاخېل (۱۲۶۰ھ/۱۸۴۴ء
۱۳۴۳ھ/۱۹۲۴ء) میا محمد یوسف کاکاخېل (۱۲۸۵ھ/۱۸۶۶ء — ؟)
منشي احمد جان (۱۳۰۰ھ/۱۸۸۲ء - ۱۳۷۱ھ/۱۹۵۱ء) او شمس العلماء
میر احمد شاه رضواني (۱۲۷۶ھ/۱۸۶۰ء - ۱۳۵۳ھ/۱۹۳۴ء) سرایستلي
لیکونکي دي. دا ټول نثر لیکونکي په تاریخي اعتبار
د یو ډېر فرق سره پرله پسې د پښتو د نثري ادب
د یو روښانه دور سره تړون لري او موږ ورته
په خپلو کښې هم عصر ویلی شو

میر احمد شاه رضواني د خپلې ډلې د ذکر شوي
ملګرو په رنګ په مشرقي ژبو پوهه یو عالم فاضل
بنیادم و. په انګرېزۍ ئې دومره لاس بر و چې
په ډېلي کښې به ئې پېرنګیانو ته پښتو ښودله[۳۰]
ددې نه موږ ښه په ډاډ دا رائې قائمولې شو چې
په انګرېزۍ کښې د ښه پوخ مهارت لرونکي په شان
میر احمد شاه رضواني به د انګرېزي ادب هم مطالعه
کړې وه، او د اشان هغه د خپل د فتر د عمومي
غوښتنو او د نوي رجحاناتو له مخه په ذکر شوي
پس منظري حالاتو د پښتو اسان، سوچه او
ساده نثر لیک ته متوجه شو.

میر احمد شاه رضواني په فارسۍ، عربۍ،
پښتو، اردو او انګرېزۍ کښې په ترتیب سره د
څلور پښتو، اووه د پرشو، لس او پنځو کتابو
لیکونکې بیانېږي چې په کښې د یو د پرشو آثارو
نمونه په ګوته کړي شوي دي او په دې معلومو
اثارو کښې تر اوسه هیله د شپږو او ووه کتابونو
درک لګېدلے دے[۳۱]

بهارستان افغاني او شکرستان افغاني د
میر احمد شاه رضواني د تدریسي مقاصدو د پاره
لیکلے شوي دوه درسي کتابونه دي چې په کښې هغه
د پښتو د پخوانو شاعرانو د کلام او د زوړ نثر د
نمونو سره په ساده او په با محاوره ژبه
کښې خپلې نثر ټوټې هم شاملې کړې دي. دغه
نثر ټوټې د رضواني د قلمکارۍ شاهکار نمونې دي
په بهارستان افغاني او په شکرستان افغاني کښې
د خپل طبعزاد نثر په ډاډ رضواني د پښتو جدید
نثر لیکونکو په ډله کښې یو ښکاره مقام لري. موږ
د رضواني د دغې طبعزاد لیکونو په رڼا کښې د هغه

د اسلوب او دلیک په خصوصیاتو د ځان پوهولو کوشش کوؤ -

بهارستانِ افغاني په وړومبي ځل په کال ۱۸۹۸ء کښې او دوېم ځل په کال ۱۹۵۶ء کښې چاپ شوے دے - په دې کتاب کښې د ستائیلي لیکونکي په مختلفو موضوعاتو څوارلس طبعزاد لیکونه راغلي دي چې تفصیل ئې په دې ډول دے -

"سپلمی او د طاوُس" په عنوان لیکونه' د دغې ښځینو نو په حقله په دلچسپ عمومي معلوماتو اړانه دي - "د سرو زرو مرغۍ" کښې د هندوستان د رواياتي ښکلا او د لکشۍ زړه پورې بيان دے - تاریخ احمد شاه دراني او چلګزیان تاریخ دے -

په وړومبي لیک کښې د جد افغانستان د باني احمد شاه دراني د ژوند حالات او د هغه د افغانستان په تخت د ناستې په حقله دلچسپ معلومات ورکړي شوي دي - د پښتنو ځېل په کتاب کښې د پښتانه ځېل عنوان ورکړے شوے دے ) یوه طنزیه ده - په دې لیک کښې د پښتنو د ښوارې ورځې د جهالت او د هغې د پاسه د دغې توازن نه د ځیلی تمام د ښځې تورې لوېږه یو اثري تصویر دے ) په دې لیک کښې که یو پله د رضواني د قلم جولانې د کتوده نو د بل سره چې هغه په کومه ژورتیا د پښتنو د نفسیاتو مطالعه او د هغوی د ژوند ژواک مشاهده وړاندې کړې ده - هغه ئې د ذهانت یو جدا ثبوت دے - سره کاپر

په چترال کښې د یوې پسمانده قبیلې د ژوند ژواک او د هغوي د تاریخ په حقله معلومات وړاندې کوي - د هزاره او قے" په افغانستان کښې د هزاره په نوم د یو قام د سادګۍ او کم عقلتیا ذکر دے - د بوډۍ غوا، هم د هزارو په حقله یوه لطیفه نما واقعه ده - د مصروباران یو دلچسپ معلوماتي لیک دے چې په کښې د ترنجبین نوم د یو توکي د بیا موندو طریقه ښودلې شوې ده -

"د پېښور ملک" کښې د پېښور د ښائست او د دې خطې خصوصیات بیان شوي دي - "ایلم او دوه سرے" د بونېر په علاقه کښې هم په دغې نوم د دوؤ غرونو سره تړلې د هغې ځاے د خلقو د لیونتوب ترحده د جذباتي تړون حال دے - "سلطان سکندر ذو القرنین" کښې د سکندر اعظم د شخصیت سره تړلې د افسانوي او تاريخي واقعاتو د بیان سره د هغه د مړانې او د فتوحاتو ذکر دے - احوال د سیّد باچا" کښې د سیّد شاه احمد بریلوي" د ژوند او د کارونو په حقله خبرې شوي دي -

شکرستانِ افغاني په کال ۱۹۰۵ء کښې چاپ شوے د رضواني دوېم نثري اثر دے - په دې کتاب کښې هم د ستائیلي لیکوال د خپلو نثرونو سره د پښتو د کلاسیکې ادب څه برخې ورکړے شوې دي - په شکرستان افغاني کښې د رضواني د طبعزاد نثر څوارلس صفحې دي د مقدار په لحاظ که دا

هرڅو څهٔ غټه برخه نهٔ ده خو د ژبې او د اسلوب په اعتبار دا وړه شان برخه معیاري او په ټول پوره ده ۔ د بهارستان افغاني په نسبت د هغوي د دې کتاب د لیکونو ژبه، دعوامي محاورې نه علمي درون والي ته وړاندې شوې ده ۔ او مندرجات يې هم نسبتاً زيات معلوماتي دي ۔

په دې کتاب کښې مشک، زهرمهره، چاې خطائي د سرخط مختصر لیکونه د دغې توکو په حقله معلومات ورکوي ۔ د پېښور حال يو ځل بيا ۔ د پېښور په باره کښې د دغې بنا دېسې تاريخي حال دے خو د بهارستان افغاني د مضمون د پېښور ملک" په نسبت دا یک زیات کو تېلې تاريخي معلومات لري ۔ د وړاندېني کتاب مضمون د پښتنو ځېل کښي کهٔ د پښتنو د نصيحت او د عبرت د پاره ۔ د طنز و تشنيع سکونډ ادې وې نو په دې ليک کښې د دې تمام د مرانې او د تودزړه د بيان سره د هغوي د قبيلوي خوي بوي او د قامي ژوند په مثبت اړخونو د نړا غور زولې شوې ده ۔ دې نه علاوه په کښې د ګلزار افغاني په ذيلي عنوان د نصابي انداز ووهٔ ورې وړې د نصيحت قيصې ورکړے شوي دي ۔

د میر احمد شاه رضواني چې د کومو دوؤ کتابونو د لیکونو پېژندګلو وړاندې کړې شوه ۔ د هغوي وړو بے او بنیادي خصوصیت يې د ژبې او د بیان خوږ لت دے ۔ د دغې ليکونو په لوستو چې کوم

وړو بے تأثر ولاړېږي هغه دا دے چې رضواني په پښتو کښې د ځانګړي اسلوب يو داسې نثر ليکونکے دے چې د هغه د خپلو معلوماتو په ساده پېځلي او روان انداز يې د وړاندې کولو په فن پوره لاس بر دے ۔ د عربۍ او د فارسۍ په ژبو د پوهې باوجود هغه د پښتنو سوچه عوامي محاوره چې په کومه بې ساختګۍ په کار راولي دا د هغه د خپلې ژبې سره د مينې، او د هغې د بيان په قدرت يو غټه دليل دے ۔

د ستاینې لیکونکي د ذکر شوي لیکونو د مندرجاتو د ځنې تاريخي حقائقو په استشهاد او د شخصياتو په لړ کښې د هغه په رائې بحث کېدے شي ۔ خو د بيان تاثير، په عوامي اسلوب قدرت، د ژبې پېځلتيا، او د مزاح رنګينۍ چې د هغه ليک ته کوم خوابږهٔ ورکړي دي، هغې ته موږ د اُردو خوانو په ژبه کښې د سهل ممتنع يو ښکلے شال وېلے شو، او د هغې د اعجاز نه انکار ممکن نهٔ دے ۔

رضواني د موضوعاتو له مخه پښتو نثر ته يو مقصدي رنګ ورکولو ۔ د غې مقصد ته د ابلاغ د آسانتيا د پاره د ګران اسلوب د اړو پېچ جلو په ځائے يو ساده او روانه ژبه هم پکار وه ۔ دا دواړه ډېر ګران کارونه وُو او په ادب کښې يې بېخي د اجتهاد زړهٔ ورتيا غوښته ځکه چې په شعر کښې د اوسني قيصو د خوند سره اموخته ذهنونه او په نثر کښې د پُرتکلفه انداز

بلد ذوق یو ناساپه په نوي اسلوب کښې ژوندي
موضوعاتو ته آماده کولو یوه ګران کار دُ، خو
رضواني په خپل ذهانت د دغې مسئلې د پاره یوه
منځنۍ لار غوره کړه او هغه دا چې د تاریخي
موضوعاتو او معلوماتي خبرو سپوره والي ته یې
په خپلو لیکونو کښې د اوسني قیصو یوه فضاء ورکړه
او ژبه یې د قافیه بندۍ نه په لرې ایستو دا سې
ساده کړه - چې که هاغو مسجّع او پُرتکلفه نه وه
خو په هغې کښې د دغې انداز سره د مانوس شوي
ذوق د تسکین د پاره د قافیه بندۍ یو دا سې
اهتمام شوے وُ، چې د علمي خوند سره یې یو
عوامي رنګ هم لرلو -

په دې لړ کښې د رضواني د یک یو بل خصوصیت
دا دے چې د هغه په وړاندې په پښتو کښې دَ
مولوي احمد (۱۲۴۱ھ - ۱۳۰۱) د ګنج پښتو او
د میا نعمان الدین د یک نه سیوا د روایتي مسجّع
او پُرتکلّف انداز په انبارونو کښې بله هیڅ دا سې
نمونه نه وه، چې هغه د اسلوب د پاره مثال
ګرځیدلے وے - دا د ستاییلي لیکونکي خپل ذهانت
او د وختونو په غوښتنو پوهه وه چې د هغې
وخت د روانو وطني تحریکاتو د اثر لاندې او دَ
انګریزي ادب د مطالعې په نتیجه کښې د پښتو
نثر یې هم د سپیڅلتیا او د ساده ګۍ په اعتبار د
دغې ژبو سره په یو صف کښې او درووُ -

ده په دې خپل تجزیاتي او مطالعاتي لیک
کښې د رضواني په دوؤ کتابونو بهارستان افغاني
او د شګرستان افغاني کښې د راغونډو د هغه په
طبعزاد نثري لیکونو د ځان پوهنې کوشش کوم
دا دواړه په اصل کښې نصابي کتابونه دي، او
پیرنګیانو ته د پښتو د ښودلو په غرض لیکلې شوي
دي نو ځکه په کښې د پښتو د زړو نثري نمونو
نه علاوه رضواني په خپله د دا سې نثر لیکلو کوشش
کړے دے چې زده کوونکي د زړې پښتو نه علاوه
په اسانه ژبه کښې د پښتنو د نسلي تاریخ او دَ
هغوي د خطې په اهمیّت خبر شي نو ځکه د غه لیکونه
د معلوماتو سره سره د معاشرتي اصلاح یو مقصد هم
لري - د ذکر شوي کتابونو ټولې یو قسم له روان
مضمونونه دي او د انشاء پردازۍ دا سې ښکلې
نمونې چې ورته د جدید نثر وړومبي ځاپونه
وئیلے کیدے شي - د دې نه زیاتي د غې لیکونو ته
د نثري اصنافو د پاره څه مخصوص اصطلاحي
نوم ورکول ممکن نه دي -

مقصدي یک د پر هنرمندي غواړي، ځکه
چې د نصیحت او معلوماتي لیکونه د خپل سپوروالي
له کبله د خواصو د لې نه بهر د عوامي قبولیت
سند په ګرانه حاصلوي - خو رضواني په خپلو
دغې معلوماتي او اصلاحي لیکونو کښې په دغې پُل صراط
دا سې په فنکارۍ تېر کړے دے - چې د قبول عام
سند په تر لاسه کوُلو کښې ورته څه ګرانه نه
ده پېښه شوې، او لوستونکي د هغه د پند و

Scanned with CamScanner

نصیحت ملغلرې بڼه په خوښۍ راټولوي. دخپلې
دعوې په ثبوت کښې د ذکرشوي کتاب نوند ه
یوڅو مثالونه وړاندې کوُم.

د طاؤس د سرخط لاندې په خپل مختصر
لیک کښې هغه هسې خو ددغې مارغۀ په حقله
معلومات بیانوي، او د هغه د ښائست په
ډېرو اثري ټکو کښې ذکرکوي خو په اصل کښې
هغه دا وېل غواړي چې باطن ئې ښائسته نۀ وي
نو په ظاهري ښائست د چا غولېدل نۀ دي پکار
اوس ددغې نصیحت د ابلاغ او ذهن ته ډېرې
ایستو طریقه وګورئ.

" طاؤس د پوره ته نه ښائسته وي خو
خوړې ئې مردار دے. ولې چې دے اکثر
ماران خوري او دومره زور آوره هاضمه
لري چې مار اماني تېر کړي. او هم هغه
ساعت بیا ئې تش هډوکي بهرته وچار باسي
دې د پاره د طاوس غوښه خوړل ښۀ
نۀ وي ولې چې سړے پرې بړګ شي.

او بیا ددغې پوخ دلیل په رڼا کښې دا نصیحت
چې باطن ئې الخ ښکاره ده چې دومره مستند
خبره به ذهن ضرور قبلوي. ددې نه علاوه په
دغې عبارت کښې د ظاهر د پاره د پورته نه د
توي د پاره زور آوره، د تهول د پاره آماني، ویستو
د پاره چار باسل غوندې رسان روان او د اوسنۍ
محاورې سره سم ساده ټکي لکه د غمو پړقا کوي.

د سرو زرو مرغۍ کښې دهندوستان دښکلا
دبیان انداز څومره مؤثر دے. رنګارنګ میوې،
دهر قسمه غلې، دجواهراتو معدنونه، دسرو
سپینو کانونه، دهاتیانو بنهونه، دچندنې
ځنګلونه، د زعفرانو باغونه، دمشکو هوسۍ،
دپشمینې بېزې، طاوسي تخت، ددریائے نور او کوه نور
په شان الماس. دا ځنګلونه، دکیمیا بوټي، د
سنګ پارس کاڼي، د مرغۍ پےَ، دلیلة القدر شپه،
د آب حیات چشمې هم په دغې ملک کښې پېدا کېدې".

په دغې بره ټوټه کښې دنون د تکرار سره د
مقفٰی ټکو استعمال په نثر کښې د شعر رنګیني پېدا
کړې وه، او دا ددې خبرې ثبوت دے چې
رضواني د ټکي په نبضونو پوئے یو ماهر فنکار و.

د فقرې سره نښتي فقره. او د متل د پاسه
سور متل زمونږ د ستایئلي نثریکونکي خاص تکنیک
دے. د پښتون ځېل کښې هغه د پښتو دې ځایه
لویې تصویر په دې ټکو کښې راکاږي.

پښتون په څۀ پېژندے شي، شلتي
اوربشي به خوري جوار به پیچي.

خو سره ددې دخپلو لویو وېلونه قلاړېږي،
د دوکاندارنه چې په قرض تماکو واخلي نو به
هغې به .... وړاندې درضواني د پربکړي جملو،
دراکښلي ترکیبونو، دعوامي روزمرې په کنډپوره
اسلوب او د موزون متلونو په غموډ ښائسته
عبارت خوند وګورئ.

" نشه وکي، بیا به شاوولې واوولې په
کټ پریوزي، لوړې ژورې به وُلي کهٔ
څوک غږ کړي، بنځه لور به يې ستائي
بډیره بریت به يې یادوي، د چا به
په پیسې مذهب لګي، د چا به مورنۍ
سیپاره کوي سحر چې پاسي نو......
تاولې مخ، چوکه په لاس، جغ په اوږه
کورے په غاړه څاروي په ځنګلې، پښې
ته به روان وي.... دوه درې جریبه
مزکه به يې وي هغې ته به دوتر وائي -
سر به ماتوي کالو سر به لګیا وي، خاورې
په سر، هیرې په تهو پل چې درمند
يې تیار شي- د هر واڼي به راشي غله
به ترې وتلي قرض کښې به ترې یوسي
دے به چینګي داړې بوټ وربوزتش
تور کور ته راروان شي خو بیا هم
سړیتوب نهٔ زده کوي، خپل ځېل نهٔ
پرېږدي دے ..... ته به پښتو وائي
العیاذ باالله -

رضواني د پښتون د ژوند ژواک د مثبت
اړخونو هم ستائینه کوي، "د پښتونو ملک" کښې
د پښتنو په صفت کښې وائي چې دلته

" د هر وطن او د هر قوم خلق آباد دي
خو اکثر یې کښې پښتانهٔ دي چې په ننګ
او غیرت، میلمستیا او دیندارۍ کښې په
جهان کښې مشهور دي -"

هم په دې یک کښې د پښتونخوا د ځنو بزخو
د مشهورو څیزونو ذکر لکه د سیند د روانو چپو
په روان دوان انداز کښې ولولئ -

" د پښتنو په څیزونو کښې د باړې
لمودې د هشتنګر کوره، د بنارنان او
کباب، د مرغز تماکو، د تیراه غوزان،
د شوګدر پوزي، د هرې چند غنم،
د کاټلنګ ګبینه، د سدوم غوړې،
د تخت باڼي هوا، د ختکو څپلي، د
یوسف زو لاوڼ، د خالصې پیشترے،
د پیشونګړو میلمستیا، د نوښار
سندرې، د سوات وریژې د باجوړ
و سپینه، د مهمند و غلجکي، د آفریدو شوکه
د خیلو ادیانې، د پیو شکرانې، د
زیارت کال، د اکبرپورې ناظمان، د
لنډي اوبهٔ، د زاخېلو ختکي، د شن
ګریزې، د دووا وې شکره، د مانکي
شېخان په وطنونو مشهور دي..."

رضواني چې کله خپل یک د مزاح په
مالګه مرچکي ترسکون کړي نو خوند
يې لا زیات شي د هغه په نثر کښې
داسې بې شمېره خوند تهوتې پیسا
موندے شي - په دې لړ کښې د هزارهٔ
او ټے، "د بوډۍ غوا" د ایلم او

دوه سره د اسې څوند ور، مزاحیه ټیکونه دي - چې د ژبې او د بیان د ښکلا سره د مقصد بنا ښت هم لري -

د رضواني په معاصرینو کښې د منشي احمد جان د بیان د اسلوب د روښنې محاورې او د ساده ګۍ له مخه د هغه د یک سره ډېر نزدیکت لري لنډې او پربکړې جملې د مزاح د څوند سره ځوږه پسته او روانه ژبه او ځاې په ځاې د متلونو برجسته استعمال کوم چې د رضواني د نثر بنیادي خصوصیات دي لږ نور په صفایه د منشي احمد جان په لیک کښې ورګډ شوي دي خو په عصري اعتبار رضواني د منشي احمد جان نه ورو مښے دے نو ځکه که هغه د پښتو د نوي نثر باني وګڼلے شي نو بې ځایه به نهٔ وي -

شمس العلماء میر احمد شاه رضواني، کم او زیات یوه پیړۍ وړاندې د مقصدي نثر د پاره د بې ساخته اظهار کوم ناویاته اسلوب خپل کړے وُ، د روان وختونو د روښان فکره نثر لیکونو د پاره د غه د یو بل مثال کار ورکوي -

# حوالې


۱- صدیق الله رشتین : د پښتو نثر هنداره - یونیورسټي بک ایجنسي د چاپ کال نامعلوم ص-۲۴

۲- ایضاً ص-۲۰۰

۳- میا سهیل انشاء - شمس العلماء میر احمد شاه رضواني میاشتنۍ پښتو نهمه ګڼه ستمبر ۱۹۹۵ء ص ۱۱ تا ۲۱ء

۴- ایضاً مملوکه ایضاً

۵- د بهارستان افغاني او د شکرستان افغاني فوټو سټیټ نقلونه - د سهیل انشاء

۶- میا د بیع الدین تاریخ کاکاخیل " د چاپ کال نامعلوم -

قاضي ميراحمد شاه رضواني

# د بهارستان افغاني يوه بېټکه

# سپلمئ

دا بوټه خلقو ته ډېرې ښې او ښې کاره ښکاري. ولې چې نه ئې پاڼه د خوراک ده. نه ئې ميوه. نه ئې ګل د بوټيولو دے. نه ئې لخته د سولو. ځکه چې دا ترېخ او زهر دار بوټه دے. هرچرته چې پټې ئې ولګي. هلته زخم ؤکړي. پښتانه يو متل کوي چې اوښ هرڅه خوري. خو چې سپلمئ له ورشي. نو خوله ونيسي. يو چېلے دغه بوټه نه پرېږدي. نور هيڅ د ښې نه دے. لېکن اصل خبره دا ده. چې پاک رب هيڅ څيز بې کاره نه دے پيدا کړے بلکې هر يو بوټي کښې ئې بېل بېل خاصيتونه پيدا کړي دي. چې چا ته معلومېږي. هغه پرې پوهېږي. د سپلمئ پاڼې مارخوړلي د پاره داسې ترياق دي چې په عراق کښې به هم نه وي. ترڅو چې پاڼې پرې ترخې نه لګي خوري دې. خو چې په ترېخ والي پوه شه بس دې کړي. زهر به بالکل د موتيازو او د قي په لاره ورک شي. او دے به بالکل جوړ شي او دا خاصيت په نور هيڅ بوټي کښې نشته. جوګيان وائي چې که د سپلمئ په جړه کښې چې بوټي سره وي.

څوړلي سره سورے وکړي. او د رومي شنګرفو ډلې په کښې واچوي. بيا ئې هغسې په خاورو پټ بوټي سره يو کال پورې پرېږدي. تر دې چې د سپلمئ په ډانډو کښې د پيو رنګ بدل شي. او بيا دا جړه ګل حکمت کړي او ور ورله ورکړي. نو دا کشته به ډېرو مرضونو د پاره اکسير وي. چې مثل به ئې نه وي. نره سپلمئ چې ډېره کميابه ده. يوه ئې لخته وي يوه ئې پاڼه ګل ئې تک سپين وي. چاپېره ئې وابنه شين بوټه هيڅ نه کېږي په ښکله کښې کېږي. او بې باده خوزي. خلق ئې تلاش کوي. نه ئې مومي. د دې پيو کښې چې سيماب کهرل کړي نو قائم شي. او ډېر نادر څيز دے. د سپلمئ ملخ که څوک په سوري وُچ کړي. او تمباکو سره ئې ومږي نسوار ترې جوړ کړي. او د چا چې مرګي کېږي هغه ئې راکاږي. نو د خدائے پاک په فضل به جک جوړ شي. داسې نورې ډېرې فائدې ئې دي.

ے هيڅ څيز نه دے پيدا کړے خدائے بې کاره
خو ستا فکر په دې نه رسيږي ياره

# میر احمد شاه رضواني

رضواني يو لوی عالم او ستر پوهاند ؤ. د دهٔ کورنۍ هم لوئ نوم او نښان درلود په علم او پوهه کښې د ډېر شهرت او لوئ نوم خاوند ؤ. په نثر لیکنه کښې ئې پوره لاس درلود، او په شاعرۍ کښې هم د نوم او نښان څښتن ؤ. چې دا دي په وروستو کرښو کښې په لنډه توګه ښودل کېږي.

**د رضواني کورنۍ:** د دهٔ پلار قاضي میر صاحب نومېده، نیکهٔ ئې میر غلام محی الدین او ورنیکهٔ ئې میر عبدالله نومېده ل. د میر عبدالله د پلار نوم میر عبدالرحمن ؤ چې د نادر افشار په زمانه کښې پېښور ته راغلي ؤ او دلته په اکبرپوره کښې مېشته شوي وو. میر عبدالله بیا د احمد شاه بابا له خوا په پېښور کښې د قضا په دندې وګمارل شو. او هلته ئې ورته د پښتو فتاوی د لیکلو سپارښتنه وکړه. دهٔ هم دغه سوتره د ننده په ښهٔ شان سرته رسوله. او په پښتو نثر ئې لویه فتاویٰ ولیکله[1] دا فتاویٰ یوه سوتره علمي پانګه ده چې احمد شاهي فتاویٰ نومېږي دا کورنۍ د قاضیانو په نامه مشهوره ده، له دې کبله رضواني ته هم قاضي میر احمد شاه رضواني ویل شوي دي.

**علمي شهرت:** رضواني په خپل وخت کښې پوره علمي شهرت درلود. دے د داسې شهرت خاوند ؤ چې په ټوله پښتونخوا کښې بل چا نهٔ درلود. له دې کبله ورته د شمس العلماء مثلاً لقب ورکړے شوے ؤ. دا نوم او لقب د دهٔ د علمي شهرت لوے دلیل دے. دے د لاهور په یو پوهنتون کښې هم د لوې نوم خاوند ؤ.

بهارستان او شکرستان د دهٔ درسي کتابونه دي. چې د دغه پوهنتون له خوا منل شوي دي. پښتو ژبې هم د دغه پوهنتون د شرقي علومو

[1] دا فتاویٰ دهٔ نهٔ ده لیکلې. بلکې عبدالله قندهاري لیکلې ده. اصلي نوم ئې "فتاویٰ احمد شاهي" دے

په حقله دده په زیاد او کوشش سره درسمي توب حق موندلے دے.

په بره پښتونخوا کښې د پښتو ژبې زیات شهرت هم دده په برکت منځ ته راغلے دے. دده کتابونه او اثار هم ډېر مشهور دي.

**د رضواني کتابونه:** رضواني ډېر کتبود او ارزښتناک کتابونه او اثار لیکلي دي چې په لاندې توګه ښودل کېږي.

۱. تاریخ افغانستان قدیم
۲. تحقیق الاسنه
۳. تحفة الاولیاء (فارسي)
۴. تاریخ کافرستان
۵. تاریخ افریدي
۶. وافیه - پښتو ګرامر
۷. دیوان قصاید رضواني
۸. بهارستانِ افغاني
۹. شکرستان افغاني

دا دواړه درسي کتابونه دي او په ښوونځو کښې لوستل کېږي ځنې کسانو دده کتابونه او یا (۲۰) بللي دي خو دا راته مبالغه ښکاري.

**د رضواني نثر لیکنه:** رضواني ډېر کتابونه په پښتو نثر لیکلي دي. بهارستان افغاني او شکرستان افغاني مونږ لیدلي دي چې دده د نثر نمونې په کښې لیدل کېږي. دده په نثر کښې د پښتو سوچه او ښکلې کلمې ډېرې دي. لنډې جملې، خوږه عبارتونه او خوندور لفظونه په کښې زیات دي.

دے د څوارلسمې پېړۍ د وړومبۍ برخې یو پیاوړے لیکوال او نومیالے مؤلف دے. د سید احمد بریلوي د ژوند حالات هم ده په خپل اثر بهارستان افغاني کښې بیان کړي دي.

دے او منشي احمد جان په یوه زمانه کښې اوسېدل، دواړه د نثر د میدان اتلان دي. د ده په نثر کښې د ښکلو عبارتونو او خوږو لغتونو څخه ډېر کار اخیستل شوے دے خو منشي احمد جان متلونه او مثالونه ډېر راوړي او دواړه د نثر په برخه کښې پوره استادان ګڼل کېږي. که څه هم رضواني ۲۲ کاله تر منشي احمد جان د مخه وفات شوے دے، خو بیا هم دواړه د یو وخت او زمانې لیکوال دي.

د نثر بېلګه یا نمونه:

## د بوډۍ غوا

دوه[1] یوه بوډۍ څه کار د پاره چرته بهر ته

---

[1] چونکې دې نه مخکښې رضواني صیب "د هزاره وُ او قے" په نوم د نثر یوه بېلګه لیکلې وه. په دې وجه د تسلسل د پاره د لته د دوي لفظ راغلو چې مراد ترېنه د "هزاره وُ" د ے.

وُتي وه - کور کښې یې په یوه توده کټوی کښې د
اوړو بوس پراته وُو - چرته د چاخوشي غوا
ورننوتې ده لوښي یې بُونیول - کټوی کښې یې
بوسو د پاره سَرمنډ لے دے بنکرې یې په کښې
ننښتې دي - کټوی یې په سر را وچته کړې ده -
مخ ستر کې یې هم په کښې پټې شوي دي - شمکوره
شوه لاړې نهٔ مونده - دې غوا هفه غوا کرو کسوړ
گوزېده - بوډۍ چې را غله - څهٔ گوري چې کوټه
کښې یوڅیز او ترلګیا دے گرزي چې نوره جوثه یې د
غوا ده او سر یې د تورې کټوی په شان دے دې ښځو
چرې داسې شکل لیدلے نهٔ وُ گمان یې پرې د څهٔ
پیرې یا د بلا وشهٔ - چغې یې کړې وُتې له راغله چې
را شه وګوره دا څهٔ آفت راننوتے دے؟ وُتے راغے -
ورته یې ووے - خپه کېږه مه - خیر په شي دا بلا
نهٔ ده غوا ده - ښکرې یې په کټوی کښې ننښتے دے لاړ
چاړهٔ یې راوړه غوا یې حلاله کړه - چې کټوی وباسي -
کټوی ونهٔ وته ننښتے وه - بیا د غوا سر یې راښکهٔ
چې کټوی تې را ووزي - کټوی هم ماته شوه -
وُتي اول وژړل - بیا یې وخندل - هزاره وُ ووې
چې ولې دې وژړل؟ او په څهٔ دِ وخندل - ویې
وے - چې ځکه مې وژړل چې کهٔ چرې زهٔ تا سو کښې
نهٔ وم - نو بیا به څهٔ کوئ؟ او ومې خندل ځکه -
چې زهٔ هم پوے نهٔ شوم - چې دا څهٔ وشو؟ هم
غوا را نه مرداره شوه - هم کټوی ماته شوه ؎

؎ چې دا هسې یې وتے داسې ولس وي
شک یې مهٔ کړه که دوئ همه خرکس وي

(ماخوذ از بهارستان افغاني)

دا نثر د خلورمې دورې ښهٔ او غوره پښتو
نثر دے - عبارتونه او جملې یې رواني او لنډې
دي، ترکیبونه یې د پښتو ژبې په چوکاټ برابر دي -
د پښتو سوچه لغات په کښې ډېر دي - ژبه یې خوږه
پسته او د اولس د محاورې سره برابره ده - په دې
نثر کښې د عطف د تورې لږ استعمال شوے او تش
له معنوي ترون څخه کار اخیستل شوے دے له دې
کبله دے یو ښهٔ نثر یکونکے گڼل کېږي او د منشي
احمد جان سره یو ځائے د وډېد وحق لري -

## د رضواني شاعري

په نثر او نظم د واړو کښې تذکره توب او
پوهنوالے گړان کار دے نو په تاریخ کښې داسې شالونه
پېدا کېږي چې په دواړو برخو کښې ځنې کسانے
پوهنوالي ته رسېدلي وي - لوے شال یې خوشحال خټک
دے چې هم په نظم کښې د تذکره توب څښتن وُ او هم په
نثر کښې -

په دې ډول میر احمد شاه رضواني هم په دواړو
برخو یعني هم په نثر کښې پوهنوالي ته رسیدلي وُو او
هم په نظم کښې - د نثر په برخه کښې ډېر کتابونه
لري او د نظم په برخه کښې هم د اشعارو دیوان او

اوډېرې بولۍ لري - ديوې بولۍ برخه ئې چې دتېرو شاعرانو يادونه ده دلته راوړل کېږي -

په پښتو ژبه کښې ډېر وُو شاعران
څو په واړو کښې باداشاه دے خوشحال خان

هيڅ حصار نهٔ دے په لوړه په جوړه
نهٔ پوهېږم اباسين دے کهٔ طوفان

منظومات ئې دي لړۍ د مرغلرو
کهٔ تسبيح دي د ياقوت و د مرجان

د خوشحال د ژړهٔ قطرې څهٔ هسې نهٔ دي
چې سيالي به ئې کاندي لعل د بدخشان

فصاحت ئې د کلام په خپل لسان کښې
د حسان بن ثابت دے د سحبان

رزميات ئې هوبهو د حماسې دي
په عشرت کښې بو نواس دے د دوران

په آثارو د قدرت کښې چې راچل شي
تهٔ به وائې چې هومر دے د يونان

په شکوه د اورنګ زيب او د بهرام کښې
فردوسي هم ورته پاتې شي حيران

پښتنو کښې خوشحال خان داسې شاعر دے
لکه وُو امرءالقيس په عربستان

مقالات ئې واقعي او حسب حال دي
نه فرضي ولې چې کاندي شاعران

تر شيرين خوږو الفاظو ئې زار ېږي
ډېر خسرو غوندې طوطيان د هندوستان

پس له دهٔ کهٔ څوک شاعر وُو سخندان
نکته سنج نازک خيال شيرين بيان

اول زوے د خوشحال خان عبدالقادر ؤ
بل هجري ؤ چې ئې نوم ؤ اشرف خان
د هجري طبیعت هاله زور بنکاره کړ
له وطنه چې دکن ته شهٔ روان
د عبدالقادر اشعار کهٔ څوک چرې واوُري
د اتیا کالو بوډا به پرې شي ځوان
خیالات دده څهٔ هسې بلند نهٔ دي
چې به کښیوزي په کمند کښې د آسمان
پس له دوئي چې کاظم خان شیدا گویا شهٔ
چې ؤ زوے دانشمند د افضل خان
په هوا ئې هیڅ مارغهٔ د خیال پرې نهٔ شو
دهٔ چې باز د طبیعت خپل کړ پران
لطافت او نزاکت چې د کلام ؤ
واړه خدائے کړ په نصیب د کاظم خان
تشبیهات ئې څهٔ دا هسې غضب نهٔ دي
چې زړگے به ودته ټینګ کاندي انسان
هر یو شعر ئې د دیوان انتخابي دے
هر غزل ئې دے تصویر د پرستان
بیا په دور د شاه عالم په سر بن کښې
چې بنکاره شهٔ په جهان عبدالرحمن
موسیقار غوندې ئې هسې نغمې وکړې
چې ئې پورې کړلو اور په کل جهان
تا به وے چې د شیراز خواجه حافظ دے
چې پیدا شهٔ په اولس کښې د افغان

کهٔ صوفي کهٔ محتسب او کهٔ قاضي ؤ
بي له مانه تهول ئې کړه کړ په ميدان
بيا په دور د تيمرشاه او دل له واره
ما شو خپلو کښې را وخت حميد خان
چې ئې وپېژل په زور د طبيعت خپل
د الفاظو په ځائے ستوري د اسمان
پس له دوئ نه زلالي به دې راياد شي
کهٔ دې ولوستهٔ اشعار د علي خان
نحو دا تهول مصوّران دَ خيالاتو
مبتلا په خط و خال وو د جانان
هيچا ونکړه په وعظ و نصيحت کښې
هسې شان چې وښېل وکړه بابو جان
له دُنيا وما فيها به دې زړهٔ تور شي
کهٔ ئې واورې اے غافله يو بيان
وو په قدرو منزلت کښې په خپل دور
دا اتهٔ واړه په مثل د شاهان
نور د ډول او د سُرنا شاعران ډېر دي
رضواني نحو دي شماري اُستادان

رضواني چې د ۱۲۷۶ هجري کال کښې زېږېدلے ؤ په ۱۳۵۳ هجري وفات شوے دے او عمر ئې نزدې ۷۷ کالو ته رسېدهٔ - ددهٔ د شعرونو لږې شانتې نمونې په شکرستان افغاني او بهارستان افغاني کښې راغلي دي چې دې لږ ونه هم دا معلومېږي چې دے په شعر کښې هم د لوئے لاس خاوند ؤ - په پارسي ژبه ئې هم ځنې بوللي وئيلي وي چې ديوې بوللي يو بيت ئې دلته دا وړل کېږي - ؎ کابل اى انكه همه لطف وتماشا با تست
وى كه از هر طرف آميزش دلها با تست

کهٔ صوفي کهٔ محتسب او کهٔ قاضي وُ
بې له مانه تېول ئې کړه کړ په مېدان
بیا په دور د تیمرشاه او دل له واره
ماشوخېلو کښې را وخت حمید خان
چې ئې وپېژل په زور د طبیعت خپل
د الفاظو په ځاۓ ستوري د اسمان
پس له دوئ نه زلالي به دې رایادشي
کهٔ دې ولوستهٔ اشعار د علي خان
ځو دا ټول مصوّران دَ خیالاتو
مبتلا په خط و خال وو د جانان
هیڅ ونکړه په وعظ و نصیحت کښې
هسې شان چې وشړل وکړه بابوجان
له دُنیا و مافیها به دې زړهٔ تور شي
کهٔ ئې واورې اے غافله یو بیان
وو په قدر و منزلت کښې په خپل دور
دا اتهٔ واړه په مثل د شاهان
نور د ډول او د سُرنا شاعران ډېر دي
رضواني ځو دي شماري اُستادان

رضواني چې د ۱۲۷۶ هجري کال کښې زېږېدلے وُ په ۱۳۵۳ هجري وفات شوے دے او عمر ئې نزدې ۷۷ کالو ته رسېدهٔ - د دهٔ د شعرونو لږې شانتې نمونې په شکرستان افغاني او بهارستان افغاني کښې راغلي دي چې دې لږ ونه هم دا معلومېږي چې دے په شعر کښې هم د لوئے لاس خاوند وُ - په پارسي ژبه ئې هم ځنې بولل ویئيلي دي چې دیوې بولي یو بیت ئې دلته راوړل کېږي - ؎

کابل ای انکه همه لطف و تماشا باتست
وی که از هر طرف آمیزش دلها باتست

عبدالله غمخور

## د نوميالي پښتون

# رضواني په ياد کښې

---

خط په مخ د ښکلي مخ د پښتو تهٔ وې
د پښتو د ليلی زلفې تا کمنځ کړې
د ادم رباب دې سور کړهٔ په سوزونو
د ښونو خاموشي دې کړله ماته
د پښتو بېرغ دې پورته کړهٔ په لاسو
پښتونخوا دې پور وړې د خدمت ده

بله شمع د ادب د ورشو تهٔ وې
شور د مينې د جانان د ښکرو تهٔ وې
مشانه د تور وربل د دنخو تهٔ وې
مغني د پښتونخوا د نغمو تهٔ وې
محرر د ناموننګ د صفحو تهٔ وې
زار قربان د پښتنو او پښتو تهٔ وې

لکه پرخه ورېدلې له آسمانه
طهارت د دوهستان د ګلو تهٔ وې
نور وېدهٔ وته وې ويښ لکه نسيم
راز و نياز د شملورو زلمو تهٔ وې
د ژوندون په کتاب تا ليکلې شرحې
سترخار د قوميت د ميو تهٔ وې

تهٔ پيغام د زمانې ئې نوراني ئې
خدائے بخښلے په رشتيا تهٔ رضواني ئې

Scanned with CamScanner

مرتضیٰ شاهین

# میراحمدشاه رضواني

په هره یوه انساني معاشره کښې عالم، علم او کتاب ته په درنه سترګه کتلے شي ځکه چې دا هغه ذرائع دي د کومو په وجه چې هرڅوک د دریو زمانو یعني ماضي حال او مستقبل د ګټې تاوان د اهمیت نه خبرېږي د تېر دور حزنیه واقعات دي او کهٔ د حال قتلونه خونرېزي، د دهشت او وحشت، عداوت او نفرت دے کهٔ د مستقبل د راحت او محبت ترسکون او خوابدهٔ خوبونه دي دا ټول د عالمانو، مفکرانو، شاعرانو او مؤرخانو د کتابونو څخه په نظر راځي ذمه دار لوستونکي پوهېږي چې پخوانو عالمانو په علمي میدان کښې کوم کار او زیار کړے دے باید چې د هغې قدر افزائي شوې وے خو افسوس چې نننۍ دانشور او مفکر د خپلې بقا په غم کښې اخته دے د خپل موجوده او آئنده نسل د بقا هیڅ پروا نهٔ کوي زمونږ. هسې نو چې څومره زمونږ غم خوړلو او په فکرونو ئې زړونه شنهٔ کړل او د ناساعدو حالاتو باوجود ئې مونږ له پاره فکري او علمي سرمایه راجمع کوله د علم په رڼا ئې د جهالت تورتمونه رنړول، د علم او دانش نوې نوې لارې ئې لټولې، آیا مونږ کله هم دا خپله ذمه داري ګڼلې ده چې د هغوئ علمي او تاریخي کارنامو له ځلا ورکړو. د دې خبرې نه به یو پښتون هم انکار ونکړے شي چې بې د باچاهانو او امیرانو د مرستو او کومکونو نه دا خاوره د زمانو راسې دَ علم او ادب ځانګو پاتې شوې ده کهٔ چرې پښتنو ادیبانو، دانشمندانو او شاعرانو د پخوانیو ادبي او تاریخي نقشونو له نوے ژوند ورکړو نو پښتنو ژبه دومره تنش لاسې نهٔ ده چې د عصري، علومو پاسداري به ونکړے شي دا د عالي ادبیاتو عالي انساني اخلاقو، کتهورو تعلیماتو پوره پالنه او ساتنه کولے شي. - د دې اوږد تمهید نه پس به غرضي خبرې له راشو دا خبره د مشهور دانشمند شمس العلماء قاضي میر احمد شاه رضواني په باره کښې ده کله چې د مسلمانانو سلطنت تالا ترغه شو او د هېلے د انګرېزانو په ولقه کښې ورغے نو د دغې غم انګېزه واقعې نه لس کاله پس په کال ۱۸۶۰ء

Scanned with CamScanner

کښې د اکبرپورې په کلرنګه سیمه کښې قاضي میر احمد دنیا ته راغې هغه د علاقې د علمي خانوادې سره تعلق لرلو د دهٔ کورنۍ د سید احمد بریلوي او اسماعیل شهید سره کافي ښېګړې کړې وې هغې له سویه د سکانو د رنجیت شاهي پر ضد ګوزارونه ؤ ونړول. سید سلیمان ندوي د اکبرپورې په لار د سید احمد بریلوي د تګ او د هې ذکر کړې دے -

قاضي میر احمد شاه رضواني ابتدائي تعلیم په علاقائي او د پېښور په مکتبونو کښې حاصل کړو او د نور تعلیم د حصول له پاره لاهور ته لاړ د هغه پنجاب ته په تلو کښې انګرېز سرکار کافي مرسته وکړه کله چې هغه د کالج نه سند واخستو نو دَ پنجاب د ګورنر په سفارش هم په دغه کالج کښې استاد مقرر کړے شو د پنجاب یونیورسټۍ واکدارانو چې د هغه تعلیمي قابلیت او استعداد ته کتل نو ورځ په ورځ ئې ورته غټې ذمه وارۍ سپارلې د هغوئ په خواهش ئې طالب علمانو ته په ژبو هنه تاریخ او مغربي ادب لیکچرونه کول د مقابلې د امتحان له پاره ئې تحقیقي مقالې و لیکلې د مقابلې امتحان ئې پاس کړو د پرو نېسرۍ چوکۍ ئې وګټله هر څوکهٔ په هغه وخت کښې هغه پښتو نخوا ته د خپل علم په ذریعه ګټه رسولې نهٔ شوه او د پنجاب په کار راتللو خو د هغې دا مطلب نهٔ شو چې ګنې هغه خپل قام او وطن د نظره غورزولے ؤ په دغه وخت کښې د هغه مقصد دا ؤ چې خپله ژبه -

د انګرېز سترګو کښې د رڼه کړې د دې تاریخي او علمي حېثیت ورته څرګند کړي هغه صرف پښتنو منشیانو ته پرې نهٔ ښودې چې د ژبې ځوله ورته لنډه تنګه کړي نو ځکه هغه په کال ۱۸۹۰ء کښې د پښتو لغت جوړولو ته ملا وتړله او د کال ۱۸۹۵ء پورې په پښتو ګرامر هم څهٔ ناڅهٔ کار وکړو هغې ته ئې په کال ۱۹۰۸ء کښې کتابي شکل ورکړو هغهٔ تحقیق السنه، آثار قدیمه، نظم پښتو، تاریخ کافرستان، شکرستان افغاني، بهارستانِ افغاني او نور ډېر کتابونه لیکلي دي -

هر څوک چې د رضواني د زیاتو کارونو جائزه اخلي نو خامخا به دا فکر کوي چې دې سړي په خپل سرخوږمره د روند پنځا لېښے د منزل په لور روان دے او د پښتو ژبې د ترقۍ او بهبود لارې لټوي رضواني دا کوشش کولو چې انګرېزانو ته دا خبره څرګنده کړي چې پښتانهٔ جاهلان نهٔ دي کله چې د هغهٔ کتاب شکرستانِ افغاني چاپ شو نو د لر او بر پښتونخوا عالمانو ته پته ولګېده چې دا څومره روان او خوږ نثر یوه بشپړه نمونه ده دا ډېره غټه خبره وه چې د پښتنو د زوال په ایام کښې هغه د پښتو ژبې د اقبال د پاره هڅې کولې. نن پرون ځنې ناقدین په شمس العلماء رضواني پورې دا ملنډې کوي چې هغه د انګرېز نه د شمس العلماء خطاب اخستے دے - دا یو بد فعل او ناکاره قدم دے په هغه دور کښې چې دَ

د هندوستان سره پښتونخوا هم د انګرېز مستعمره علاقه وه ټول قام د غلامۍ په ښکېل کښې شوے وُ چاد توري او چاد قلم نه کار اخيستو رضواني د انګرېز په دشمنۍ کښې خبر نهٔ ليد و هغه وئيل چې په ګوړه مري زهرو ته حاجت نيشته چې خلق تعليم يافته شي نو خپل حق به په خپله وپېژني هله به د انګرېزنه ازادي واخلي هغه د سرسيّد احمد خان د فکري مکتب سړے وُ هسې کهٔ خطاب اخيستل جرم وي نو دا جرم علامه اقبال هم کړے دے چې د خپل استاذ مولانا ميرحسن د پاره ئې د انګرېز نه د شمس العلماء خطاب غوښتے وُ کهٔ د انصاف نه کار واخستے شي نو رضواني وړو مبے پښتون عالم دے چې په پنجاب کښې ئې د انګرېزۍ او اردو سره پښتو ژبې له اوبه په اوبه د ودرېدو مقام پېدا کړے وُ هغه يو داسې روښان فکره عالم وُ چې د پښتو د پاره ئې تعليم د ترقۍ باعث ګڼلو هغهٔ کهٔ يو طرف ته انګرېز او هندکي ته پښتو ښودله نو ورسره ئې خپل مطلب هم په مو ټهې کښې نيولے وُ چې د هغهٔ د چاپ درسي کتابونو نه به پښتانهٔ هم څهٔ ناڅهٔ زده کړه وکړي د هغهٔ د چاپ او ناچاپ اثارونه ادبي حلقو ته دا پته ولګېدله چې دا کار د معمولي سړي نه بلکې د لوے اديب کار دے ځکه چې د بهارستان افغاني قيصې د کلاسيکي ادب تاثيري نمونې دي ژبه ئې د محاورې او روزمرې سره د جديد ادب وړو مبنۍ بنيادي تيګه ده ـ

د بهارستان افغاني قيصې د پښتني ماحول او ثقافت د چوکاټ نه وتلي نهٔ دي په هر کردار کښې ئې د پښتو روح پوک وهلے دے سره د دې چې هغه د مغربي ادب نه بنهٔ واقف وُ د پارسۍ، عربۍ او انګريزۍ استاذ وُ خو د هغهٔ په قيصو بهرنے اثر پرېوتے نهٔ دے رضواني د نثر ليکلو سره سره شاعري هم کړې ده ـ په شاعرۍ کښې ئې د هجر او وصال ژړا او خندا دواړه شته د ګل او بلبل، د شمعې او محفل ذکر په کښې هم شوے دے خو کلام ئې د علم سره د مينې نه خالي نهٔ دے هغه په خپله يوه ليکنه کښې وائي چې کومو پښتنو استاذانو انګرېزانو ته ئې پښتو ښودله خو هغوئ صرف خبرې اسره کړې وه د علم او صرف و نحو غرضيانو ته ئې څهٔ علمي مواد نهٔ ورکولو البته دَ امبېلې جګړې د يوړې پوهانو توجه پښتو ژبې ته را وګرزوله واګن، هېګس د يورټې او داکټر ببېليو د نثر، شعر او ګرامر په حقله کار وکړو ولې د تخليقي عمل خانه ئې تشې خالي ده ـ د کال ۱۸۸۹ دَ اکتوبر مياشتې په وړمبۍ ورځ چې د پښتو ژبې په سکول کښې د درسي ژبې په حېث حکم وشو نو د اتم او لسم جماعتونو د پاره مې کورس تيار کړو د پښتو ګرامر په کتاب مې هم دوباره نظر واچولو او په کال ۱۹۰۸ء کښې مې دوباره چاپ کړو کهٔ پښتنو څېړونکيو د تحقيقي بخل او نا راستۍ نه کار وانهٔ خستو او د پنجاب يونيورسټۍ پخواني اثار او علمي ذخيره ئې ولټوله نو ګېدے شي چې د رضواني چاپ او ناچاپ اثرونه او مقالې لاس ته ورشي حقه خبره داده چې رضواني د پښتو د جديد نثر باني دے ـ

کمال ملا همکار

# د میر احمد شاه رضواني په یاد کښې

دقلم دَ اسمان ستوریه دکتاب د دُنیا ګُله
کړ دګلو دے شیندلے د اټک نه تر کابله

ابتداء د زدکړې، کړے تا په مینه دهغهٔ نه
دچا مینه چې ستا مینه وه، پېدا ئې وې له ګوګله

بیا په لټه کښې دعلم او عالم شوې په جهان کښې
هندوستان افغانستان سره دنیا دې وکتله

ان تر مصره رسېدلے وې ټولنې الازهرته
دهغې نه دې هم غوټه دعلومو وتړله

دلاهوره نه منور شوې، په کالج کښې پروفیسر شوې
ستا په څو شرقي زده کړو کښې پښتو شوله شامله

دا یو داسې کارنامه وه دشینکي اسمان دلاندې
چې زمونږ په چاپېر چل کښې چا لیدلې نهٔ وه بله

مؤلف دکتابونو مصنف د رسالو وې
سلسله چې غزېدله نو هم دومره ځلېدله

سل او یا دې کتابونه دې لیکلي په قلم دي
زمانې د تعجّب ګوته په غاښ کښې ونیوله

دقلم د اسمان شمس العلماء احمدشاه میره
ملقّب په "رضواني" ئې رب دې وبخښه بلبله

ما همکار ستا په خدمت کښې ستاسو روح ته ماته ګوره
دا وُړه دا ټوټه د نظم له ټوټې ټوټې کابله

Scanned with CamScanner

محمد آصف صمیم

# د شمس العلماء قاضي میر احمد شاه رضواني

# د التلخیص في العروض

## لنډه پېژندنه

دخپلې ادبي قاعدې له مخې د افغان اد لې بهیر اونیزې غونډې ته له تلو ترسره دا ته یوه شاعر ملګري د ټیلیفون یو نمبر راکړ، چې د ډاکټر سهیل انشاء هم ورسره لیکلی ؤ، ملګري را ته وویل، چې د غونډې تر پېلېدو د مخه باید ته په دې نمبر وګړېږې، ټیلیفون مې پیدا کړ، رنګ مې وواهه د ډاکټر سهیل انشاء تیارغوږ په آواز ؤ تر روغبړ او دروغ د ټکور تر پوښتنې وروسته یې راته وویل چې د رضواني صاحب یو عربي اثر مې پیدا کړی، د هغې په باب د څه لیکلو لپاره موږ په تا ګوته ایښې ده، د بنده مخ د خدای له نوره وي، زما هم د مخ پوټکی نری دی، بې له دې چې ځان وتلم "بنده" مې ورته له خولې ووتل، وعده وشوه، چې له پلاني ځایه نه به مې واخلې، بیله ورځ ډاکټر صاحب په خپله یو ټوټو فوټو کاپي کړې پاڼې په لاس کښې نیولې راغی، وېل دا یو ځای د رضواني صاحب کتاب دی او دا بل د "الفیصل" نومې عربي مجلې یو ټو پاڼې دي، چې د رضواني صاحب په باب په کښې یو مضمون چاپ لیکلی دی -

پاڼې مې تر پې واخستې، وېل د اکتوبر تر ۲۶ به یې را سپارې، څه کم یوه میاشت وخت لرې، ما وېل، ما ته خو نور نیمګړي کارونه ډېر پراته دي - خو څه توکل په خدای، څو ورځې وروسته مې کتاب را واخست او جلال آباد ته د راتګ په لار کښې مې ولوست، په لومړي ځل کتو خو مې پرې واده را نغله، ځکه یو عروض هسې هم یو چینجن او سرخوږوونکی فن دی، بل په دې چورت کښې پرېوتم چې دا د وس ترجمه غواړي - که تبصره ؟ - خیر !

دا مې غوره وګڼله چې په دومره لږ وخت کښې خو ته بې ژباړه دا نه ونه شي، او بل، دا چې ژباړه خو یې ځني فني ځرګند وني او زیاتونې غواړي او هغه خو یا زموږ د عصر د مشرانو استاذانو پوهاند صدیق الله رښتین او پوهاند رشاد (خدای

Scanned with CamScanner

دې ئې ژوندي لري) کار دے او د هغوي د وار و عمرونه دا وخت د دا سې د رنو چارو د ترسره کولو نهٔ دي، نو بس همدې ته مې زړهٔ ښهٔ کړ، چې څه نه خو سم د لاسه خو پرې همدا لنډ که پېژندګلوي ليکنه وکړم، کهٔ د چا زيات تفصيل پکار وُ، نو له دې نه مخکښې خو د ميا شريف پښتو عروض او د سمندرخان خوږه ښپېلۍ شته هغه دې وګوري، تعريفات خو هسې هم د علومو تر منځ شريک وي، خالي د بېلګو او مثالونو خبره ده، نو په دې توګه به له يو ې خوا زما خپل پښتے سپک شي او له بل پلوه به د ارواښاد رضواني د کړې خدمت او ادب ته د هغه د لوروني درناوي هم وشي،

دا دي تر دې لنډ که سريزې وروسته له بنا غليو لوستو سره د التلخيص في العروض په پېژندګلوی لاس پورې کوم.

## التلخيص في العروض

په عربي ژبه د قاضي ميراحمد شاه رضواني هغه اثر دے چې په منځني کچه په شلو مخونو کښې په ۱۳۱۵ قمري کال د لاهور په عزيزي مطبعه کښې چاپ شوے دے. د کتاب پر پوښ ليکلے شوي دي:

التلخيص في العروض

للقاضي ابى الصفا ميراحمد شاه الرضواني الاكبر پوري الفشاوري هيډ مولوي ګورنمنټ سنټرل ماډل سکول لاهور بسعى مولانا مولوي عبد الوهاب الكنړے الافغاني تحت اداره الحاج رحمة الله الحميد مولوي عبد العزيز، محمد عبد الرشيد مالك مطبع، تاجر کتب لاهور کشميري بازار

در مطبع عزيزي واقع لاهور طبع کرديد

في شهر شعبان المعظم سنه ۱۳۱۵ ق

د کتاب په (۲) مخ بيا التلخيص في العروض ليکل شوے تر "حامداً و مصلياً" وروسته مؤلف په عربي ژبه په خپلو لومړيو خبرو کښې وائي.

د خدا ئے د دربار سوالګر ابو الصفاء ميراحمد شاه رضواني فشاوري د عروضو په فن کښې په خپلې اندکۍ او د ماشي د مغزو هومره پوهې سره (د دا عروض) د سترو محققينو له اثارو لکه مفتاح الذکاكى قسطاس الزمخشري، نهايه الارب الاستوي، عروض ابن جنى – الاندلسى، الحزرجي، البهرامي، ابن قطاع، ابن الواحب، ابن الفارسن، معيار المحقق الطوسي، حدائق ابن قيس، رسايل اختري او او نورو سترو تاليفاتو نه د لنډيز په توګه د دې لپاره ليکلي دي، چې له ذهنونو نه د وهمونو په ايستو، د حقائقو په څرګندونه د تېروتنو د مخنيوي او د مجهولاتو په پېژندنه کښې مرستندوي شي او د لوستونکي ) يو اځې په هغه ګومان را ايسار نهٔ شي، چې اخفش او خليل ويلي دي.

په دې پسې د عروضو د علم تعريف داسې کوي!

عروض هغه علم دے چې د شعرونو په وزنو او په هغې پورې په اړوند و مثالو خبرې کوي او غرة

د ادے چې موزون او ناموزون کلام سره وپېژندل
شي د دې علم بنسټګر عبدالرحمن الخليل بن
احمد بصري دے د دې علم ته عروض ځکه وايي
چې مات او روغ وزن پرې څرګندېږي ،

د شعر او کلام په تعريف کښې وائي :

شعر يوه موزون کلام ته ويل کېږي او وزن
هغه جوړښت او رغښت چې د حرکاتو او سکناتو
له ترتيب نه منځ ته راغلے وي ، له کلام نه مراد
لغوي معنا ده ، نه اصطلاحي ، لکه محقق الطوسي
چې ويلي دي :

کلام هغه الفاظ دي چې د مطلوب معنا له
موضوع (وضع شوي) نامه سره سمه شوي وي .

تلخيص في العروض د عربي اشعارو د وزنونو
په باب د توضيحاتو په ترڅ کښې د بحرونو د قواعدو
او جوړښت په باب وائي .

بحرونه د افاعيلو او تفاعيلو له ترکيب
او اصولونه جوړېږي چې په حقيقت کښې دوه
دوله دي : خماسيان ، لکه فعولن او فاعلن ،
سباعيات ، لکه مفاعيلن ، فاعلاتن ، متفعلن ،
فاعلن ، متفاعلن ، مفعولات .

د افاعيلو ترکيبات درې کښې ، اسباب ، اوتاد او
فواصل .

د بحرونو د ترکيب اجزاء

متقارب (فعولن) اته ځله = فعولن " "
رکض او متدارک (فاعلن) اته ځله = فاعلن "

رجز (متفعلن) شپږ ځله = متفعلن " "
هزج (مفاعلن) " " مفاعلن " "
کامل (متفاعلن) " " متفاعلن " "
رمل (فاعلتن) " " فاعلتن " "
وافر (مفاعلتن) " " مفاعلتن
طويل (فعولن مفاعيلن) څلور ځله = فعولن مفاعيلن
مديد (فاعلاتن فاعلن) څلور ځله = فاعلاتن فاعلن
بسيط (متفعلن فاعلن) څلور ځله = متفعلن فاعلن
سريع (متفعلن متفعلن مفعولات) دوه ځله
منسرح (متفعلن مفعولات متفعلن) دوه ځله =
خفيف (فاعلاتن متفع لن فاعلاتن) دواړو خواو
د تفع په لرې کولو .
مضارع (فاعلاتن فاع لاتن مفاعيلن د وروستيو
د فاع په لرې کولو) دوه ځله .
مقتضب (مفعولات متفعلن متفعلن) دوه ځله
مجتث (موتفع لن فاعلاتن فاعلاتن له
دواړو خواوو د تفع په لرې کولو .

هغه افاعيل القابو کښې بدلونونه راځي :
چې دلته ئې يوازې نومونه اخلو .
اخمار ، عصب ، وقف ، خبن ، طي ، قبض ،
کف ، قصر ، قطع ، حذف ، حذذ ، تشعيث ،
کسف ، صلم .

تودې وروسته د تلخيص في العروض د
محتوياتو په يوازې سرليکونو ياد و بيانيه کوو :
په خرم کښې بدلون ، چې په ورومبي برخې

پوري اړوند وي -

په مرکباتو کښې بدلون ،

د افاعیلو او د هغو د القابو او د هغو د برش
ځانګې

د شعر اجزاء

د اجزاوو له مخې د بیت ډولونه

د وزن او روی له مخې د بیت ډولونه

د بحرونو په مستعملو وزنونو کښې د عروضو
ضربو او طویل شمېر قافیه او په هغې پورې
اړوندې خبرې -

د قافیې حروف

روی، تاسیس د خیل ردف

وصل او وصله

د قافیې حرکتونه :

څه چې په دوي کښې یا ید دانهٔ شي -

د حروفو له مخې د قافیې القاب

د قافیې عیبونه

دا وه د "تلخیص في العروض"

لنډه غونډې پېژندګلوی چې څه

دوخت او څهٔ زما د پوهې د کمې

او نیمګړتیا له وجې څنګه چې پکار

وه، ونهٔ شوه - هیله ده ښاغلي

او درانهٔ لوستونکي به د یکښې

نیمګړتیا زما نیمګړتیا وګڼي او په خپلو لووونکیو

نفوتو به مې لارې ته سم کړي -

---

# اعلان

د پښتو اکېډیمي ټول غړي د ستر شاعر، ادیب، فنکار او علمي لارښود لیونے فلسفي د خان عبدالغني خان په مرګ د هغه پسماندګانو، خواخوږو، رشته دارو - پرستارانو او هر هغه پښتون سره د شدیدې غمرازۍ څرګند ونه کوي چا ته چې د غني خان په مرګ درد رسیدلے دے - د اکېډیمي غړي لوې خدائے ته لاس په دُعا دي چې د غني خان دې جنتونه نصیب کړي -

قمرزمان قمر نړیوال

# میر احمد شاه رضواني ته

## د عقیدت ګلونه

---

یو راقم چې نن ګویا شو
لیک ئې دا د ننګې بنا شو

سن اتلس سوه کاله — نور شپېته ورسره واله
د اپریل میاشت وه یکواله — خاص د لسو په سباله

چې د دې ورځې سبا شو
میر احمد صاحب پیدا شو

اکبرپوره کښې پښتون وُ — یو وچت اولوئ انسان وُ
نښکلے نمر پاس د اسمان وُ — چې دا ملک پرې ټول روښان وُ

د ے ګلشن لره ښکلا شو
چې پرې ملک رڼا رڼا شو

خوږ ژبانه خندا رویه — نېک خصلته او نیک خویه
د اهستۍ ده ډېره لویه — هر انسان د غسې بویه

د ے نړۍ لره څلا شو
لا ثاني وُ بې بها شو

پښتو ژبه په پنجاب کښې — وه شامله کړه نصاب کښې
وه چې علم د دهٔ تاب کښې — دهٔ شامل کړه په کتاب کښې

برکت ئې نور سیوا شو
چې اذکر ئې هم پرې رضا شو

ډېر ازده علم دده ؤ — ښه روان قلم دده ؤ
صفت چم په چم دده ؤ — غږ په کُل عالم دده ؤ
ځو ادب ئې په هر ځوا شو
هم زما شو او هم ستا شو

یو عالِم ددې دنیا ؤ — هم فاضِل ؤ هم اعلیٰ ؤ
علامت د پښتونخوا ؤ — ځو کچې شمس العلماء ؤ
د پښتو چې مسیحا شو
پښتنو له رهنما شو

سل اویا ئې کتابونه — چې جوړې ئې ترې پښتو ونه
ښه پېغلې د پرښتونه — په کښې د ېر ښکلې نظمونه
روک ادب ئې په دنیا شو
په کښې لږ غونډې پیدا شو

ډېر خدمت د پښتنو دهٔ — ښه کوؤ د میړنو دهٔ
هم دلر او برتو دهٔ — ددې تېولو پرکنو دهٔ
هم په دې ځوبن دهرچاشو — مشهور په پښتونخوا شو

دا یو شعر زما فاني شو — چې په حق د لا ثاني شو
دسمبر د پرش زماني شو — مل وفات د رضواني شو — ۱۹۳۴ء
د اقمر هم په ژړا شو
چې رهبر ترېنه جدا شو

پروېز مهجور خوېشکی

# رضواني

## دخپل شعر په رڼا کښې

د خيال بخاري صاحب په يوه چاپ مقاله (کابل مجله ۱۲۸ (۱۶) کال جدي ۱۳۲۴، ۱۰ کڼه صفحه ۳۲-۳۸) کښې د رضواني صاحب د کتابونو د فهرست نه دا معلومېږي چې رضواني صاحب د پښتو ژبې يو ديوان درلود - د (بهارستان افغاني) په صفحه ۱۳۶ د يو نظم د عنوان (له ديوان د رضواني د اکبرپوري) او د (شکرستانِ افغاني) په صفحه ۱۶ د يو غزل د عنوان (له ديوان د رضواني د اکبرپوري) نه هم دا خبره ثبوت ته رسي چې رضواني صاحب د خپلو پښتو شعرونو د يو ديوان څښتن وُ - خو له بده مرغه دَ دوو غزلونو او د دوو نظمونو او يو څو نورو شعرونو نه پرته دده دَ ديوان لا تر اوسه موندلے شوے نهٔ دے - په عربۍ او فارسۍ کښې ئې هم شاعري کړې ده خو د هغو هم دغه قيصه ده -

اګر چې د ديوان په مقابله کښې د څو شعرونو په رڼا کښې د رضواني د فکر او فن جائزه بهٔ تر ډېره حده نيمګړې وي خو د (رضواني نمبر) د پاره د ډاکټر سهيل اِنشاء په اصرار او منته د يو څو شعرونو پهٔ اَساس يو څو خبرې ليکم او د مشتې ازخروارې په حساب به انشاءالله د کُل څخهٔ نمائنده ګي وکړي.

رضواني صاحب (۱۸۶۰-۱۹۳۴) چې په کوم دور کښې د شعور سترګې پرانستې نو دا د انګرېز دَ حکمرانۍ دور وُ او مغربي تهذيب د دې سفيرانو په طفيل د هندوستان په اعلیٰ دماغونو د جديديت يو اثر پرېباسلے وُ او په علمي ادبي، سياسي، تمدني، سماجي او اقتصادي حواله د دوني سوچ او فکر ته ئې نوې لارې پرانستې وې - دې نوي شعور د هندوستان د لويو ژبو ادبياتو ته د مقصديت، قامي خدمت او حقيقت نګارۍ ذمه وارۍ ور وسپارلې - دې مقصديت او ذمه وارۍ د خپل وخت په نظم او نثر دا اثر وغورزولو چې د اظهار او بيان اُسلوب ئې ساده او د عامې محاورې مطابق کړو.

د رضواني صاحب نثر او نظم هم دا عصري دباؤ قبول کړو او ډېر ساده او د عامې محاورې اُسلوب ته نژدې شو -

**ديو شاعر په حېث**: د نثر په مقابله کښې دَ

رضواني صاحب د شعر په اُسلوب د فن او تخیّل اعجاز
ذیاتي جوړتې دي په صنائعو او بدائعو کښې ئې د
خپل عصر او ماحول تصویر واضح دے۔ د اظهار او
بیان تکنیک ئې ښې آسانه لري۔
لکه چې وائي :- ؎

چې په شونډو کښې ماتیږي اے شیریني
سپین خواږهٔ نازک نتکي دي پتاسې دي
په بهانه د دندان سې چې ئې چیچې تل
خوږې شونډې دي د قند و امرسې دي

د رضواني صاحب شاعري د پښتو شاعرۍ د کلاسیکي
ادبي روایت چې پروفیسر محمد نواز طائر ورته د
(تقلیدي ادب) اصلاح غوره کړې ده امانت دار
ده د دروایت په یو داسې دور کښې ساتلې چې ددې
په ضد کښې د اولسي شاعرۍ ډېر زور و، په جرو
او کورونو کښې هم ددې نوبت غږیدو او ډېره ډېوهې
او حوصلې مظاهره وه۔
لکه چې وائي :-

نور د ډول او د سُرنا شاعران ډېر دي
رضواني خو دي شمارلي استاذان

په یو بل غزل کښې رضواني صاحب وائي چې :

؎ ستا په سپین تندي اے جانه دا شین خال دے
که اذان ته د سحر ولاړ بلال دے
دا نقطه د ریاضي ده که ستا خوله ده
او کهٔ دا جوهر فرد په مثال دے
تورې زلفې دې ښامار دي چې تاو ېږي
کهٔ د زړونو د مرغیو نیولو جال دے
دا خترد شپې هلال چې ته ئې ګورې
دا یو عکس ستا د پښو ددې خلخال دے
په دنیا که چا جنت نهٔ وي لیدلے
بې تشبیه دا یو خوند ستا د وصال دے
د څخه ګل لاله بوي راغے په دې زمکه
رضواني دا پښتنو دے کهٔ برجال دے

د غزل د کلاسیکي روایت د ژوندي ساتلو سره
سره رضواني صاحب په تشبیه‌ګانو او استعاراتي
تشکیل کښې نسبتاً څهٔ نوي مشابهتونه پیدا کړي دي
لکه په بړني غزل کښې د (ورې خولې د پاره د ریاضۍ
د نقطې تشبیه پیدا کول) (تورو زلفو ته د مرغیو
نیولو جال ویل) (د پښو د خلخال پیزیب) او د
اختر د شپې د هلال تر مینځه مشابهتي رشته پیدا
کول) او د ((وصال د خوند او د جنت د منظر تر
مینځه یو حِسّي او کیفیاتي تشبیه پیدا کول))
د غه رنګ په یو بل نظم کښې چې د پښتنو
د ملک صفات بیانوي د تشبیه‌ګانو او استعارو په
حواله د رضواني صاحب اظهار او بیان یو ښهٔ شاعرانه
بهار لري لکه چې وائي : ؎

هندوستان سعیر کابل دے زمهریر
پښتنوے دے یاره خلد بې نظیر

---

ل د سپواړ (بهارت) په ملک کښې یو کلے دے چې دا غزل هلته وئیلے شوے دے۔ (رضواني)

شنه سبزه ئې په هموارو میدانونو
په رخسار دیار دے خطِ دلپذیر
سلسله د تورو وغرونو ئې چاپېره
د لیلٰی د تورو زلفو دے زنځیر
زړهٔ او بهٔ شهٔ د کابل ورپسې راغے
لنډے نهٔ دے کهٔ پوهېږے په تعبیر
د هوا اثر ئې هسې جان فزا دے
چې بتان واړه گویا شو د پنج پیر
د چمن نسیم ئې هسې مسیحا دے
چې ژوندی شوې پرې بلبلې د تصویر

دې نظم کښې اگرچې د فارسي او عربي ټکو او ترکیبونو استعمال شوے دے خو دا دومره درانهٔ او نا آشنا نهٔ لگي ځکه چې زمونږ کلاسیک شاعرۍ د پښتو لوستونکو د پاره دا مشکلات تر ډېره حده اسان کړي دي - دیو ښهٔ شاعرانه بیان او تخیّل سره سره دې نظم د دې لاندېني شعر په استعاراتي تشکیل کښې سونږ د تخیّل یوه نوې تازگي محسوسولے شو لکه چې وائي :

زړهٔ او بهٔ شهٔ د کابل ورپسې راغے
لنډے نهٔ دے کهٔ پوهېږې په تعبیر

او په دې بل شعر کښې د یوې علاقه ایزې تلمیح (د پنج پیر بتان) استعمال څومره خوند او ندرت لري -

د هوا اثر ئې هسې جان فزا دے
چې بتان واړه گویا شو د پنج پیر

آخري شعر ئې هم د شاعرانه خیال او مراعات النظیر یوه ډېر ښکلے مثال دے -

د چمن نسیم ئې هسې مسیحا دے
چې ژوندی شوې پرې بلبلې د تصویر

## د یو مصلح او قام پرست دانشور په حیث

د پښتنو جهالت، تېزي، نا عاقبت اندېشي او بې اتفاقي د تاریخ په مختلفو دورونو کښې گڼو مصلحینو، هوښیارانو او قهرمانانو په سرو سترگو ژړلې ده او دا هغه اسباب دي چې پښتون ئې علمي، سیاسي، اقتصادي او تهذیبي پرمختگ ته نهٔ دے پرېښے :

لکه د نورو قامي دانشورانو رضوانی صاحب هم د پښتون په دې قامي بیمارو سخت دلگیرو دوي په نظم او نثر کښې د دې ژور احساس د زورنې څرگنده پته لگي -

په خپلو څو شعرونو کښې وائي :-

ورکه دا رنگه پښتو شه ورک افغان
هائے دے نهٔ اوري له خپل خویه ارمان
په خپل خېر و په شر نهٔ دے نهٔ پوهېږم
بني آدم دے او کهٔ غولِ بیابان
دیو دېز دارو به ئې نهٔ وي په کسبت کښې
دے به جنگ له پاڅي د سلطان
دوه پېښې به د گودر ونږ نهٔ وي
دے به ځي په لویه لار د هندوستان

Scanned with CamScanner

په خپل ځان به دې د سپې جوابې نهٔ وي
بیا به دے توکي په بڼیره د آسمان
خوي خصلت به ئې بد تر وي له د پوانو
دے به ځان کښي اولاد د سلېمان
کهٔ د خر سورلي ئې نهٔ وي چرې کړې
کړې ایلغار به په سُوَرو د املان

په دې شعرونو کښې د دې دوو شعرونو وړومبۍ مصرعې -

(د یو دز دارو به ئې نهٔ وي په کسبت کښي)
(دوه پیسې به د کودر ورسره نهٔ وي)

داسې دي چې د پښتون د غربت او اقتصادي بد حالۍ یو دردناک حقیقت هم څرګند وي او رضواني صاحب ته د دې بد حالۍ شعور حاصل وُ.

دغه دور کښې د دا نشورانو او مصلحینو په مخکښې دا حقیقت هم واضح شوے وُچې قامونه صرف په اقتصادي ترقۍ آزاد او باعزته پاتې کېدے شي او د بقاءٔ اصلح په جنګ کښې فتح یاب کېدے شي۔

پښتون فطرتاً د (پدرم سلطان بود) دَ اخلاقي او نفسیاتي بیمارۍ کښې ګېر دے د رضواني صاحب په خیال دا د نسلي او نسبي فخر او مباهاتو دور نهٔ دے دا د انفرادي محنت او زیار زمانه ده د قامونو د ترقۍ راز هم صرف په دې یوه نسخه کښې دے رضواني صاحب پښتون ته په دې روایتي ذهنیت ساتلو ډېره سخته لهجه کښې خبرې کوي:

که معنیٰ هیڅ د ر کښې نهٔ وي په خپل ځان
په نیکهٔ په تهرنیکهٔ به نهٔ شې خان
په دې تشو کړو و بړېتو هیڅ سړے کېږي
کهٔ نوسے شې فی المثل د چنګېز خان
اصالت په اهلیت په لیاقت دے
نهٔ په دې چې فلانکے خان د ننګري خان
په تش نوم داسې غره ئې څوک به وائي
چې په تورو دې وهلے دے آسمان
دا سکړک او دا رنهي شوملي په څروُ يې
چې په دوي به دومره تاوُ کاندي افغان
یو به تاسو کښي څوک داسې پېدا نهٔ شهٔ
چې دے قتل کاندي خپل نفس و شیطان
نه به ورک شي دا عنوان له دغه قومه
نه به دوي شي آسوده ارمان ارمان.

په دې شعرونو کښې دا شعر:

دا سکړک او دا رنهي شوملي به څهٔ وي
چې په دوي به دومره تاوُ کاندي افغان

یو ډېر ښکلے علامتي رنګ لري دا د پښتنو د بد اقتصادي حالت د بیانولو د پاره یوه استعاره ده په ضمني توګه یو مطلب ترې دا هم دے چې پښتون لا هغې د فرسوده روایاتو او رجعت پسند ذهنیت سره ځان کلک تړلے دے۔

هر مصلح کهٔ د هرې پایې او نظریې وي هغه په دې جذبه کښې د قام پرستۍ عنصر او د انسانیت دوستۍ عقیدهٔ شامله وي قام پرستي جوړېږي هم دَ

انسانیت دوستۍ نه او د قام پرستۍ معراج هم آشنانیت دوستي وي د چا په زړه کښې چې د خدائے د مخلوق سره مینه وي نو هغه به انسانیت دوست هم وي او قام پرست هم بلکې حېوان دوست به هم وي رضواني صاحب پښتون او پښتني روایاتو سره مینه لرله خپل وطن او علاقې سره یې محبت وُ د پښتو ژبې محسن وُ په دغه دور کښې په پښتو کښې یکل پښتو د پنجاب یونیورسټۍ د شرقي علومو په کورس کښې شامل ول د ډېر د حېرانتیا او د قدر وړ کارونه وو۔

رضواني صاحب د پښتنو او د پښتني روایاتو سره د خپل مینې څرګند و نه داسې کوي:۔

~

که پښتون شي ګډ اګر د کل جهان
غیږ یې تله د دوړې دے تریونان
هسې بنهٔ مهمان نوازه خلق نشته
لکه خدائے چې پیدا کړے دے افغان
که بهر ورته مزرے وي نو په کور کښې
له ادب به ځان مرے که تا به خان
د هر چا ځائے چې ورشي بې تکلیفه
کټ پوزے ورته تیار وي ارش ونان
د خپل ملک او وطن سره د مینې په لړ کښې یې
د پېښور په صفت کښې ډېر ښکلي ښکلي دي دي
لړ کښې څهٔ شعرونه مخکښې لیکلي شوي دي باقي
یو شعرونه یې دلته درج کولے شي:

~

کشمیریان چې یو ځل را شي په دا لوري
بیا ترمرګه نوم نهٔ اخلي د کشمیر
په هر باغ کښې یې باړه هسې جاري ده
چې بهېږي په جنت کښې جوئے شیر

---

د څهٔ ګل لاله بوی دا غږ په دې زمکه
رضواني دا پېښور دے که بر جال دے

## دیو نقاد په حیث:۔

لکه څنګه چې واضحه ده رضواني صاحب د عربۍ، فارسۍ او پښتو ژبې عالم، فاضل شاعر او یو کوال شخصیت وُ۔ دې خصوصیاتو نه پرته یو بل ښهٔ خصوصیت د هغوئې د نقادانه صلاحیت او بصیرت هم دے۔ د (بهارستان افغاني) په یو نظم کښې چې خیال بخاري صاحب ورته په یوه چاپ مقاله کښې د (پښتانهٔ شعراء) عنوان تا کلے دے دا خبره څرګند وي چې رضواني صاحب یو ډېر ښهٔ تنقیدي نظر درلود په دغه نظم کښې چې هغوئې د خوشحال خان، عبدالقادر خټک، اشرف خان هجري، رحمان بابا، عبدالحمید بابا او د کاظم خان شیدا د شاعرانه شان او مقام کومه تا کنه کړې ده دا د دوئې د یو اعلیٰ نقادانه اهلیت او صلاحیت واضح دلیل دے۔

په پښتو ادب کښې د خوشحال مقام۔ د هغه د شعر

---

(۱) کابل مجله ۱۲۸ (۱۶) کال جدي ۱۳۲۴، ۱۰ ګڼه صفحه ۳۲ - ۳۸

په تخلیقي عمل او فني ځانګړتیاوو او د عربۍ فارسۍ او یوناني ژبو د کلاسیک شاعرانو سره د هغهٔ فني موازنه او تبصره کول یو داسې شاهکار تنقیدي نوټ دے چې تر دوي پورې نهٔ چا په شعر کښې کړے دے او نهٔ په نثر کښې بلکې د جدید تنقید د پاره د راهنما تنقیدي مقولو حیثیت لري لکه چې وائي:-

په پښتو ژبه کهٔ ډېر وو شاعران
خو په واړو کښې بادشاه دے خوشحال خان
هیڅ حصار[1] نهٔ دے په لوړه په جوړه[2]
نهٔ پوهېږم اباسین دے کهٔ طوفان
منظومات ئې دي لړۍ د مرغلرو
کهٔ تسبیح دي د یاقوتو د مرجان
د خوشحال د زړهٔ قطرې څهٔ هسې نهٔ دي
چې سیالي به ئې کاندي لعل د بدخشان
فصاحت ئې د کلام په خپل لسان کښې
د حسان بن ثابت دے د سبحان
رزمیات ئې هو بهو د حماسې دي
په عشرت کښې بونواس دے د دوران
په اشارو د قدرت کښې چې راچل شي
ته به وائې چې هومر دے د یونان
په شکوه د اورنګزیب او د بهرام کښې
فردوسي هم ورته پاتې شي حیران
پښتنو کښې خوشحال خان داسې شاعر دے
لکه ؤ امرؤالقیس په عربستان
مقالات ئې واقعي او حسب حال دي
نهٔ فرضي وټېل چې کاندي شاعران
تر شیرین خوږو الفاظو ئې زاریږي
د پر خسرو غوندې طوطیان د هندوستان

د غه رنګ د عبدالقادر خان ختک د شاعرۍ د فني اړخ چې هغه نکته سنج دے شیرین بیان دے نازک خیال دے او د هغهٔ د شاعرۍ معنوي اړخ چې د هغه خیالات یو علمي او نظري شان لري د ډېرې صحیح او ژورې تنقیدي مطالعې مظاهره ده لکه چې وائي:-

پس له دهٔ که څوک شاعر ؤ سخندان
نکته سنج نازک خیال شیرین بیان
خیالات د دهٔ څهٔ هسې بلند نهٔ دي
چې کښېوزي په کمند کښې د آسمان

اشرف خان هجري د پښتو شاعرۍ یو ویړژن او المیاتي شاعر دے د دهٔ شاعري د هجر او درد د تودو تودو احساساتو او کیفیاتو او د لوخړو لوخړو اسویلو کومه دردناکه دنیا لري د واقعیت او د حسب حال عنصر د دې مقام ډېر وچت او منفرد کړے دے ـ

---

(۱) ایسار

(۲) ژوره

رضواني صاحب دده د شاعرۍ اصل محرکات
هم د غه د قيد و بند او په هېواد دونو لرې مسافري
بنائي - ليکي چې : ـــه

د هجري طبيعت هاله زور ښکاره کړه
له وطنه چې دکن ته شه روان

د کاظم خان شيدا د فن په باره کښې چې
رضواني د کومو تنقيدي خيالاتو اظهار کړے دے
او کوم تنقيدي اصطلاحات ئې ورته تړلي دي دا د
رضواني صاحب د علمي ادبي او تنقيدي شعور ښکاره
دليل دے - د رضواني صاحب تر عصره پورې د شيدا
په شاعرۍ د اسې صحيح تنقيدي نظر چا نه دے
وړاندې کړے - د رضواني صاحب تنقيد د شيدا د
فکر او فن سره ډېره د نزدې آشنائي پيدا کړې ده -
د نزاکت او لطافت غوندې اصطلاحات، د
هغه غزل ته د (پرستان تصوير) ويل او د
هغه د تشبيهاتو ته د (غضب تشبيهات) ويل
د شيدا د فن د ادراک ښکاره ثبوتونه دي -
رضواني وائي :- ـــه

په هوا يې هيڅ مارغه د خيال پرې نشو د
ده چې باز د طبيعت خپل کړه پرات
لطافت او نزاکت چې د کلام ؤ
واړه خدا ئے کړه په نصيب د کاظم خان
تشبيهات ئې څه دا هسې غضب نه دي
چې ذړګے به ورته ټينګ کاندي انسان

هر يو شعر ئې د ديوان انتخابي دے
هر غزل ئې دے تصوير د پرستان
د غه ډنګ رحمان بابا ته (موسيقار) او
د (افغان اولس خواجه حافظ) ويل او داچې
(صوفي، محتسب او قاضي يې هم ګډ کړه) د
رحمان بابا د معجز بيانه شاعرۍ او د هغې د اکثر
او تاثير په لړ کښې د رضواني صاحب د تنقيدي
نظر صحيح رسائي ده - ـــه

بيا په دور د شاه عالم په سرېن کښې
چې ښکاره شه په جهان عبدالرحمٰن
موسيقار غوندې يې هسې نغمې وکړې
چې ئې پورې کړلو اور په کل جهان
تا به وے چې د شيراز خواجه حافظ دے
چې پيدا شه په ولس کښې د افغان
که صوفي که محتسب او که قاضي ؤ
چې له مانه ئې تول ګډ کړه په ميدان
حميد بابا چې په پښتو شاعرۍ کښې د کوم سبک
بنياد کېښود هغه د نازک خيالۍ باريک بينۍ او د
موزونو د نګينو ټکو د استعمال دے په دې سبک
کښې د نوو نوو معنو په کائنات کښې د ځينو نو
ترمېنځه د نوؤ نوؤ رشتو مشابهتونو او
حقيقتونو لټون، او د انفس او آفاق په ترون
ډېره پاملرنه او زيار کاږلے شي -
رضواني په دې يو شعر کښې دې ټولو ځانګړتياو د

ته اشاره کړې ده -

۔ چې یې د پېښل په زور د طبیعت خپل

په الفاظو په ځائے ستوري د آسمان

د علي خان د فن په باره کښې رضواني صاحب څه خاص رائې نه ده ښکاره کړې صرف د یو نامعلوم شاعر (زلالي) سره د مشابهت په بنیاد په بالواسطه طریقه پېژندګلو کړې ده -

د علي خان نه پس رضواني صاحب د شعرو شاعرۍ په باره کښې خپل اصل تنقیدي نظر وړاندې کړې د خوشحال خان نه واخله تر علي خان پورې دا ټول استاذان کښې څو د مقصدیت او افادیت په حواله هغوي د دوي د شاعرۍ نه ډېر مطمئن نه وو - رضواني د دوي شاعري صرف د خیالاتو مصوري ګڼي دوي د فن په مقابله کښې زیاتره د واضح مقصد او بیا په تېره تېره د وعظ و نصیحت قائل و او دې لړ کښې هغه د بابوجان د شاعرۍ انتخاب وړاندې کوي -

دې لړ کښې رضواني صاحب وائي : -

۔ څو دا ټول مصوران وو د خیالاتو

مبتلا په خط و خال وو د جانان

هیڅ یا و نه کړه په وعظ و نصیحت کښې

هسې شان چې و شُل وکړه بابوجان

له دنیا وما فیها به دې زړه تور شي

که یې وا وري اے غافله یو بیان

د بابوجان شاعري واقعي د وعظ و نصیحت شاعري ده او د دنیا او د ما فیها نه د سړي زړه تور وي -

لکه چې وائي : -

اے غافله اے غافله خدائے دې هېر شو

ته د لوند په خوښۍ لاړې وا ورې تېر شو

دغه نوس خبیث دې پېر ته یې مرید یې

دا شیطان درته د ښه نېکخواه په څېر شو

دا دنیا ئې درته ناوې ښائسته کړه

زړه دې درست د دې په مینه تر چاپېر شو

زړه دې شو سخت اثر پرې باندې نه کړي

د بابوجان د نصیحت سبق دې هېر شو

---

د دې زمکې په سر څو څو بادشاهان وو

کل همه واړه د مرګ په لور روان شو

د سلیمان د سکندر له قیصې واوره

چې د مرګ په منزل ورغله حیران شو

څو څو دا هسې شاهان د زمکې نور وو

اوس نو مونه ئې څوک نه اخلي بې نشان شو

په دنیا چې ئې راحت کړه بابوجانه

مسافر دي له دې زمکې پردیسیان شو

د شعر په باره کښې د رضواني صاحب په دې تنقیدي نظر د ملائیت کافي اثر دے او دغه وجه ده چې رضواني صاحب سره د دومره علمه او ادبي ذوق ته په پښتو ادب کښې څه خاطرخواه ادبي تنقیدي کارنامه تر سره نه کړه رضواني د پښتو

Scanned with CamScanner

ادب او ژبې په باره کښې او د پښتنو د اجتماعي
سیاسي او معاشرتي ژوند په باره کښې څۀ خاص
سائنټفک سوچ نۀ درلود او نۀ یې څۀ خاص
منظم تحریکي رجحانات او میلانات لرل -

په دغه دور کښې په برصغیر کښې د سرسیّد
احمد خان، محمد حسین آزاد محسن الملک، حالي،
شبلي، د پټې نذیر احمد او د داسې نورو ډیرو
همعصرو لیکوالو، دانشورانو علمي او ادبي
کارنامې د رضواني صاحب په مخکښې وې د رضواني
صاحب د علامه اقبال سره هم بیدل کتل شوي
وو دې لیکوالو او دانشورانو چې د اردو ژبې
او ادب، د اردو خوانې طبقې د معاشرتي تمدني
او تهذیبي پرمخ تګ، د ادبي او علمي ټولنو، رسالو
اخبارونو د علمي، ادبي او تنقیدي شاهکارونو
په اساس کوم غټ غټ کارونه ترسره کړۀ رضواني
صاحب د دغو هر څۀ نه څۀ خاص اثر واخست.
د رضواني صاحب د کتابونو په فهرست چې اکثر
په عربۍ او فارسۍ کښې دي، نظر واچولے شي
او ورسره ورسره د محمد حسین آزاد (۱۸۳۰-۱۹۱۰)
په آب حیات، د الطاف حسین حالي (۱۸۳۷-۱۹۱۴)
په مقدمه شعر و شاعري، یادګار غالب، مسدس حالي
او خصوصاً د شبلي صاحب (۱۸۵۷-۱۹۱۴) په کتابونو
المامون، الغزالي، الفاروق، سیرة نعمان، سوانح
مولانا روم، سیرت النبی، الکلام، موازنه انیس و
دبیر، او خصوصاً شعر العجم او د علامه اقبال
(۱۸۷۷-۱۹۳۸) په کتابونو نظر واچولے شي نو سړے
حیران پاتې شي چې د خپل عصر علمي ادبي او تنقیدي
معیارونو د رضواني صاحب علمي تبحّر او ادبي ذوق
ولې متاثره نۀ کړو - نو دا کے صرف تر رضواني صاحب
پورې محدود نۀ دے - دا د پښتو ژبې او ادب د
فطري ارتقاء یو جبر دے چې د پښتون اولس د
ذهني او دماغي یون سره سره یې زمونږ علمي،
تحقیقي او ادبي یون هم سست او ټکنے ساتلے
دے او بیا د دې هم وجوهات شته چې زیاتره سیاسي
او تمدني دي -

لنډه دا چې رضواني صاحب یو ډیر لوئے عالم
او فاضل سړے وُ- د وسیع علم او لوستې سره سره
د ښۀ ادبي ذوق خښتن وُ- ښکلے شاعر وُ- د یو
اعلیٰ تنقیدي صلاحیت او استعداد خاوند وُ د شعر
په باره کښې یې یوه خپله نظریه لرله - د دې پرته
د پښتو ژبې محسن او د پښتنو یو مصلح قام پرست
دانشور وُ -

# مأخذونه :

۱- شکرستانِ افغاني : له شمس العلماء قاضي میر احمد شاه
رضواني مملوکه ډاکټر سهیل انشاء
۲- بهارستانِ افغاني :- له شمس العلماء قاضي میر احمد شاه
رضواني مملوکه ډاکټر سهیل انشاء
۳- رضواني (چاپ مقاله) کابل مجله ۸ ، ۱۷ (۱۶)
کال جدي ۱۳۲۴ (۱۰) ګڼه صفحه ۳۲-۳۸

Scanned with CamScanner

جوهر خليل

# مير احمد شاه رضواني

---

د ادب په افق ستورے تاباني وُ — د پښتو عظيم محسن خو رضواني وُ
په پردي خاوره يې خپله ژبه شته کړه — په پنجاب کښې هم ځلنده افغاني وُ
آسان فهمه يې د نثر رو ګودر کړو — بې د شکه د پښتو د باغ مالي وُ
او شعرونه يې خواږه خواږه شکر دي — د خوبانو په محفل جاوداني وُ
د غيرت او پت د لارې لاروے وُ — لوے ننګ يال هم لوے نمسے د ابدالي وُ

---

خو بې قدرو پښتنو هېر کړو دا ځوان — سلامته راته د پښکاريږي ځان
مورخه ژبه پښتو تش په نامه ده — څهٔ ورنهٔ کړهٔ په ژوندون ورله افغان

---

رضواني کهٔ وُ قربان په خپله ژبه — ورسره يې کړل ليکل په بله ژبه
ګلک پښتون وُ د نړۍ د افغانانو — پېچې يې وموند صف کښې ځائے د شاعرانو

---

پښتو ژبه يې ژوندۍ کړه په خوا دو
تلے نهٔ دے د يل کس په اشارو
رضواني به په ادب کښې منارہ وي
د پښتون د غرو به لويه تاتره وي

---

(عربي)

# قصيدة الرضواني في بني افغان

## د رضواني قصيده د افغانانو په اړه

پښتو ژباړنه : احمد شاه منصور + نظرثاني : محمد صديق صاحبزاده الازهري

۱- افغان (داسې مېړنی) قوم دی، ډېر يې وېنې (بهادري يې) چې مخامخ شي ورسره (داسې يرغل کوي لکه) تند زمري او پړانګ د جګړې په وخت کښې.

۲- بُرد باره او نرم (مزاجه) دي يکن (البته) په خپلو جونګړو کښې او زړونه يې په مېدان جنګ کښې سخت دي.

۳- (دوئ د) ياجوج او ماجوج (په څېر) په ټوله ځمکه (خواره يا حمله کوونکي) دي. نشته هغو لره (په مقابل کښې) مانع او يو تن ئې (په مېړانه کښې) د زرو (کسانو) سره مقياسه کېږي.

۴- د ا ذکي پښتو ته داسې لکه د شيطان (چې ورپېښېږي) د خلقو په ټوليو کښې، اګر که (هغوئ) ټول شوي وي سره په ګنجونو د مدراس (درسګاه تورات) کښې.

۵- نهٔ شي بلېدی د هغوئ په مقابله کښې اور (د دښمنی) او څوک يې د مخالفت توان نهٔ لري او نهٔ څوک ئې د جګړې په ورځ سيالي

کولی شي په اسونو.

۶- نهٔ اوري بغېر د شرنګهار د تورو نه، او نهٔ ئې تنده ماتېږي د د ښمن د وينو څښلو نه په جامونو.

۷- حلقې جوړوي مرغان (کارغان) د لې د لې دَ دوئ د پاسه (په هوا کښې) ملګرتيا کوي دوئ سره په جګړه (مقابله) د پلیتانو دښمنانو کښې.

۸- الله تعالیٰ دې جزا ئې خېر ورکړي دَ خېبر وُسېدونکو بهادرو ته چې د شيطان په مقابله کښې د ېوان دي.

۹- او ډېر تعجب دی د بونېر، سوات او چېلاس هغه بهادرو ازمرو ته چې دَ شاهين او عقاب په رنګ حملې کوي.

۱۰- خدای لوی دی نېتهې تيا کلي شوې دي – ځرګند شوی د ښمنانو ته يې د خلقو په صورت (شکل) کښې.

۱۱ (څه ځښتي ځښتانې) دَ تاړ کونو د دوئ په هر ځای کښې (دي) دَ اصفهان نه د هتاس تر بڅو

پورې -

۱۲- هغوئ ګډ (پائمال) کړي، زمکې د جے پال او داسې نور ځائونه (د هغه په څېر) او داسې نه لګه مېده (تېکول) کول د ذړې په هاون کښې

۱۳- د هندوستان بې شمېره ځنګلې د دوئ د حملو په وجه د هاتیانو ګېنډو او بېزوګانو نه خالي شوې -

۱۴- کهٔ چرې ته پوښتنه کوې د هغه چانه (چې) مخالفې کېږي ورسره د جګړې په وخت پس ویوښته د زړې نه په منځ د غرسني حیوانو کښې -

۱۵ نهٔ پاځیږي هغوئ لره مقابله کښې سیالي کوُنکے په جګړه کښې (مګر داسې وي) لکه د ګېډو په څېر چې خبر شي د پرغل د لېوهٔ نه (په رمه کښې)

۱۶- رښتوني ځوانان دي مېړني د جګړو دي او بریالي شوي په لوے او وچت والي سره (په قربانۍ ورکولو) د سرونو -

۱۷ بنسټ ایښودونکي د لوئې څښتنان د عزت او خاوندان (د داسې لوے) شرف دي چې د هغه بنسټ ایښودنه شوے د لوے او هسکه غره په سر کښې -

۱۸- (دوئ) لکه د تورې ساتنه کوي د خپل ځان د پېغور، بدنامۍ او غېبونو نه -

۱۹- (دوئ) په میراث وړي یو شمېر د بل شمېر نه شرف او تېره توره او نېزه (چې) څوک

یې داسې چمک وهي) لکه چراغ

۲۰- (دوئ) د سلیمان علیه السلام اولاد دے هغه (چې) تابع کړي وُ الله تعالیٰ ورته پېریان انسانان او هر ډول مارغان -

۲۱- د سپینو (بنګینه) وښانو مالکان دي بېکن کوروته د دوي د لبنان د غرونو په سرونو کښې د عقاب د جالې په شان دي -

۲۲- تلونکي (کوونکي) دي د هغه څه چې اراده ؤکړي لکه تېرې تورې او د نېزو سرونه اګر چې په ډېرو لږو مقامونو کښې وي -

۲۳ کهٔ (خېره) وشي د سخا، نو (حاتم) طائي ورسره سیالي نشي کولے - یا کهٔ د جګړې خبره وشي، نو ساتي ورته ځان هر خبر تېولو نه -

۲۴- څومره دوي خپل مال مصرفوي الله تعالیٰ دې ورته جزا ئې خپل ورکړي (البته) دَ سخاوت له وجې نه، نهٔ دي دوي بخیلان او وروستو پاتې کېدونکي (دَ خېر خېرات نه)

۲۵- څومره باعزته وي مېلمه او کاوندیان دَ دوئ ترڅنګه او پناه اخستونکي اګرکهٔ وي یو چوړے (جارو کش)

۲۶- هر د شپې سفرکوونکي (لره) په ژمي کښې شته دوي سره (ور د کړمه حجره چې) تیتیږي ورته سر د خدمتګار

۲۷- مالدار د دوئ نېک اخلاقه او خوشبوئ (وي)

Scanned with CamScanner

د مېنګو، کشمالو او اس (يو ډول خوشبويۍ ده) (دعطرو) نه -

۲۸- کله چې ځاے ورکړي (کوم) غريب ته (نو) واۍ ويائو د هغوۍ، پناه غواړو دَ وسوسې د ډېر وسوسه کونکي (شېطان) نه

۲۹- کوُونکي دي څه چې وواۍ او وعده وکړي، نشته په هغوي کښې سهوه او هېرَه (د وعدې او ويناء نه) -

۳۰- خيانت نهٔ کوي پس (د هغې) ورځې نه چې تړون وکړي هيڅکله، (ان تردې چې ملامت کړے شي په وهلو د کېږو (سره)

۳۱- څومره ډېر دي په دوۍ کښې (مېړني او باتوران) او مېړني د عرب (د عربو نه هم دوي بهادران دي) کله مې چې دواړه وتلل د انصاف په تله -

۳۲- څومره ځا هلان دي هغه تېر شوي خلق که هغه شپونکے دے، کهٔ ساربان دے او کهٔ لرګيه (لرګهارا)

۳۳- هغوي په داسې څيزونو فخر کوي چې حاصلولے يې نهٔ شي (ربې قائدې فخر) لکه چې پنځم له په شپږم کښې ضرب ورکړے (يو په يو کښې ضرب)

۳۴- کهٔ د عربو شاعرانو د طمعې په وجه مبالغه کړې ده خو ابو الصفاء مبالغه نهٔ ده کړې (حقيقت يې بيان کړے دے) ځکه چې تهٔ ابو الصفاء (نو رو ته) دو تحر او کېږې ورکونکے يې (يعني سخي يې) (مطلب) يعني زهٔ دَ طمعې په وجه مبالغه ادايۍ نهٔ کوم

---

۱- پنځه او شپږ اعداد دي او پنځم او شپږم نه بالترتيب مراد په پنځم نمبر کښې (يو) او شپږم نمبر کښې (يو) دے - په دې وجه يو له چې يو کښې ضرب ورکړے شي نو يو به تړپه دا ورځي -

الشنفری (العظیم الشفتین) ھو ابن اوس بن حجر الازدی شاعر جاہلی وکان من العدائین المشہورین وبہ یضرب المثل فیقال اعدی من الشنفری ۔ ومن اصحابہ عمرو بن براق وتابط شرا ومنھم سلیک المقانب واسد بن جابر فہولاء لم تلحقہم الخیل واسد بن جابر ہو الذی کان امسک الشنفری فقتل

# قصیدۃ الرضوانی فی بنی افغان

افغانُ قومٌ تریہم ان لقیتَ بھم ... اُسُدَ الشریٰ وبنی جنٍّ لدی الباس
ھَینُونَ لیِّنُون لکن فی منازلھم ... وقلبھم بین حومات الوغا قاس
یاجوج ماجوج ملاء الارض لیس لھم ... سدٌ و واحد ھم الفٌ بمقیاس
طاروا الی الشر کالشیطان فی زَجَل ... ولو تکوّنَ فی اکناف مِدراس
لا تصطلی لھم نارٌ ولا احدٌ ... یوم الرھان یُساویھم بافراس
لم یسمعوا غیر رنّاتِ السیوفِ ولا ... تشاغلوا عن دم الاعداء بالکاس
قد حلّقت عافیاتُ الطیر فوقھم ... مصاحباتٍ لھم فی غزو اَنجاس
للہ درُّ رجال من خیابر ۃ ... ومن عفاریدِ للخناس سُوّاس
ویا لھم من بنو سے فی بنیرو فے ... سوادہ وعقابین بجیلاس
اللہُ اکبرُ آجالٌ مُقدّرۃ ... بدت لاعدائھم فی صَوۃ الناس
یاشنَّ غاراتِھم فی کل ناحیۃ ... من اصفہانَ الی آسقاع دھتاس
ھم دوخوا ارضَ جیبالٍ واختہ ... ولا کد قاث حباتٍ بھراس
کم من غیاضٍ بھمندٍ قد خلت لھم ... من کل فیل و مرمیلٍ ونسناس
ان کنت تسال عمن ینبری لھم ... یوم اللقاء فعلزا بین انیاس

فلا يقوم لهم قرن بملحمة … مثل الشماء اذا احسست بعشعاس

فتيان صدق مساعير الحروب وقد … فازوا من المجد والعلياء بالراس

بناة مجد اولو عز ذوو شرف … مؤسس فوق طود شامخ راس

بيض يصونون اعراضا بانفسهم … من كل عار واوساخ وادناس

تواس ثوا كابرا عن كابر شرفا … وصارما وسنانا مثل نبراس

نبي سليمان من دان الاله له … جنا وانسا وطيرا كل اجناس

بيض الانوق لديهم ببذورهم … او كا رعقبان لبنان بعرناس

ماضون فيما ارادوا كالصوارم او … كصائب السهم في اقصاد برجاس

ان قيل جود فلا الطائي شابههم … او وقعة فاتقاهم كل جبّاس

كم اتلفوا مالهم لله درهم … جودا فليسوا بابرام وانكاس

ما اكرم الضيف والجيران عندهم … والمستجير ولو كان ابن كنّاس

لكل طارق ليل في الشتاء لهم … نار يكب اليها راس شماس

اغناهم طيب اخلاق معطرة … عن اذفر المسك والريحان والآس

اذا اجاروا غريبا قال قائلهم … نعوذ بالله من وسواس خناس

الفاعلين لما قالوا وما وعدوا … به فليس بهم ساه ولا ناس

ما غادروا بعد يوم عاهدوا ابدا … حتى يلاموا بهذا اضربة الفاس

كم فيهم والحماسيين من عرب … اذا وزنتهما وزنا بقسطاس

ما الجهل الجاهليين الذين مضوا … من كل راع وجمّال الجي قاس

تفاخروا بمواش فلما حصلت … لهم كضارب اخماس باسداس

ان بالغ الشعراء العرب عن طمع … **ابا الصفا** فانت الطاعم الكاسي

سید فیروزشاه اثرګیلاني

## اروابناد محقق، افغان شمس العلماء

# قاضي میراحمدشاه رضواني

دبرطانوي هند دَ وخت دڅېرو هانو په لړ کښې زمونږه دپښتونخوا لوے اوستر عالِم او فاضل قاضي سید میراعظم شاه رضواني رحمة الله علیه دټولو نه سرِفهرست دے - نوښارضلع کښې یو کلے اکبرپوره نومېږي چې دغه کلي ډېر لوے لوے عالمان، شاعران او فاضلان پېدا کړي دي - په دې کلي کښې دعلوموڅلور" شموسه" تېرشوي دي - په اولیاؤکښې شمس الاولیاء حضرت سید عبد الوهاب اخوندپنجو بابا مشهورپه بابا صاحب داکبرپوري، په قاریانوکښې شمس القمر قاري کندل الکوزے اخونزاده[1]، په حکیمانوکښې شمس الحکماء حکیم مولانا عبدالله جان بېسودي[2] او په عالمانوکښې اروابناد قاضي سید میراحمدشاه صاحب رضواني د هند په شموس عشره کښې یو وُ لسم دپښتونخوا داکبرپوري کلي وسېدونکے قاضي سید میراحمدشاه رضواني رحمة الله علیه وُ - د قاضي میراحمدشاه رضواني دکورنۍ نیکهٔ قاضي میرعبدالرحمٰن بخاري[رح] دبخارا شریف نه تشریف را وړے اودلته آبادشوے وُ - بیا دلته دغه کورنۍ دخپل علم او قضاء په وجه په ټوله پښتونخواکښې مشهوره وه - اروابناد قاضي میراحمد شاه رضواني په کال ۱۸۶۰ءکښې د اپرېل په یولسمه[11] نېټه د قاضي میرصاحب زاده جي دحضرت اخوند صاحب آف سوات یو پوخ مرید او خلیفه وُ - اروابناد ټول

(۱) شمس القمر اخونزاده قاري کُندل الکوزے زما د قرأت استاذ قاري عبد المنتقم الکوزي زوے دَ قاري عبد المستعان الکوزي دحاجي صاحب ترنګزو خلیفه) نیسکهٔ وُ او د پهند و د قاري عبد الله موصلي قریشي شاګرد وُ - (اثرګیلاني)

۲- شمس الحکماء مولانا عبد الله جان بېسودي د محدث اعظم مولانا عبد اللطیف ساکن چارباغ زخه نزدي اکبرپوره مشرزوے وُ - مولانا عبد اللطیف زما د نیکهٔ استاذ تېرشوے دے (اثرګیلاني)

Scanned with CamScanner

مروجه علوم د خپل والد ماجد نه او بیا د قرأت علم ئې د اخونزاده قاري کُندل بابا الکوزي ۲ نه حاصل کړے وُ۔ څهٔ موده ئې د خپل مورني نیکهٔ (نانا) قاضي محمد غلام صاحب علوي آف کړوړه نه هم حاصل کړے وُ۔ بیا ئې چچه ته تشریف یوړو او هلته ئې د علم تکمیل وکړو۔ ارواښاد رضواني د پښتو ژبې یولوے عالِم بنده، ادیب او ستر محقق وُ۔ په هغه دور کښې د چا پښتو ته دومره فکرنهٔ وُ۔ ولې هغوئې پکښې ډېرې شمېره کتابونه لیکلي وو۔ ارواښاد رضواني د برطانوي حکومت هند په دور کښې په لاهور کښې غیر ملکي انګرېزانو له د پښتو ژبې استاذ وټاکلے شو۔ بیا د پنجاب او دهلي په کالجونو کښې د پښتو ژبې د زده کړې د لارو چارو استاذ هم پاتې شوے وُ۔ د خپل علمي قابلیت په بنا په انګرېزئ ژبې باندې ئې هم عبور لرلو۔ د اغه وجه وه چې ارواښاد د ټیکسټ بک کمېټۍ غړے هم پاتې وُ۔ ارواښاد د خپل ژوند زیاته برخه په پنجاب کښې تېره کړې وه۔ هلته ئې د سرکار نوکري اختیار کړې وه۔ دوئې په عربۍ، فارسۍ، پښتو او اردو کښې ډېرې شماره کتابونه لیکلي وو۔ دَ سیاره ډائجسټ د قرآن نمبر جلد دوم په حواله زهٔ دا وایم چې ارواښاد رضواني په اردو ژبه کښې د قرآن کریم یو تفسیر هم لیکلے دے چې نوم ئې لمع العرفان فی توضیح القرآن" دے۔ چې ننُ سبا په کان پور کښې یو لائبرېرۍ کښې خوندي دے۔ ارواښاد د تاریخ نه واخله تر انتراپالوجي پورې هر فن کښې کتابونه لیکلي وُ۔ د دې لویه وجه دا وه چې سرکار ورته هر قسمه کتاب مهیا کولو د دوئې په کتب خانه کښې ډېرې شمېره کتابونه وُ۔ او س د هغوي کتب خانه ختمه شوې ده[۱]۔ ارواښاد رضواني د پښتو، عربۍ، فارسۍ او اُردو ژبې ډېر زړه نکته سنج شاعر وُ۔ او په حیثیت د شاعر ارواښاد رضواني صوفیانه او اخلاقي اشعار ویلي دي د ستر خان علیین مکان خوشحال خان خټک ډېر عقیدتمند وُ۔ خپل یو دیوان ئې د "دیوان اشعار عربیه و فارسیه و افغانیه" په نوم شائع کړے وُ۔ د خوشحال خان خټک په بابله ئې اشعار څهٔ د غه رنګ دي۔

ﮯ په پښتو ژبه کښې ډېر وو شاعران
خو په وارو کښې بادشاه دے خوشحال خان
هیڅوک ایسار نهٔ دے په لوړه په ژوره
نهٔ پوهېږم اباسین دے که طوفان

---

۱۔ د ارواښاد رضواني د خپل لاس مرتب کړے د خپلې کتب خانې د کتابونو د نیمګړې لسټ د ډاکټر میا سهیل انشاء په ذاتي کتابتون کښې خوندي دے۔ چې د آخری کتاب نمبر ور کښې ۴۹۸ ته رسېږي۔ دا لسټ ډېر وېږد دے۔ او کتابونه په زرګونو کښې وُو۔ (راشد ګیلاني)

“ منظومات یې دي لړۍ د مرغـــلرو
کهٔ تسبیح دي د یاقوت و د مرجان
د خوشحال د ذرهٔ قطرې څهٔ هسې نهٔ دي
چې سیالې به یې کاندي لال د بدخشان
فصاحت یې د کلام په خپل لسان کښې
د حسان بن ثابت دے د سحبان
رزمیات یې هو بهو د حماسي دي
په عشرت کښې بونواس دے د دوران
په اشارو د قدرت کښې چې راچل شي
ته به وائې چې هومر دے د یونان
په شکوه د اورنگزیب او د بهرام کښې
فردوسي هم ورته پاتې شي حیران
پښتنو کښې خوشحال خان داسې شاعر دے
لکه و امراء القیس په عربستان
مقالات یې واقعي او حسب حال دي
نهٔ فرضي و نېل چې کاندي شـــاعران
ترشیرین خوږ و الفاظو یې ذاد بڼي
د پرخسرو غوندې طوطیان د هندوستان
د غه رنګې ارواښاد د عبد الرحمٰن بابا مومند
هم د پر معتقد وُ. لکه چې وائې ـ

“ بیا په دور د شاه عالم په سره بن کښې
چې ښکاره شو په جهان عبد الرحمٰن
موسیقار غوندې یې هسې نغمې وکړې
چې یې پورې کړلو اوّ په کل جهان
تا به وے چې د شیراز خواجه حافظ دے
چې پیدا شو په اولس کښې د افغان
کهٔ صوفي کهٔ محتسب او کهٔ قاضي وُ
ټې له مانه یې تېول کړه کړه په میدان
د افغانستان ستر محقق علامه پوهاند صدیق الله
رښتین صاحب په خپل کتاب "د پښتو نثر هنداره"
نومي کتاب کښې د ارواښاد رضواني په حقله وائي
" رضواني د عصري علومو یو ستر
عالم او لوے فاضل وُ. او د
شمس العلماء په سرکاري لقب
سرلوړے وُ دے په انګریزي هم
پوهېدو. د پر کتابونه یې لیکلي دي
چې د څنو نومونه یې دا دي[1] ـ
١ـ تاریخ افغان و افغانستان المعروف
به یادګار باستان (فارسي) دوه
جلده[2] ـ

---

١ـ د ارواښاد رضواني څهٔ کتابونه لوے محقق صاحبزاده حبیب الرحمٰن قلندر مومند صاحب سره شته خو چاته یې نهٔ ښائي (اثر ګیلاني)

٢ـ د یادګار باستان قلمي نسخه د رضواني صاحب لمسي او د میر اعظم شاه بېدل زوے سید میر علم شاه سره شته خو هر چاته یې نهٔ ورکوي (اثر ګیلاني)

Scanned with CamScanner

۲- د پښتو ګرامر المسمی به وافیه (اردو)[۱]

۳- تاریخ کافرستان

۴- تاریخ افریدي

۵- مخ البعوض فی علم العروض (عربي)[۲]

۶- دیوان اشعار عربیه وفارسیه وافغانیه[۳]

۷- شکرستانِ افغاني (پښتو)

۸- بهارستانِ افغاني (پښتو)

نو دا معلومه شوه چې علامه رضواني د خپل وخت یو ستر ادیب او شاعر و، دوي په علم طب او نجوم کښې هم دسترس لرلو۔ محقق رضواني خپل ټول ژوند د علومو د پاره وقف کړے و او خپل کلي کښې د قاضیانو په جماعت کښې ناست و۔ کتابونه به ئې لیکل او ارشاد په عربۍ کښې ۷، فارسی کښې ۴ ۵ او په پښتو کښې دېرش کتابونه لیکلي دي۔ دې وخت کښې زما په ذاتي کتابتون کښې د ارشاد رضواني صاحب دغه څو کتابونه موجود دي۔ بهارستانِ افغاني (پښتو) تحفة الاولیاء (فارسي) یادګار باستان قلمي (فارسي) شکرستان افغاني (پښتو)[۴] او د پښتو ګرامر جلد سوم (اردو)[۵]

ارشاد رضواني په کال ۱۹۳۴ کښې د دسمبر په دیرشمه نېټه دې دنیا فاني نه تشریف وړے دے۔ یوځل زهٔ د ارشاد رضواني قبر ته دُعا د پاره د قاضیانو قبرستان (اکبرپوره) ته لاړم هلته مې د هغوي د قبر په غازه باندې د هغهٔ د زوے میرا عظم شاه بابا[رح] چې بیدل به ئې تخلص کولو دا قطعه تاریخ وفات په خپل قلم نوټ کړو[۶] هغه څهٔ دغه رنګے دے۔

---

۱- د پخواني شوروي اتحاد د تاجکستان په مرکز کښې د علومو د اکېډیمۍ په کتابتون کښې شته دے۔ وګورئ د زرغون الله زېښتین مقاله د پښتو د ګرامرلنډه تاریخچه پښتو څېړني ورو ښتے توک پښتو ټولنه کابل د پښتو څېړنو د نړیوال مرکز د نړیوال سیمینار د مقالو مجموعه ۱۳۵۴ صفحه ۲۹۱۔

۲- دا کتاب ئې د عربو دیو محقق حامد الجاسه د امریکې په یو پبلک لائبریرۍ کښې موندلے دے۔ دا خبره په "الفیصل" عربۍ مجله کښې د اپرېل ۱۹۹۲ء په ګڼه کښې راغلې ده کتاب د W 892.7-SA31 نمبر لاندې خوندي دے۔ د دې مقالې یوه فوټو سټېټ کاپي مې ګران ورور ډاکټر میا سهیل انشاء ته ورکړې ده (ګیلاني)

۳- دا دیوان تن سبا د دهلي کالج په کتابتون کښې دے (اثر ګیلاني)

۴، ۵، د دواړو کتابونو فوټو کاپیانې ما ته ډاکټر میا سهیل انشاء ورکړي دي چې مننه ئې کوم (اثر ګیلاني)

۶- اوس نو ئې ډاکټر میا سهیل انشاء فوټو ګراف هم اخستے دے (اثر ګیلاني)

لا اله الا الله محمد رسول الله

کُلُّ من علیها فان ویبقیٰ وجه ربکَ

ذوالجلال والاکرام۔

مرقد افصح الفصحا فخرالشعراء رئیس الاطباء

فاضل اجل عالم باعمل سید السادات حضرت مولانا

والٰینا ابوالصفاء شمس العلماء سید قاضی میر احمد شاہ

رضوانی طاب ثراہ وجعل الجنته مثواہ۔

## قطع تاریخ وفات

" وادریغا آفتابِ علم و فضل

میر احمد شاہ شد در سال حال

سید السادات رضوانی برفت،

قاضئ دوران ادیب بے مثال

پیرو دین رسول دوسرا

راہ رو راہ خدائے ذوالجلال

بیست ودو [۲۲] بود ست از ماہِ صیام

باخدا پیوستہ کرد از ما وصال

گفت بیدل بہر سال وصل او

شد [۳۰۲] نہان [۱۰۶] از چشم [۳۹۲] دست نوال

" بعمر ہفتاد و شش سال بروز یکشنبہ بعمل

دہ بجے صبح بتاریخ ۳۰ دسمبر ۱۹۳۴ از دارالفنا

بہ دارالبقاء رحلت نمود۔"

اروابناد رضوانی پہ صحیح معنو

کښې د پښتو ژبې یو ستر محقق

او تاریخ دان ؤ۔ هغوئې راتلونکي

لیکوالو ته د تاریخ لارې چارې

ښودلې دي۔ نن چې د پښتو دَ

ادب کوم کتاب لیکونکے کتاب لیکي

نو د اروابناد رضوانی صاحب

حواله به په کښې ضرور ورکوي

شهسوار سنګروال نیازي

# د عقیدت ګلونه

چې راتلونکو اولادونو ته پېغور شي
د شیطان د بد مرغۍ جام پرې نسکور شي

د وطن خاوره چې وپلوري په نورو
ټول عالم کښې یې رنګ زیړ او مخ یې تور شي

د انسان د آزادۍ تاج چې په سر کړي
د سیّد په څېر روښانه یې هر لور شي

چې خوشحال غونډې د تورې قهرمان شي
په دیرو او په حجرو کښې د ننګ شور شي

رضواني غونډې د لارې یو سر لارې
د ادب ګلونه دهٔ باندې سمسور شي

د انسان د محبت فکر چې خپل کړي
هر وطن یې خپل تاتوبي او خپل کور شي

---

ـه سید جمال الدین افغاني

ډاکټر خالد خان

# شمس العلماء قاضي میر احمد شاه رضواني

## د یو قواعد نویس په حیثیت

د پښتو په زړو آثارو کښې که چا د پښتو قواعد لیکلي وي نو هغه ورک دي او په معلومو آثارو کښې د پیر محمد کاکړ "معرفة الافغاني" په دغه لړ کښې تر ټولو زوړ تصنیف دے خو دا کتاب باقاعده قواعد نهٔ لري بلکې د دغه کتاب حیثیت د ژبې د زده کړې د یو کتاب دے. او د تصنیف کال ئې ۱۷۸۱ع / ۱۱۹۰ش دے. چې وروستو چاپ شوے هم دے.

په باقاعده ډول د پښتو ژبې قواعد په تحریر کښې راوستلو ته په اوّل ځل د روهیلکنډ د ریاست د مشر حافظ رحمت خان یوزوے نواب محبت خان خپل پام وروګرځولو او په ۱۸۰۶ع / ۱۱۸۵ش کښې ئې د "ریاض المحبت" په نامې خپل هغه کتاب ولیکلو چې وړومبۍ برخه ئې د پښتو د ځنو افعالو ګردان دے او دوهمه ئې د پښتو لغات دي چې په فارسۍ او اردو ئې معنې را وړې دي. دا کتاب تر اوسه قلمي دے. چې په فارسۍ کښې لیکل شوے دے.

میجر لیچ په ۱۸۳۹ع / ۱۲۱۸ش کښې د پښتو ځنې قواعد دا جمع کړل چې په انګریزۍ ژبې کښې ورته د پښتو وړومبے ګرامر وبللے شو.

په ۱۸۴۰ع (۱۲۱۹ش) کښې ډاکټر ډورن په جرمنۍ ژبې کښې د پښتو ګرامر ولیکلو. ورستو واهن په ۱۸۵۴ع / ۱۲۳۳ش کښې، ریورټي په ۱۸۵۵ع / ۱۲۳۴ش کښې، بیلیو په ۱۸۶۷ع / ۱۲۴۶ش کښې او ټرمپ په ۱۸۷۳ع / ۱۲۵۲ش کښې خپل مشهور ګرامرونه په انګریزۍ کښې شائع کړل. دا کتابونه یقیناً د پښتو په ګرامري ادب کښې ډېر اهمیت لري. خو زمونږ مقصد دلته دا نهٔ دے چې د پښتو د ګرامرونو تاریخ بیان کړو. بلکې غواړو چې د قواعد نویس په حیثیت د رضواني صاحب په مقام دڅهٔ وښیلونه وړاندې د هغهٔ نه مخکښې د ځنو ګرامرونو ذکر وکړو. د میر احمد شاه رضواني د پښتو ګرامر وړومبے چاپ په ۱۸۹۰ع / ۱۲۶۹ش کښې راڅرګند شو. دا ګرامر په اردو ژبې کښې لیکلے شوے دے.

تر رضواني صاحب پورې لیکل شوي د پښتو

Scanned with CamScanner

ګرامرونه موږ په دوه قسمونو کښې وېشلې شو.

۱- د انګرېزانو یا د یورپ د نورو ملکونو د خلقو له خوا لیکلې شوي په انګرېزۍ یا نورو یورپي ژبو کښې لیکلې شوي ګرامرونه.

۲- د پښتنو یا د هند د نورو خلقو له خوا په پښتو، فارسۍ یا اردو کښې لیکل شوي ګرامرونه

یا د ژبې د زده کړې هغه کتابونه چې ګرامري مواد لري.

د انګرېزانو یا د نورو یورپي عالمانو تصنیفات ډېر تفصیل غواړي او دلته زموږ د بحث نه خارج دي البته د مقامي لیکونکو د هغه تصانیفو چې د ژبې د زده کړې او د پښتو ګرامر سره تعلق لري، یو مختصر فهرست دلته راخلو.

---

مقطعات درمعرفتِ زبانِ پښتو (په فارسۍ کښې څلور قطعې) انشاء الله خان انشاء "کلیاتِ انشاء" چاپ دهلي — ۱۸۵۵ع / ۱۲۳۴ ش

الدرالنظیم فی احوال علوم تعلیم (د پښتو د زده کړې کتاب په پښتو کښې) تهي - تهوتهنګ پېښور چاپ — ۱۸۶۱ع / ۱۲۴۰ ش

غنچهٔ دوه (پښتو ګرامر په فارسۍ کښې) نور محمد قندهاري قلمي ناچاپ — ۱۸۶۳ع / ۱۲۴۱ ش

قواعد افغاني (پښتو ګرامر په فارسۍ کښې) محمد اسمٰعیل چاپ جېل پرېس پېښور — ۱۸۶۷ع / ۱۲۴۶ ش

افغانی کی پہلی کتاب (پښتو-اردو / د زده کړې کتاب) مولوي محمد حسن دهلی چاپ — ۱۸۷۶ع / ۱۲۵۵ ش

آغازِ فارسي (فارسي - پښتو د فارسۍ د زده کړې کتاب) مصنف نامعلوم لاهور چاپ — 〃

ګلزارِ افغاني (د پښتو زده کړې کتاب په پښتو کښې) غالباً پادري هیوز امرتسر چاپ — ۱۸۷۹ع / ۱۲۵۸ ش

پہلی اور دوسری افغانی (د پښتو د زده کړې کتاب په پښتو کښې) مولوي سید احمد دهلی چاپ — 〃

افغانی کی پہلی کتاب (د پښتو زده کړې کتاب پښتو- اردو) نیاز علي خان چاپ امرتسر — ۱۸۶۲ع / ۱۲۶۱ ش

ګفتګوئ افغانی (پښتو - اردو) مولوي محمد اسمٰعیل خان ایبټ آباد چاپ — ۱۸۸۳ع / ۱۲۶۲ ش

آئینهٔ الفاظِ افغانی (پښتو- اردو) مولوي محمد اسمٰعیل خان ایبټ آباد چاپ — ۱۸۸۳ع / ۱۲۶۲ ش

افغانی کی پہلی کتاب المعروف بہ چمنستان (پښتو- اردو) مولوي عبد الرحمٰن دتنګي دهلي چاپ — ۱۸۸۳ع / ۱۲۶۲ ش

معلم الالسنه (پښتو برخه / پښتو- اردو) نصرت علي خان چاپ دهلي — ۱۸۸۹ع / ۱۲۶۸ ش

خزانهٔ افغاني (پښتو- اردو- انګرېزي) محمد اسمٰعیل خان چاپ لاهور — 〃

کلیدِ زبانِ پشتو (په اردو کښې د پښتو منظوم ګرامر) منشي کریم بخش چاپ لاهور — 〃

سوال وجوابِ افغانی (پښتو-اردو) مولوي محمد اسمٰعیل خان چاپ لاهور — ۱۸۹۰ع / ۱۲۶۹ ش

پشتو ګرامر (په اردو کښې) میر احمد شاه رضواني

اول ځل د راولپنډۍ ۱۸۹۰ع (۱۲۶۹ ش)

دوهم اېډیشن (ترمیم شوی) لاهور ۱۸۹۸ع (۱۲۷۷ ش)

درېیم ځل لاهور ۱۹۰۸ (۱۲۸۷) ش

د ۱۸۹۰ع د کال نه پس تر اوسه ډېر ګرامرونه
ولیکل شول چې دلته زمونږ د بحث نه خارج دي
ځرنګه چې د دغه فهرست نه ظاهره ده، اکثر
کتابونه په سطحي ډول لیکلي شوي دي. فقط دوه
قواعد نویس داسې دي چې کار ئې اهمیت لري.
یو نور محمد قندهاري چې ګرامر ئې چاپ نهٔ شو او
په لندن کښې تر وسه د چاپ په انتظار پروت دے
او دوهم د محمد اسمٰعیل "قواعد افغاني" ۱۸۶۷ع
(۱۲۴۶ ش) چې چاپ شو خو بیا هم ګمنام پاتې شو.
بلاشبه چې د دغه معیار ګرامر تر وسه بل ونهٔ لیکلے شو.
دا په فارسۍ ژبه کښې دے او یوه نایابه نسخه ئې
زما لاس ته د پښېرې د نواب زاده صبح صادق خان
صادق (مرحوم) د کتب خانې نه دارسیدلې ده او
غواړم چې ډېر زر ئې خلقوته ور وپېژنم.

د قاضي میر احمد شاه رضواني، پښتو ګرامر
ورومبے با قاعده ګرامر دے چې په اردو کښې لیکل
شوے او په ۱۸۹۰ع (۱۲۶۹ ش) کښې په اول ځل
چاپ شو او تر وسه ئې ټول درې ایډیشنونه
شائع شوي دي. دا کتاب د پنجاب ټیکسټ بُک
کمیټۍ له خوا منظورشده وُو.

ځرنګه چې مصنف په خپله وائي، پښتو
ګرامر یو درسي ګرامر دے چې د زده کوُنکو د پاره
لیکل شوے دے او د مصنف د دوُو درسي کتابونو
شکرستان افغاني ۱۹۰۵ع (۱۲۸۴ ش) او بهارستان
افغاني ۱۸۹۸ع (۱۲۷۷ ش) سره د امدادي کتاب په
حیث تیار کړے شوے دے.

دا خبره رایادول ضروري ګڼم چې په نولسمه
عیسوي صدۍ (۱۸۰۱ع تا ۱۹۰۰ع) کښې لیکل
شوي د پښتو ګرامرونه په دوه بېلو بېلو ګرامري
روایاتو کښې لیکل شوي دي.

۱- په لاطیني اصطلاحاتو کښې لیکل شوي ګرامرونه - چې په انګریزۍ، فرانسیسۍ یا جرمني ژبو کښې دي.

۲- په عربي اصطلاحاتو کښې لیکل شوي ګرامرونه - چې په فارسي یا اُردو کښې دي.

له بده مرغه په دغه دوران کښې هیڅ یو په
پښتو کښې قواعد ونهٔ لیکل او دا کار بیا د شلمې
صدۍ په شروع کښې په افغانستان کښې وشو.
چې یو مثال ئې د وزیر محمد ګل خان مهمند "پښتو ژبې
لهٔ پاره" ده چې په ۱۳۱۷ ش (۱۹۳۸ع) کښې چاپ
شو. رضواني صاحب خپل ګرامر په اُردو کښې ځکه
ولیکلو چې غیر پښتون شاګردان ترې استفاده وکړي.
دې نه علاوه دا یو درسي ګرامر دے چې په کال ۱۸۹۰ع
کښې د راولپنډۍ د دارالمعلمین (تربیت ګاه اساتذه)
د شاګردانو د پاره لیکل شوے وُو. د دغه ځائے
هم په دغه کال د پښتو تدریس شروع شوے وُو
او معلم ئې په خپله رضواني صاحب وُو. وروستو
په پنجاب پوهنتون کښې د پښتو تدریس په ۱۸۹۸ع
کال کښې شروع شو. نو رضواني صاحب ورله کهٔ
یو څو درسي کتابونه شکرستان افغاني او بهارستان ؟

افغاني مرتب کړل نو بیل خوا ئې خپل ګرامر د ترمیم سره
بیا شائع کړو - او دس کاله پس بیا په کال ۱۹۰۸ ع
کښې د دغه ګرامر دریم چاپ منځ ته راغلو چې
زمونږ په خیال ئې آخري چاپ دے - د ۱۸۹۰ ع
کال چاپ ئې ما په اول د مئي ۱۹۷۷ ء کال د مرحوم
خیال بخاري صاحب سره د هغوئ د یونیورسټۍ په
کور کښې کتلے وُ او څه نوټس مې ترې اخستي وو.
په سرورق باندې د پښتو ګرامر سره " المسمٰی به
وافیه " هم لیکلې وُو - نو ځکه دا ګرامر په وافیه
هم یاد شوے دے -

دوهم ایډیشن ئې مونږ نه دے کتلے خو دریم
ایډیشن د ۱۹۰۸ ء کال ئې غالباً هم د دوهم ایډیشن
نقل دے چې یوه نایابه نسخه ئې ډاکټر میا سهیل
انشاء صاحب راپیدا کړې ده او یو نقل ئې ماته
را بخښلے دے چې د موجوده مضمون بنیاد وګرځېدٓ
په بختانه زمونږ سره دا وخت دوه نور ایډیشنونه
نشته چې مقابله ئې وکړو -

د رضواني صاحب په پښتو ګرامر باندې د څه
لیکلو نه وړاندې غواړو چې اول د ګرامر په فن
او د ګرامر د لیکلو په طریقه کار باندې څه ووایو.

ګرامر د هغو اصولو او قوانینو مجموعه وي
د کوم مطابق چې د یوې ژبې وئنکي خبرې کوي -
دا قوانین دَ ئ یا خو د مور په غېږه کښې او ورسره
د نیلو خپلوانو او چار چاپېره خلقو نه زده
کوي او یا ئې بیا د یو اُستاذ نه په باقاعده ډول
زده کوي -

ژبه د محدودو قوانینو او ذخیرهٔ الفاظ
مجموعه وي - دا محدود قوانین د یو وئیونکي په
ماغزو کښې مستقل ناست وي او بیا ټول عمر په
دغو باندې عمل کوي او هر قسم جملې جوړولے شي.

څرنګه چې یو وئیونکے د ګرامر د فن نه واقف
نه وي نو ځکه دغه قوانین بیانولے نه شي او
نه دا د هغه کار وي دا کار د یو قواعد نولیس وي
چې دغه قوانین راجمع کړي او وُ ئې لیکي -

د ژبې یو وئیونکے د خپلې ژبې په باب په
فطري ډول درې قسمه معلومات لري -

۱- فونیټیکي یا د آوازونو د اداګئ او یو ځائے
کولو قوانین -

۲- صرف و نحو یعني د لفظونو د جوړښت او په
جملو کښې د لفظونو د صحیح ترتیب قوانین -

۳- د لفظونو او د معنو د تعلق علم چې معنویات
ورته وئیلے شو -

دا درې قسمه قوانین د یوې ژبې بنیادي ګرامر
تشکیلوي -

نن ورځ د ګرامر علم ډېره ترقي کړې ده او د
ترقي یافته ملکونو په کالجونو او پوهنتونونو کښې
د لسانیات (ژب پوهنې) باقاعده شعبې کار کوي او
تحقیقات کېږي - د پښتو خواني ګرامرونه د لاطیني یا
عربي اصطلاحاتو او طریقه کار مطابق لیکلې شوي دي
اوس د نوی ژب پوهنې د اصولو سره سم هم تحقیقي کار

Scanned with CamScanner

وجود لري خو دا د پر محدود دے ـ

د میر احمد شاه رضواني صاحب "پښتو ګرامر" د عربۍ فارسي ګرامري روایاتو او اصطلاحاتو په رڼا کښې لیکل شوے دے او دا سې معلومیږي چې په اردو کښې دا د پښتو ورو بے باقاعدهٔ ګرامر دے ـ چې اول ځل په ۱۸۹۰ء (۱۲۶۹ش) کښې په راولپنډۍ کښې چاپ شو ـ

هسې خو رضواني صاحب خپل ګرامر ته "صرف و نحو" وئیلي دي خو د هغه دور د ګرامرونو په شان په دهٔ کښې فقط د پښتو صرفي قواعد بیان شوي دي او نحو پکښې نشته ـ دا ګرامر په درې برخو کښې وېشلے شوے دے ـ

۱ د اسم بیان

۲ د فعل بیان

۳ د حرف بیان

قواعد په دا سې انداز کښې لیکل شوي دي چې څهٔ تشریح یا وضاحت نهٔ لري بلکې د لوستونکو نه دا توقع پکښې شوې ده چې دوی به د ګرامري اصطلاحاتو نه واقف وي ورسره ورسره ګران غږي اصطلاحات راوړلے شوي دي لکه "ضمائر اضافیهٔ منفصله" یا مونثاتِ حقیقیه خلاف قیاس" ـ خو ورسره انګریزي اصطلاحات هم لیکل شوي دي د قواعدو بیان په اردو ژبه کښې دے او مثالونه ئې د پښتو دي ـ

په تعارفي برخه کښې ئې د پښتو مخصوص توري متعارف شوي دي خو د استعمال مثالونه ئې ورسره نهٔ دي ورکړي ـ او بې د استاذ پوهېدل پرې ګران دي ـ

د اعرابو او د حروف علت بیان ئې هم بې ترتیبه دے او مثالونه نهٔ لري القاب د غه شان د القاب حروف تر عنوان لاندې د څهٔ تورو مزید تشریح کړې ده چې مثالونه لري خو بیان ئې په ګرانو ټکو کښې شوے دے ـ

د ګرامر باقاعدهٔ آغاز د اسم د بحث نه کیږي چې د اسم نکره او معرفه نه پس د ضمیرونو بیانات دے او د ضمائر فاعل، ضمائر منفعله مفعول، ضمائر متصله مفعول، ضمائر اضافیه منفصله، ضمائر اضافیه متصله فاعل ـ ضمیر مشترک ـ اسمائے اشارات، موصولات، اسمائے استفهام تر عنوانونو لاندې ئې ټیول ضمیرونه متعارف کړي دي ـ

وروستو رضواني صاحب د اسم نور تفصیلات، اسم آله، اسم ظرف، اسم تفضیل اسم صوت، اسم منسوب، اسم مصدر، اسم فاعل تر اصطلاحاتو لاندې راوړي دي ـ وروسته بیا د مذکر او مؤنث او د جمع او واحد بیان دے ـ او په آخر کښې د اسم د صرفي حالاتو بیان دے ـ د اسم دا بیان تر صفحه ۸۸ پورې خور دے ـ

د فعل بیان د صیغو تر عنوان لاندې تقسیم دے حالانکې په عام ډول اوّل د مصدرونو بیان راځي او بیا د صیغو ـ شروع ئې د ماضي مطلق نه کړې ده

Scanned with CamScanner

فعل ماضي مطلق معروف، فعل ماضي مطلق
اود
متعدي، فعل ماضي مطلق مجهول گردان يې کړے
دے - وروستو يې د ماضي قريب او ماضي بعيد دَ
جوړولو طريقې بيان کړې دي بيا يې د ماضي احتمالي
يا شکيه، ماضي تمنّا يا شرط، ماضي استمراري يا
ناتمام، ماضي توبيخي، ماضي امکانيه، ماضي مجهول
ماضي منفي تر عنوانونو لاندې د دغو مثالونه ورکړي دي -

د ماضي نه پس د فعل حال مختصر بيان دے
چې د فعلِ حال، حالِ مجهول، حالِ امکاني او حال مستمر
تر عنوانونو لاندې يې کړے دے -

د فعل مستقبل تر عنوان لاندې يې د مستقبل
مجهول او د مستقبلِ امکاني بيان کړے دے -

د درې زمانو نه پس د فعل عمومي تفصيلات په دې
ډول دي - فعلِ نفي - مضارع، امر حاضر امر
مجهول، امر استقبال، امر غائب - امر متکلم - نهي،
امر و نهي دعائي، نهي دعائي - خواص فعل متعدي -
او دې سره په صفحه ۵۷ باندې د فعل بيان ختم شو
ورسي او هم د دغې صفحې نه د "حرف" بيان شروع شي -

"بحثِ حروف" تر عنوان لاندې رضواني
صاحب د خپل گرامر د ډېره برخه بيان کړې ده -
دا برخه د دوايتي گرامرونو نه زيات تفصيلات
لري چې عنوانات يې دا دي -

حروفِ جاره، کلماتِ تاکيد و مبالغه، حروفِ
تکيه کلام - کلمات تنبيهيه و توبيخ، حروفِ تمنّا،
کلماتِ شک و افتراض، کلمات تيقّن، کلمات تخفيف،
کلماتِ تحسين، کلماتِ نفرين، کلمات تحذير، کلماتِ حسرت،
کلماتِ تاسف، کلماتِ تعجّب، انبساط، ربط، حروفِ
مغيّره - تابع مغيّره، عمل حروفِ مغيّره، حروفِ
قسم، حروفِ بيان، حروف تعليل، حروفِ شرط و
جزاء، حروفِ شرکت، اختصاص، حروفِ نفي
و سلب، حروفِ ايجاب، حروفِ ندا، حروفِ
عطف، حروفِ ترديد، حروف استثناء، حروفِ
تشبيهيه، کلماتِ مقدار، کلماتِ تنکير، کلماتِ تاکيد نفي،

کوم حروف چې تر دغو بالا عنوانانو لاندې نه
راتلل نو هغه يې د معاني حروف مفرده و مرکبه
لاندې ليکلي دي چې دا دي : خو، دَ، ه، و، ى، که
او بهَ

او دا سې په صفحه ۹۴ باندې د حروف بيان ختم
سم د رضواني صاحب "پښتو گرامر" سرته ورسي -
خو په آخر کښې يې د ضميمې په طور د افعالو د مصادرو
يو فهرست د حروفِ تهجّي تر عنوان لاندې مرتب
کړے دے چې د ص ۹۵ نه تر ۱۰۴ پورې خور دے -
بالکل په آخر کښې د انګريزي ژبې سريزه
ده چې په خپله رضواني صاحب په اپريل ۱۹۰۸ء
باندې په (دار المعلمين) سنټرل ټرېننګ لاهور
کښې ليکلي ده چې د انګريزي د ټائټل نه بغير لاس
ته په وړومبۍ صفحه ده -

ما د رضواني صاحب د پښتو ګرامر د عنوانانو
دا طويل فهرست ځکه دلته رانقل کړو چې لوستونکو
ته د ګرامر د چوکاټ يوه اندازه وشي - او بل دا چې

دا کتاب په عام طور بېخي نایاب دے۔

اوس غواړو چې د قواعد نویسۍ د اصولو په رڼا کښې د دغه کتاب یو مختصر جاج واخلو۔ اوّل خو دا خبره یقیناً د تعریف وړ ده چې قاضي میر احمد شاه رضواني صاحب د پښتو گرامر په یو داسې وخت کښې ولیکلو چې دا کار صرف او صرف د یورو پي عالمانو په لاس کښې وُ۔ او بې د محمد اسمٰعیل د پښتو گرامر نه علاوه پښتنو عالمانو د غه طرف ته خپله پاملرنه نهٔ وه کړې۔ دوي به اکثر د یورو پي عالمانو سره مرسته کوله او "مُنشیان" به بللے کېدل۔ او که چا خپل کتابونه لیکلي دي نو هغه د ژبې د زده کړې سطحي کتابونه دي چې یو مختصر فهرست ئې مونږ په دغه مضمون کښې را وړے دے۔

قاضي میر احمد شاه رضواني وړومبے پښتون عالم دے چې په عربۍ، فارسۍ، پښتو او اُردو کښې ئې ښهٔ استعداد لرلو او د یو معلّم په حیث ئې کار کولو۔ غالباً دا واحد پښتون عالم دے چې "د شمس العلماء" خطاب ورکړے شوے دے۔

لکه چې ما مخکښې وئیلي دي د رضواني صاحب گرامر د عربۍ او فارسۍ د گرامرونو په طرز په عربي اصطلاحاتو کښې لیکلے شوے او د اسم۔ فعل او حرف تر بحثونو لاندې قوانین پکښې بیان شوي دي۔ دا ټولې صرفي قاعدې دي او د جملو نحوي بحث پکښې نشته۔ یعني په جملو کښې د فاعل، مفعول او د فعل د ترتیب بیان نهٔ لري۔ نهٔ د دغو د یو بل سره د تعلق یا د مطابقت څهٔ تفصیلات لري۔

رضواني صاحب مشکل پسند دے او که عربي اصطلاحات ئې دي که د قواعدو بیان ئې دے، په گرانه ژبه بیان شوي دي خو حقیقت دا دے چې دا د رضواني صاحب مجبوري وه۔ گرامر یو گران علمي مضمون دے چې خپل مخصوص اصطلاحات لري۔ دا نحو د ۱۹۰۸ء خبره ده۔ کله چې مرحوم خیال بخاري صاحب په ۱۹۶۵ء (۱۳۴۴ش) کښې د پښتو صرف ونحو" په نوم په پښتو کښې خپل گرامر ولیکلو نو هم مجبور وُو چې د عربۍ گران اصطلاحات استعمال کړي۔

دلته دا خبره د دا یادولو وړ ده چې په ۱۸۶۷ء کښې محمد اسمٰعیل په فارسي کښې لیکل شوي د پښتو په خپل گرامر کښې د پښتو گرامري اصطلاحاتو د را ایجادولو کوشش کړے وُ او "اسم" ته ئې "نوم" او "فعل" ته ئې "کار" لیکلي وو خو د غو رواج ونهٔ موندلو۔

په افغانستان کښې ځنو وُسنو قواعد نویسو د عربۍ د گرانو اصطلاحاتو خلاف خپل شدید عکس العمل ښکاره کړے دے او دا کوشش ئې کړے دے چې ټول اصطلاحات دې خالص د پښتو را وړلے شي۔ په دغو کښې دا کټر مجاور احمد زیاړ د خصوصي یادولو وړ دے۔ دے که یو خوا د نوي ژب پوهنې یو لوئے عالم دے نو بل خوا ئې په عملي طور په خپل گرامري تصنیف "پښتو پېژندنه" کښې او نورو ډېرو مضامینو کښې خالص د پښتو اصطلاحات استعمال کړي دي او دا امکان موجود وُ چې دا اصطلاحات په متفقه طور را یج شي۔ خو ملکي حالاتو

Scanned with CamScanner

د هغوی کوشش ته سخت نقصان ور رسولے دے - د رضواني صاحب پښتو گرامر یقیناً چې تر یوې وېږدې مودې پورې په اردو کښې واحد گرامر پاتې شوے دے او تر ډېر وخت پورې په کورسونو کښې شامل وُو - ډېرو شاگردانو، انگرېزي افسرانو او عامو خلقو ترې استفاده کړې ده -

تر څو چې د قاعدو او قوانینو خبره ده نو رضواني صاحب دا دغو موجد نهٔ وُ ځکه چې دا نه ډېر مخکښې انگرېزي او یوروپي عالمانو دغه قاعدې دریافت کړې وې -

رضواني صاحب په خپلې سریزې کښې د خپل کتاب یوه خوبي دا بیانوي چې د انگرېزانو د گرامرونو په نسبت د دهٔ د گرامر قیمت ډېر مناسب یعنې په ۱۹۰۸ء کښې صرف دو لس آنې (۷۵ پیسې) وُ - دغه درېم ایډیشن په لاهور کښې د راے گلاب سنگه له خوا شائع شوے وُ او په مفیدِ عام پرېس لاهور کښې چاپ شوے وُ چې ۱۰۴ صفحې لري -

نن دا اهم گرامر نایابه دے نو ځکه د علمي ادارو دا فرض دي چې دغه قسم اهم نایابه کتابونه شائع کړي او که یا کم از کم نقلونه ئې حاصل کړي چې استاذان او شاگردان ترې استفاده کولے شي -

په وسني وخت کښې د گرامر علم ډېر په مخه تلے دے - او جدید لسانیات په رڼا کښې په پښتو گرامر باندې ډېر تحقیقي کار شوے دے او کېږي - راقم الحروف په پښتو گرامر باندې په لندن پوهنتون کښې تحقیقي کار کړے او په ۱۹۸۸ء (۱۳۶۷ش) کښې ئې په ژب پوهنې کښې د ډاکټرۍ سند اخستے دے - د تحقیق موضوع ئې پښتو افعال وُو - دا په پښتو گرامر باندې د لرې پښتونخوا ورمبۍ پي - ایچ - ډي ده - د افغانستان حبیب الله تږي د امریکې نه، ډاکټر مجاور احمد زیار د سوئیټزرلینډ د برن پوهنتون نه، ډاکټر زرغونې د ماسکو نه په جدید لسانیاتو کښې په پښتو گرامر باندې ډېر اهم او کتور تحقیقات کړي دي او د ډاکټرۍ سندونه ئې ترلاسه کړي دي - ډاکټر زیور الدین زیور د پښتو په ادبي ستایل باندې د ماسکو نه ډاکټري اخستې ده - داسې نور کسان هم شته چې د لته ئې تفصیلات زمونږ د بحث نه خارج دي -

بلاشبه نن ورځ د پښتو گرامري تحقیقات ډومره په مخ تللي دي چې د رضواني صاحب د دغه گرامر د یو تاریخي حیثیت نه زیات اهمیت نهٔ لري - بیا هم په خپل وخت کښې دا د رضواني صاحب یو ډېر اهم علمي خدمت دے چې هېڅ وُل ئې هرگز نهٔ دي پکار -

عبدالرؤف نوشهروي

# د رضواني صاحب

## په بهارستان افغاني یو نظر

زهٔ د سکول د زمانې راسې د سائنس طالب علم پاتې شوې یم - مګر د والد صاحب پښتو سره دلچسپي زهٔ یې هم دې طرفته مائل کړم د بهارستان افغاني کتاب والد صاحب ښکلے و - او د دې کتاب ځو مضمونونه هم زما یاد دي - په طاوس په کښې یو ښه معلوماتي مضمون و چې مار سالم تېر کړي - غوښه یې خوندې کړي او د هډوکو پنجره را وغورزوي - یا د خوشحال خان نظم چې احمقان یې شمېرلي وو - او بیا د پښتنو ذیل[1] - د سلطان سکندر ذوالقرنین[2] د مضمون ځو خبرې مې هم یادې دي - مګر تسلسل سره مې دا کتاب چرې هم نهٔ و لوستے دا سې شکرستان مې د اسلامیه کالج پېښور په لائبریرۍ کښې ولید - په "چائے" "یو مضمون مې خوښ شو را نقل مې کړو بهارستان ډېره موده د پنجاب[3] یونیورسټۍ مېټرک د پښتو (اختیاري) په کورس کښې شامل و او وروستو ورسره د عبدالله جان اسیر یو کتاب د سپرلي ګل هم کورس کښې شامل شهٔ - او بیا یو وخت د دوئي په ځائے د مولوي قاضي عبدالسلام کتاب ادبي سوغات راغے - اوس د څهٔ مودې راسې د میټرک او ایف اے د پاره سرحد ټیکسټ بک بورډ پېښور کتابونه زیر استعمال دي (چې زما یو نیم سائنسي مضمون په کښې هم شامل دے) مګر حقه دا ده چې دې ټولو کتابونو کښې یو هم په معنوي او علمي معیار د بهارستان مقابله نهٔ شي کولے -

اوس کهٔ مونږ ته ځوک او وائي چې په سېلمې د پښتنو په ذیل - په سرو کاڼرو وغېره باندې یو مضمون ولیکئ نو یقین مې نشي چې باوجود د وسو ذرائعو دوئ د مقابلې مضمون ولیکلے شو - نور څو څهٔ نشم وئیلے مګر زهٔ چې پښتو کښې مې قلم هم چلېدلے دے - باور مې نشي چې دا سې اعلیٰ خیالات قلم ته

---

۱ - رضواني صاحب هم پښتانهٔ بني اسرائیل ګڼي ۲ - وائي چې سکندر ذوالقرنین هم دغه سکندر اعظم و - او یاجوج ماجوج هغه قوم ځ ۳ - اغلباً هم د رضواني صاحب په کوشش پنجاب یونیورسټۍ پښتو پرافیشنسي یائې پرافیشنسي او آنرز امتحانونه د شلمې صدۍ په اوائل کښې شروع کړل -

حواله کړے شم - یقیناً پاتې به راشم - داسې ددې کتاب په ټیکلوکښې د رضواني صاحب د محنت کوشش اندازه په خپله ولګوئ -

رضواني صاحب یو پښتون چې صرف د عربي فارسي تعلیم ئې لولو - ځان د سنټرل ټریننګ کالج لاهور ته درسي عملي د نولسمې صدۍ د اتیاؤ په لسیزه (۱۰) کښې ورسولو - علمي بنیاد ئې مضبوط ؤ - دیونیورسټۍ امتحانونه پاس کول ورته څه ګران نهٔ وو -

۷۶ - ۱۹۷۵ کښې ئې مولوي او بیا مولوي عالم (عربي) امتحان پاس کړو - او ۷۹ - ۱۹۷۸ کښې د منشي فاضل امتحان - داسې ددې جوګه شو چې شعبه تعلیمات کښې ځان له ځائے پیدا کړي -

زما خیال دا وائي - چې دا وخت بیا هغوئ د پښتو د پاره - چې د څهٔ جوګه شي کوشش شروع کړو - چې درسي او امتحاني ژبه ترې جوړه شي - مګر ددې د پاره اول درسي کتاب پکار ؤ - داسې هغه بیا بهارستان افغاني ولیکلو ولې چې سوبز خپله هم یو وخت دا غوښتهٔ چې پښتو د سائنس د پاره هم یو تعلیمي ژبه وګرځي - داسې ورله د ایف اے د سائنس کتابونه پکار وو چې و لیکلے شول -

زما دا یقین دے چې کهٔ چرې نن مرحوم ژوندے وے نو ویدلي به ئې وه چې پښتو په دې منډه (RACE) کښې د هغهٔ په توقعات پوره راغلې ده - د میټرک نه پس د ایف اے بي اے اختیاري مضمون شو - ګومل او پېښور یونیورسټۍ په کښې د ایم اے د ګرې ورکوي - بلکې کم وزیات شلو پورې ایم فل او پي ایچ ډي به هم راوتي وي دې نه علاوه د پي سي ایس / سي ایس پي مقابلې په امتحانونو کښې شمولیت لري - داسې اګرچې رضواني صاحب نن مونږ کښې نشته مګر زما دا یقین دے چې د هغه روح به ډیر خوشحاله او خورسند وي - کله چې دا وګوري چې هغه بوټے یا قلم چې هغه نال کړے ؤ نن په یو ګلستان کښې بدل شوے دے - چې نوي نوي تحریرونه، تنقیدي مضمونونه - تحقیق او لیکون په کښې روان دے - او پښتانه چې په سیالۍ کښې ډیر مړني دي د هغوئ ژبه پښتو په سیالانو کښې سیال شوه -

د قاضي میر احمد شاه رضواني صاحب تعلق پېښور څخه نزدې اکبرپورې سره دے - او ددهٔ زمانه هغه زمانه وه چې د پښتو اهمیت صرف دومره ؤ ددې شک نشته چې په کورونو کښې زنانوٴ به رشید البیان - نورنامه او دین مسئلې وئیلې) چې انګریزانو د سیاسي ضرورت ترجمه د "منشیانو" نه پښتو زده کوله - داسې دې ضرورت ترجمه څو کتابونه هغوئ د پاره په آسانه پښتو کښې ولیکلے شو - داسې بهارستان کهٔ نهٔ وي نو شکرستان خو ضرور په دې غرض لیکلے شوے ؤ - ولې چې د سبقونو سرخې ئې په انګریزۍ کښې هم ورکړے شوې دي - مګر د بهارستان په لیکلو کښې هم رضواني صاحب د "مهربان" حکومت وقت مرسته کړې ده - رضواني صاحب خپله سني مسلمان ؤ - د ګردو پېش بزرګانو سره ئې عقیدت ؤ پښتانهٔ عوام

"وهابيان" دکافرنه هم په اخواکښي - مګر رضواني صاحب نځوي عالم سړے وُ او هغه ته به دا معلومه وه چې اهل حديث مذهبي لحاظ سره ګڼه بنه نهٔ دي نو دومره بد هم نهٔ دي روالله اعلم بالصواب) مګر دَ کتاب په صف ۶۲-۶۱ کښې رضواني صاحب د سيد احمد بريلوي او شاه اسمٰعيل شهيد ذکر په څهٔ ښهٔ پيرايه کښې نهٔ دے کړے - بلکې دے څلور پنځه کاله واقعات ته يو فتنه وايُ -

د غدر يا ۱۸۵۷ د جنګ آزادۍ نه پس د مسلمانانو اجتماعي حالت څهٔ بنهٔ نهٔ وُ - مګرچې کله هم دغه دور کښې د هندوستان نه څوکسان را ووچت شو - په مرِ قوم کښې ئې د جهاد جذبه راپيدا کړه - هغه جهاد چې د انګريزانو توپو او هوائي جهازونو څخه ئې ځواب نهٔ وُ - دا سې دي انګريزغوښتل چې د عوام او بالخصوص د تعليم يافته کسانو نه د سينې نه دا جذبه وباسي - دا سې سرکارپرست کسانو او د مذهب په نوم دا وچت شوي يو جماعت د انګريزله خوا دا کار په خپله ذمه واخست - مګر حقيقت دا دے چې ترڅو دا جذبه په مسلمان قوم کښې ژوندۍ ده - مسلمان قوم څوک ختمولے نهٔ شي - خواه که هغه د بهارت هندوان او د هغوئ ملاتړ ولې نهٔ وي ر د ۱۹۶۵ء پاک هند جنګ ئې ثبوت دے - دا خبره د لته ضروري ځکه هم ده چې د انګريزي حکومت په مرسته د تاريخ په کتابونو کښې د معرکه حق و باطل بالاکوټ په باره کښې ډيره غلط بياني شوې ده - وائي دا معرکه اصل کښې دا انګريزانو خلاف وچته شوې وه - مګر انګريزانو په خپله د پلوميسي سکهان را مخکښې کړل - د سيد صاحب خطونو کښې د انګريز په ځائے د سکهه او "درازمو" تکے وليکلے شو - مګر بيا هم د سيد صاحب په يو خط کښې " د سمندر پار" خلقو ذکر هم شته - بل مولانا غلام رسول مهر - مولانا ابوالحسن علي ندوي - او يو پي ايچ ډي مقاله کښې قيام الدين وغيره هم د دې رائې تائيد کوي،

د ريمه دا چې سرحد کښې غازيانو د پاره د قم سبه د هندو هندوۍ په ذريعه د هند و سکهه ساهوکارانو په لاس رسيده - لکه چې نن بعضي خلق د عربستان نه کورته پيسي رالېږي نو که چرې دا جنګ اصلاً د سکهانو سره وے نو د يے ساهوکارانو به دومره قوم دښمني نهٔ کوله - هندو بنيانو د هر قوم پر قوم د ۷۸۲ نه راپه دېخوا چې دا انګريز ويرياني نهٔ شوه - ډېر څهٔ ليکلے شي - پکار ده چې دا خبره صفا شي - بنه دا چې دکتاب کومه نسخه چې د ډاکټر سهيل انشاء په لاس ترما رسيدلې ده - د هغې اول ايډيشن په ۱۸۹۸ کښې او بيا دويم ايډيشن د خليق صاحب په لاس ۱۹۵۶ کښې چاپ شهٔ موږ دا څنګه ومنو چې تر پنځه (تر ۱۹۴۷) پنځوس کاله کښې د سکول دا درسي کتاب په څوڅو واره د هند و سکهه ناشرانو په لاس نهٔ وي چاپ شوے - ډېرو لاسټبرو کښې ئې تلاش ضروري دے -

زمانه ډېره په تيزۍ مخ په وړاندې روانه ده - او د تحقيق کار هم - مګر رضواني صاحب په خپل دور - خپل وسائل او ذرائع مطابق د پښتو ژبې ډېر خدمت کړے دے موږ د هغوئ د خدمت منته کوُو - د دې قوم پرستۍ اجر دې ورله خدائے پاک په هغه جهان ورکړي - امين -

ودود اشنغرے

# د رضواني صاحب یاد

رضواني چې نوراني بښکلے بشر وُ
دا وګړي باشنده د پېښور وُ
د حافظ عبدالرحمٰن له کورنۍ وُ
او حافظ په زمانه کښې د نادر[1] وُ

منوّر چې تول په علم او عرفان وُو
ځکه واړه پښت په پښت باندې قاضیان وُو

چې له جده له امجده عالمان دي
میان عمر[2] او حضرت جي[3] چې پیران دي
فیض جاري د علم و فضل ئې ساتلي
ترې فیض یابه د پیو[4] بابا میاګان دي

د ابدال[5] د لوے دربار ه پورې تړلي
مشهور په لوړو برشو دا ښاغلي

په خپل دور کښې چې د علم لوئے دریاب وُ
مشهور اخون پنجو عبد[6] الوهاب وُ
میراحمد بابا له دۀ نه فیض مونډلے
چې اخستے ئې له غیرونه خطاب وُ

دے د "شمس العلماء" په نامه یادشو
د رحمت په خزانو باندې اباد شو

علاقه د پېښور ایښنت ئې اکبرپوره
منوّره اوس هم ځلنده له نوره
فیروزشاه اثر اوس هم په کښې وُسېږي
ګیلاني ځان ته ییکي له خپل سروره

دا مې خیال دے له نسبه ئې ضرور دے
د سهیل انشاء[7] نه پټ نحو مشهور دے

---

[1] نادرعلي قلي بیګ افشار [2] حضرت میان عمرصاحبؒ د څوکنو [3] محمد یحیٰی المعروف اټک حضرت جي باباؒ [4] حضرت شیخ شهباز باباؒ پیو شریف [5] د افغانستان سترتولواک لوئے احمدشاه باباؒ [6] اخون پنجو باباؒ اکبرپوره [7] د پښتو ژبې ستریکوال اونحوانخور دے

ودود اشنغرے

# د رضواني صاحب یاد

رضواني چې نوراني بشکلے بشر وُ — دا وګړي باشنده د پېښور وُ
د حافظ عبدالرحمٰن له کورنۍ وُ — او حافظ په زمانه کښې د نادر[1] وُ

منوره چې ټول په علم او عرفان وُو
ځکه واړه پښت په پښت باندې قاضیان وُو

چې له جده له امجده عالمان دي — میان عمر[2] او حضرت جي[3] چې پیران دي
فیض جاري د علم و فضل ئې ساتلي — ترې فیض یابه د پیبو[4] بابا میاګان دي

د ابدال[5] د لوے دربار پورې تړلي
مشهور په لرو برشو دا بناغلي

په خپل دور کښې چې د علم لوئے دریاب وُ — مشهور اخون پنجو عبدالوهاب[6] وُ
میر احمد بابا له دغه فیض مونده لے — چې اخستے ئې له غیرونه خطاب وُ

دے د "شمس العلماء" په نامه یادشو
د رحمت په خزانو باندې اباد شو

علاقه د پېښور اېښنت ئې اکبرپوره — منوره اوس هم ځلنده له نوره
فیروزشاه اثر اوس هم په کښې وُسېږي — ګیلاني ځان ته یکي له خپل سروره

دا مې خیال دے له نسبه ئې ضرور دے
د سهیل انشاء[7] نه پټ نحو مشهور دے

---

[1] نادرعلي قلي بیګ افشار [2] حضرت میاں عمر صاحبؒ د څوکنو [3] محمد یحيٰ المعروف اټک حضرت جي باباؒ [4] حضرت شیخ شهباز باباؒ پبو شریف [5] د افغانستان ستر ټولواک لوے احمد شاه باباؒ [6] اخون پنجو باباؒ اکبرپوره [7] د پښتو نثري ستر لیکوال او نحوا خوږ دے

# SANAD.

To

Kazi Mir Ahmad Shah,
Rizwani-Peshawari,
First Oriental Teacher in the Central
Model School, Lahore.

I hereby confer upon you the title of Shams-ul-Ulama as a personal distinction.

Viceroy and Governor General
of India.

Simla;
The 9th November 1901.

ډاکټر شېر زمان طائزے

## اُستاذ شمس العلماء

# میراحمد شاه رضواني

د عیسوي نولسمې سلیزې پښتو ادب کښې میراحمد شاه رضواني د یو معمار حیثیت لري. د رضواني کورنۍ د اتلسمې سلیزې ځلورمه لسیزه کښې بخارا نه راکوچ شوې وه او د علم و ادب د برکته د وخت حاکم سره د قضا په عهدو پاتې شوې ده. میراحمد شاه رضواني په خپله د خپل وخت عالم فاضل سړے و او د ښوونې مد کښې د استاذۍ په اوچتو عهدو ئې کار کړے و. ځنې انګریز افسرانو ته ئې پښتو هم ښئېله. هم د ده په وینا او هڅه پنجاب یونیورسټۍ کښې د پښتو آنرز ځانګه پرانستے شوه، هغې د وه کلیز کورس دپاره د درسي موادو د برابرولو ذمه واري هم ده ته حواله شوه.

ډاکټر سهیل انشاء د میراحمد شاه رضواني د زوے اعظم شاه په حواله وائي چې رضواني د یوسل او یا (۱۷۰) کتابونو مصنف، مؤلف یا مرتب و. عمر ئې څه لږ د پاسه ځلور اویا کاله و. مطلب دا چې میراحمد شاه رضواني ټول عمر لوستلو، لیکلو او ښودلو کښې تېر کړے و. هغه وخت چې غربي او شرقي پنجاب او سرحدي صوبه د پنجاب په نوم یوه صوبه وه او دې ټوله صوبه کښې د پنجاب یونیورسټۍ په نوم لاهور کښې صرف یو پوهنتون و. میراحمد شاه رضواني یو اُچت استاذ و. چې د شمس العلماء خطاب د پاره ئې سفارش وشو او ۱۹۰۱ء کښې د وائسرائے لارډ کرزن له طرفه خطاب ورکړے شو.

ډاکټر سهیل انشاء د رضواني یو دېرش کتابونه ګڼلي دي، د پښتو، عربي، فارسي او اُردو کښې دي. نوموړي ډاکټر صاحب مهرباني کړې او د شکرستان افغاني او بهارستان افغاني فوټو کاپي ئې راله پیدا کړې. زه د هغو مننه کوم. ما چې یو نظر وکتل نو ومې غوښتل چې څه پرې ولیکم.

د شکرستان افغاني په مخ ۱۹۰۵ء او د بهارستان په مخ ۱۸۹۸ء او ۱۹۵۶ء لیکلي دي. خو زما خیال دے چې شکرستان افغاني اول چاپ و

Scanned with CamScanner

او بهارستان افغاني ورپسې - د وروستي کتاب "فهرست مضامین" اردو کښې دے د بل "انډکس" پښتو کښې - د دواړه کتابونو کښې د پښتو مخصوصو اوازونو توري ورسره د اردو هم اواز یا متبادل توري دي - شکرستان افغاني کښې د دې تورو استعمال او اردو کښې لنډ وضاحتونه ورکړے شوي دي - د دې کښې د ټ شکل ټ او ځ او څ دواړو د پاره څ ورکړے شوے دے - هم دې کتاب کښې د پښتو ګرامر او د روزمره ورې ورې او یو متلونه ورکړے شوي دي - دویم کتاب کښې دا نیشته - دا دواړه درسي کتابونه دي نو د ورکړے شوو توپیرونو په سوب دا ګمان ځائے نیسي چې شکرستان افغاني د نوو زده کوونکو د پاره دے نو پکار ده چې اول چاپ شوے وے - یعني ۱۹۰۵ء کښې چاپ د دې کتاب وروستي ایډیشن نه شي کیدے -

اول په شکرستان افغاني کښې کوروچې څه او څنګه لري - اول شپږ مخونه ګرامر، خبرو اترو او متلونو ته ورکړے شوي دي - هر سرخط سره انګریزي ترجمه هم شته - دا طریقه تر آخره جاري ساتلے شوې ده - دا سې ښکاري چې د دې کتاب لوستونکو او زده کوونکو کښې انګریزان افسران نظر کښې نیولے شوي وو - د دې پسې د ګنګو یا زعفران، مینک، زهر مهره، چاټې خطائي په هکله تعارفي مضمونونه دي - لنډ دي خوند ور دي او معلوماتي دي -

د پښتنو حال (م ۱۳-۱۴) د پښتنو د زرګونو کالو زور تاریخي پس منظر او مختلفو ختونو کښې د دې ښار نمونه، ورسره د مشهورو تاریخي ځایونو او دریابونو ذکر دے - احوال د پښتنو (م ۱۵-۱۹) لاندې د پښتنو د اصل باره کښې وائي چې د مصر د آخري فرعون مصعب بن ولید د قومه دي چې په قبطیان بللے شول، موسی علیه السلام چې په فرعون غلبه ومونده نو دا خلق را او تښتیدل او د سلیمان غر درو کښې میشته شول - په دې وجه عربو ورته سلیماني وئیل - نور ئې د دې خلقو د ځېل او غرور بیان کړے دے - آخر کښې ئې خپل یو غزل نما نظم ورکړے دے - یو شعر ئې دا دے -

په تش نوم دا سې غره ئې ټوک به وائي
چې په توره دې وهلے دے اسمان

د دې پسې دوه قیصې دي او بیا د افضل خان علم خانهٔ دانش نه یوه برخه ورکړے شوې ده - د دې سر کښې دا وضاحت ئې انګریزۍ کښې کړے دے چې دا ترجمه د اکبر د وزیر ابو الفضل د کلیله دمنه نه شوې ده - ورپسې د عبدالقادر خان ختک له ګلدستې یوه حصه ده ګلدسته د سعدي شیرازي د ګلستان ترجمه ده - د دانش د برخې اخري سبق د افضل خان ختک د تاریخ مرصع نه چې کومه توته اخستے شوې ده د هغې سرخط دے "احوال د پیر روښان یعني پیر تاریکي" چې د اخوند درویزه مخزن نه اخستے شوې ده - د دې څون نه د پیر روښان باره کښې د میر احمد شاه

رضواني د فکر او خیال اندازه لګېدے شي -

دکتاب د نظم برخه کښې چې د کومو شاعرانو
د کلامونو نه ئې چاڼ کړے دے - د هغو نومونه
څنګه چې کتاب کښې لیکلے شوي دي دا دي:
احمد شاه بادشاه دُرِّ دُرّان، عبد القادر خان
ځوئ د خوشحال خان خټک، اشرف خان هجري ځوئ
د خوشحال خان خټک، محمد کاظم خان شیدا ځوئ د
افضل خان خټک، مرزا خان انصاري، خواجه محمد بنګش،
عبد الحمید مهمند ماشوخېل، رضواني د اکبر پورې،
عبد الرحمٰن سربنړي، خوشحال خان خټک، مسعود ګل،
احمد اخون خېل د خوني عبد العظیم، بابو جان نعماني،
فهرست کښې آخرنے توکے "بدله و مصرعے"
دي چې دې نقل کښې نیشته -

(۶۰)
دکتاب د نثر څخ شمېره ځان له ده چې تر شپېته رسي
د نظم برخه بیا دیو نه شروع کېږي او (۵۰) نه
اوړي یعني ټول مخونه ئې ۱۱۰ نه زیات دي -

بهارستانِ افغاني هم دوه برخې لري، نثر
او نظم - نثر کښې د افضل خان خټک تاریخ مرصع
نه هغه توټه ده چې د مرزا الغ بیګ د لاسه
کابل کښې اته سوه پښتانه ووژلے شول او نور
د زلمي احمد د مشرۍ لاندې پښنا ورته راغلل -
دلته پکار ده چې دا وضاحت وشي چې ددې موجوده
سرحدي صوبې زیاته برخه په پښتنوه یادیدله -
بل سبق دے د "فوائد د اخوند قاسم پاپېنخېل"
نه - ددې سبق شروع داسې ده -

"په انیس الواعظین کښې هسے وائي - یو ویشت
حقه د ځنبتن دي" څو سبق کښې لس حقونه ورکړے
شوي دي -

دې پسې په سپلمې، طاؤس، د سرو زرو مرغۍ
(هندوستان) لنډ معلوماتي مضمونونه دي - ورپسې
په څلورنیم مخونو د احمد شاه دراني تاریخ دے - دې
توکي کښې دوه خبرې اهم دي، یو دا چې احمد شاه
څنګه بادشاه شو - دلته د افغانستان د تاریخونو
هغه وعده نه ده منلے شوې چې په شیرسرخ نهه ورځې
جرګې کېدے او آخر کښې صابر شاه له واک ورکړے
شو او هغه د احمد خان په سر پټکي کښې د غنمو وږے
کښېښو - دویمه خبره دا چې د څوکنو د میاں عمر صاحب
په سفارش د رضواني غور نیکه میر عبد الله صاحب
بخاري د احمد شاه له طرفه اکبر پوره کښې د پېښور
علاقې قاضي تهاکلے شوے وو -

" د پښتانه ځېل" لاندې ئې د پښتنو ځېل
او غرور غندلے دے او آخر کښې ئې ورسره هم په
دې موضوع دا ووه شعرونو غزل نما نظم هم
ورکړے دے - وائي -

" څوئ خصلت به ئې بدتر وي له دیوانو
دے به ځان ګڼي اولاد د سلیمان نا

"چل ګزیان" په هغو اجتماعي قبرونو لیکلے شوے
دے چې توهم پرست خلق ترې د مطلب اخلي چې
بخوا دومره لوړ خلق هم وو "سره کاپر" د کلاش
قبیلې بیان دے چې اوس د چترال یوې تنګه دره کښې

را عونړ شوي دي ـ "دهزاره او قے" هزاره قام
او د هغو د مشرچې "او قے" ئې بلې پورې ملنډې
دي ـ "د بوډې غوا" هم ددې برخه ده ـ "د مصرو
باران" د هغې خاص برخې بیان دے چې خوږه وي ـ
"د پېښور ملک" کښې ئې د پښتنو د پاره داسې
رائے ورکړې ده ـ "خو اکثر یکښې پښتانهٔ دي چې
په ننګ، غیرت او میلمستیا او دینداری کښې په
جهان کښې مشهور دي" او د پېښور په حقله دَ
اتو شعرونو غزل نما نظم کښې وائي ـ

۵ کشمیریان چې یو ځل راشي په دا لوري
بیا ترمرګه نوم نهٔ اخلي د کشمیر

"ایلم او دوه سرے" بو نېرو پورې ملنډې دي ـ
"سکندر ذو القرنین" باندې تاریخي مضمون دے ـ
دې کښې هم د پښتنو ډېر صفت شوے دے ـ تر
دې حده چې د سکندر که څوک خوښ شوي وو نو
هغه د افغان قوم وُ ـ لکه څپل یو شعر کښې وائي ـ

۷ ۰ بُت پرست او شرابي او خود نما وُ
که ئې خوښ شو خو یو قوم وُ د افغان

دې پسې د "احوال د سیّد باچا" عنوان لاندې
د سید احمد بریلوي او شاه اسمٰعیل بیان دے او دَ
دوارو ئې ډېر بد وئیلي دي ـ هغه د رضواني په
الفاظو کښې وګوری ـ

د پښتنو د ملک له مشهورو واقعاتو نه دَ
سید باچا واقع ده او یا کاله مخوا د پېښور او
د باغستان په ملکونو کښې واقع شوې ده ـ ډېر

مسلمانان او پښتانهٔ درانې، عالمان سرداران په کښې
برناحق ضائع او قتل شول او سلګونه کلي برباد
شول ـ دا فتنه صرف څلور کاله پورې په دې زمکه
وه لیکن د چنګیز او هلاکو او د نادر د زمانې نه
ئې زیات ملک ته نقصان ورسوؤ، او صرف دنیاوي
نقصان نه بلکې د خلقو عقائد ئې هم خراب کړهٔ ـ (م ۴۰۲-۴۰۶)
دې پسې د نظم برخه کښې چې د چا کلامونو نه چانې
شوے دے د هغو نومونه دا دي (څنګه چې کتاب
کښې لیکلے شوي دي ـ)

عبد الرحمٰن سربنی، عبد القادر خان، بابو جان
لغماني، علی خان، قلندر، درویزه بابا، خوشحال خان،
احمد شاه دراني، کاظم خان شیدا ځوئې د افضل خان
خټک، اشرف خان هجري، رضواني د اکبر پورې،
عبد الحمید مهمند د ماشو خیلو، خواجه محمد بنګښ ـ

دا دواړه کتابونه تدریسي وو ـ ددې نه
دومره ګمان کولے شو چې د میر احمد شاه رضواني
مطالعه بنهٔ وه او خپله پېشه کښې ماهر وُ ـ دَ
زده کوونکو په نفسیاتو او ضرورتونو پوے وُ ـ د دې
کتابونو کښې تاریخي پېښې جغرافیائي پېژندګلو،
ټولنیزې خرابۍ او ټولیز د توهماتو او بدعتونو
نتیجې، توقته تقاله او شعرونه شته ـ د میر احمد شاه
رضواني نثر ساده او روان دے او پوهور دے ـ
دا راز د شعرونو چانې هم د دوئي د ښه ذوق او
ثودې پوهې غمازي کوي او خپل شعرونه ئې هم
ساده او با مقصده دي ددې موادو د خو ښولو ټولو

Scanned with CamScanner

او کتابونو کښې ځائيولو نه د رضواني د عقيدې او سياسي فکر اندازه هم لګي - بايزيد انصاري پير تاريک بولي او سيد احمد بريلوي او شاه اسمعيل هلې ځلې فساد ګڼي - دې سره اتفاق وي که اختلاف خو رضواني پرې ګومولے نشي - البته "هزاره او وڅ او "ايلم او دوه سرے" هزاره قوم او د بونير خلقو پورې ملنډې دي - چې درسي کتاب کښې خوند نه ورکوي - د پښتنو د تولنيز عادتونو باره کښې تضاد عالمانو او پوهانو د پاره نوې خبره نه ده، خو يو زده کوونکے خصوصاً غير پښتون د پاره د پريشانئ سبب ګرځي -

فقير محمد عباس قادريه

## حديث شريف

### اذان اوريدو نه پس دعا

نبي صلی الله عليه و آلهٖ وسلم فرمائيلي دي - کوم سړي چې اذان واوريدو، او الله ته دعا ئې وکړله - نو د قيامت په ورځ به هغه زما د شفاعت حقدار وي:-

اَللّٰهُمَّ رَبَّ هٰذِهِ الدَّعْوَةِ التَّامَّةِ وَالصَّلٰوةِ الْقَآئِمَةِ اٰتِ مُحَمَّدَنِ الْوَسِيْلَةَ وَالْفَضِيْلَةَ وَابْعَثْهُ مَقَامًا مَّحْمُوْدَا نِ الَّذِيْ وَعَدْتَّهٗ وَارْزُقْنَا شَفَاعَتَهٗ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ اِنَّكَ لَا تُخْلِفُ الْمِيْعَادَ (بخاري)

"خدايه دې دې کامل دعوت او دې قائميدونکي مونځ مالکه، محمد صلی الله عليه و آلهٖ وسلم ته خپل قرب او فضيلت عطا کړې او هغه په مقامِ محمود فائض کړې چې د هغې دې ورسره وعده فرمائيلې ده -"

ف :- مقامِ محمود: ستائيلے شوے مقام - د نيکو د اعلیٰ درجې مقام - د يو مقام نوم چې هلته نبي صلی الله عليه و آله وسلم د معراج په شپه رسيدلے وُ - د شفاعت مقام - هغه مقام چې يوازې د پيغمبر آخر زمان صلی الله عليه و آله وسلم د پاره مخصوص دے - تفسيرونو کښې د مقامِ محمود نورې هم ډيرې معنې راغلي دي -

زلمی هېوادمل

# د شمس العلماء میر احمدشاه رضواني

## دوه ناپېژندلي کتابونه

کله چې د ۱۹۹۲ کال د جوت په دېرشمه نېټه د خلیل ولسي ادبي جرګې له خوا د شمس العلماء قاضي میر احمدشاه رضواني (۱۲۷۶ - ۱۳۵۳ هـ ق) د نمانځنې غونډه جوړه شوه، دوستانو له ما نه غوښتنه وکړه، چې په دې غونډه کښې د قاضي میر احمدشاه په آثارو څو خبرې وکړم. ما ته هغه وخت د میر احمدشاه رضواني څو محدود کتابونه معلوم وو او کتلي مې یوازې څلور وو:

(۱) پښتو ګرامر (۲) بهارستان افغاني (۳) شکرستان افغاني او (۴) تحفة الاولیاء. څنګه چې پښتو ګرامر زما د کار له ساحې سره اړه نه درلوده او نه مې په ځانګړې توګه پوهېدم، نو له دې ګرامره او هغه بل کتابه تېر شوم او یوازې د بهارستان افغاني او شکرستان افغاني په باب مې هلته په مجلس کښې خبرې وکړې ارزښتونه مې یې وښودل او د استفادې هغه موارد مې څرګند کړل چې ادبي مؤرخینو په افغانستان او د استشراق په حلقو کښې له دې کتابه کړي دي او ورسره مې ځینې هغه تېروتنې هم وښوولې چې له اروا ښاد قاضي نه په دې کتابونو کښې پېښې دي.

اوس چې د پېښور پښتو اکېډمۍ اراده کړې ده او غواړي چې د پښتو مجلې رضواني نمبر چاپ او نشر کړي، نو ښاغلي دوست ډوکتور سهیل انشاء راته وویل چې که د هغه مجلس خبرې د کاغذ په مخ ولیکې نو به په دې نمبر کښې راشي. ما له ښاغلي انشاء نه پوښتنه وکړه چې په شکرستان افغاني او بهارستان افغاني بل چا هم مقالې کښلې دي او که نه؟

ښاغلي انشاء په ځواب کښې راته وویل چې دوو تنو ښاغلیو هم ژمنه کړې ده، چې د اروا ښاد قاضي په دغو دوو کتابونو (شکرستان او بهارستان) مقالې وکاږي. ما چې د ښاغلي انشاء خبرې واورېدې نو په زړه کښې را وګرځېدل چې په یوه موضوع درې مقالې! ټولې به تکرار خبرې وي په هر صورت ما له ښاغلي انشاء نه معذرت وغوښت بله ورځ ښاغلي انشاء د یو زاړه چاپ شوي کتاب نوټوکاپي راوړه او راته یې وویل چې دا د اروا ښاد

قاضي يو ناپېژندلے اثر دے، په دې اثر څۀ ويله - مالهٔ ښاغلي انشاء نه دا اثر د متنې په څرګندولو واخيست او دا مې هم ورته ووېل چې که خدائے کول څۀ به پرې وليکم -

مخکښې تر دې زۀ په دې دوو کتابونو څۀ وليکم نو دا به بې انصافي وي چې کۀ د ښاغلي انشاء د هغو هڅو يوه يادونه ونۀ کړم چې چې د ادوا ښاد قاضي مير احمد شاه رضواني د آثارو په پېدا کولو کښې کړې ده

د ښاغلي انشاء د همدغو تلاښونو په نتيجه کښې د ادوا ښاد مير احمد شاه رضواني د دسګونو آثارو نومونه مېدان ته را ووتل او سنيايسته د پر آثار ئې راپېدا شول -

دا دوه کتابونه چې زۀ دلې ښيم دا هم د همدغو هڅو په لړ کښې راپېدا شوي دي دا دوه کتابونه سره يوځائے چاپ دي او په چاپي نسخه کښې ئې نومرې مسلسلې راغلې دي - په دې دوو اثرونو کښې لومړنے اثر شرح قصيدهٔ شلشليه نومېږي چې د چاپي نسخې له ۲ مخ نه پيل شوے او تر ۲۴ مخ پورې رسېدلے دے -

دا اثر په پيل کښې يو درېې مخيزه مقدمه لري او په دې مقدمه کښې ئې د دې قصيدې په باب څۀ معلومات وړاندې کړي دي او د خپلو مآخذونو په استناد ئې په دې باب ځنې ټکي څرګند کړي دي، دا مقدمه شارح په عربي ژبه کښلې ده

د دې اثر د چاپي نسخې کومه فوټوکاپي چې ما ته دا سپارل شوې، په هغې کښې د مقدمې درې واړه مخونه ځنې داسې برخې لري چې توره سياهي پرې راغلې او له ټولې مقدمې کافي مطالب سرے نۀ شي ترلاسه کولے - څۀ چې په کښې روښانه دي د شارح نوم دے، چې په دې ډول په کښې راوړے دے "ابو الصفا مير احمد شاه الرضواني الفشاوري"

له مقدمې وروسته د چاپي نسخې په ۵ مخ کښې شرح پيل شوې ده، په دې شرح کښې شارح د قصيدې هر بيت جلا جلا شرح کړے دے - اول د قصيدې يو بيت راوړي او پرې پسې دا بيت په عربي شرح کوي او په پاې کښې ئې د هماغه بيت فارسي ترجمه او لنډه شرح راوړي، يوازې په ۱۳ مخ کښې ئې د قصيدې درې بيته يوځائے راوړي او بيا ئې شرح کړې دي، فارسي شرحې هم د قصيدهٔ شلشليه د ټولو بيتونو له شرحو سره ملې نۀ دي، ځينې بيتونه يوازې په عربي شرح شوي دي- دا قصيده ټوله ۷۲ بيته ده -

د نمونې له پاره د يوه بيت فارسي شرح وګورئ -

وقد غدوت الى الحانوت يتبعنى
شاوٍ مِشَلٌ شَلُولٌ شُلْشُلٌ شوِلُ

"ومن يامداد براى مى نوشى به دكان شراب فروشى رفتم درحالي كه خادم كباب‌چى دونده كه دركارخدمت خيلى چست وچالاک وچابک دست

ونحو شنخوی ونیکو صحبت است پس من می آمد
تا زود زود بنو شاند " (۱۸ مخ)

دا شرح اروابناد قاضي میر احمد شاه رضواني د ۱۳۰۴ هـ ق کال د ذی القعدې په میاشت کښې د هندوستان د بنګلور په ښار کښې سرته رسولې ده، په قمري حساب یې له تسوید ۱۱۲ کاله تیریږي، له شرح قصیدهٔ شلشلیه سربیره په همدې چاپي نسخه کښې د قاضي یو بل اثر هم خوندي دے - چې شرح قصیدهٔ شنفرۍ نومیږي -

دا شرح د چاپي نسخې په ۳۴ مخ کښې پیل شوې ده او په ۶۶ مخ کښې پای ته رسیدلې ده - قصیده ټوله اته شپیتهٔ بیته ده - د قصیدهٔ شلشلیه د شرحې خلاف په دې شرح کښې اروابناد قاضي لومړے د قصیدې هر بیت په فارسي ترجمه او لږ توضیح کړے دے بیا وروسته یې عربي شرح ورته کښلې ده -
شرح قصیدهٔ شنفرۍ هم په پیل کښې یوه لنډه سریزه لري، چې د چاپي نسخې په یوه مخ کښې ځاے شوې ده - دا سریزه په فارسي ژبه لیکل شوې او شارح په کښې ویلي دي: " شنفری قصیدهٔ لامیه عربي قصیده ده او د عربي ادب له لویو آثارو څخه ګڼل کیږي ځکه چې غریب الفاظ او جاهلیت د دورې زاړهٔ اصلاحات په کښې ډیر وو او پوهیدل یې ګران وو نو په قصیده له پوهیدو لپاره یې ته اړه پیدا کیده، چې زړې شرحې او تعلیقات او د لغاتو زاړه کتابونه پسې و پلټل شي، په دې وخت او دې ځاے کښې هغو کتابونو د کیمیا او عنقا حکم درلود، نو ځکه د ځینو دوستانو او شایقانو په غوښتنه ما دا شرح وکښله ... "(۳۴ مخ)

د دې شرحې په برابر ولو کښې اروابناد رضواني د ابی العباس احمد بن یحیی مشهور په ثعلب شرح، د محمد بن یزید شرح ؛ د موید بن عبد اللطیف نښچواني شرح، د جار الله شرح او ځینې نور کتابونه کتلي دي - د دې شرحې یوه فارسی نمونه دا ده :

اقیموا بنی امی صدور مطیکم
فانی الی قوم سواکم لا میل

ای برادران من برخیزید و با من متوجه تاخت وغارتګری شوید ورنه من شما را ګذاشته بالضرور به قوم دیګر از ګرګ و پلنګ وغیره که همچون من اند ګراینده هستم (۴۴ مخ)

د دې دوو شرحو په پاے کښې د اروابناد رضواني یوه عربي قصیده راغلې ده، چې عنوان یې دے: " قصیدة الرضواني في بني افغان" دا قصیده ۴۳ بیته ده او دا ترې ښکاري چې پښتانهٔ عالم اروابناد قاضي میر احمد شاه رضواني د عربي نثر ترڅنګه په عربي ژبه د نظمونو استعداد هم درلود، په عربي قصیدې پسې جوخت د دې مجموعې په ۶۹ - ۷۲ مخونو کښې د قاضي درې فارسي منظومې هم شته چې دوې یې د قصیدې حد ته داخلیږي او یوه یې سرے غزل بللے شي -

د دې منظومو د سرا و پاے بیتونه دا دي :

چه ساعتی است مبارک که بعد طول امل
هر آنچه خواهش دل بود گشت مستحصل
مرا به شعلهٔ آواز سوخت رضوانی
در او او وای همان گلرخی که خواند غزل

---

هزارها گل رنگین گلشن تقدیر
فدای یک گل خود روی خطهٔ کشمیر
چگونه خیند از اینجا دل تو رضوانی
که هست خطهٔ کشمیر قید بی زنجیر

---

شتا و خطهٔ کشمیر و خیمه ام به قلل
گرفته برف همه سوی مخرج و مدخل
محل خوف و قدم بر مرا و منزل دور
مدد کنید درین وقت ای عصا و چپل

---

د رضواني د ځینو آثارو لکه: تحفة الاولیاء

او دا دوې شرحې او ورسره ضمایم، د دیوان ځینې منتخبې ټوټې او نور آثار دا ښکاروي چې رضواني په فارسي کښې هم نظم او نثر دواړه ویلای او لیکلای شوای ـ ما چې د ده فارسي منثورې لیکنې په تحفة الاولیاء او هم په شرح قصیدهٔ شلشلیه او شرح قصیدهٔ شنفري کښې وکتلې، نثر یې د هند په نیمه وچه کښې د فارسي نثر نګارۍ د اصولو او دوستونو تابع دے او په اولو کرښو کښې لوستونکے پوهیږي، چې دا نثر د ژبې د اهل نه دے او یو داسې چا لیکلے، چې فارسي یې د دوهمې یا درېمې، څلورمې ژبې په حېث زده کړې ده اما په ځینو فارسي نظمونو کښې یې خوند او رنګ دواړه شته او حتی د شعر پوهېوته ځان رسوي ـ

ددې دوو شرحو: شرح قصیدهٔ شلشلیه او شرح قصیده شنفري، وجود مونږ ته دا افاده راکوي چې قاضي په عربي ژبه او ادب کښې تر دې حده د مطالعې خاوند و ـ چې حتی شرحې یې پرې لیکلې شوې ـ

Scanned with CamScanner

# میراحمد شاه رضواني

د پښتو ژبې استاد هم قدردان و رضواني
ډېر ښکلی باکرداره لوی انسان و رضواني

چې پښتو ئې مدرسو ته تر کالجه رسولې
دا ئې کړې په دې ژبه لوی احسان و رضواني

د شمس العلماء په لوړ خطاب و نمانځلی
په دېر ژبو پوی هم گویان و رضواني

جوړې ئې ډکه د پښتو کړه په رنګ رنګ ښائسته گلونو
یو عظیم نثر نگار و تاریخدان و رضواني

پوی په خوند د عربۍ و د فارسۍ او انګریزۍ هم
خپله ژبه ئې پښتو وه ښه افغان و رضواني

چې راپورته به ئې قلم کړو په رموزو د کوم صنف
سخن په شان لکه د بحر به روان و رضواني

د پښتو ژبې خدمت ئې کړې و په خپلو وینو
نن پرې فخر پښتانه کړي هغه ځوان و رضواني

ستا په دې یو څو الفاظو باندې نه احاطه کیږي
سرزمینه باعظمته عالي شان و رضواني

# سرگذشت باستان در تاریخ قدیم افغان

## د شمس العلماء قاضي میر احمد شاه رضواني

## یو قلمي اثر

| |
|---|
| دا مقاله د قاضي میر احمد شاه رضواني په باب د خلیل اولسي ادبي جرگې له خوا په جوړ شوي سیمینار کښې اورول شوې چې د خیبر او له پاره د "پښتو" غیږ ته سپارل کیږي ۔ (خ ۔ ر) |

هسې ښه مهمان تو ازه خلق نیشته
لکه خدای چې پیدا کړې دے افغان

شمس العلماء قاضي میر احمد شاه رضواني (۱۸۶۰ - ۱۹۳۴ع) د پښتونخوا یو نامتو عالم، محقق، ادیب، شاعر او مصنف وُ، دهٔ د زده کړې او علمي تندې د ماتولو له پاره د افغانستان او هندوستان د نیمې وچې بېلا بېلو ښارونو او د زده کړې مرکزونو ته سفرونه وُکړل ۔ هرځائے تم شو او د علم له دولت نه ئې څهٔ تر لاسه کړل ۔ په دې لټون کښې د مصر تر الازهر پورې هم وُرسید او د خپل استعداد او تلاش په نتیجه کښې د وخت د علومو په مېوو موړ او معمور شو او ورسره ئې په خپله مورنۍ ژبه پښتو سربېره فارسي، عربي، اردو او انګلیسي هم تر دې حده زده کړې چې تالیف او تصنیف ئې په کښې وکړے شو ۔ د ګران ورور ډاکټر سهیل انشا د وروستنۍ څېړنې په رڼا کښې دهٔ د (۱۷۰) شا و خوا لوئے او واړهٔ کتابونه لیکلي وو چې ۷۰ ئې په عربي (۴۵) په فارسي (۳۰) په پښتو (۱۰) په اُردو او (۵) په انګریزي ژبو لیکل شوي وو ۔ دهٔ له دومره ډیر علم او په دومره کښو علمي ژبو له پوهېدو سره ۔ سره خپلې مورنۍ ژبې ته خاصه پاملرنه او توجه کوله، اَنّ تر دې چې

دا ژبه هم دده په هاند او زیار د لاهور په پوهنتون کښې د درسي ژبې په توګه شامله شوه او ده یې د زده کړې له پاره شکرستان او بهارستان و لیکل چې د پښتو د زاړه ادب په منثورو او منظومو نمونو سربېره یې د پښتني فولکلوري ادب نموني هم پکښې خوندي کړې او د پښتو د ګرامر او لیکوو د لار ښوونې یې هم پکښې ولیکلې، دے د انګریزانو د استاد په حیث له انګریزانو سره چې هغه وخت د دې خاورې حاکمان وو ډېر نزدې وُ او دې نزدیکت ده ته د علم په لاره کښې ډېرې اسانتیا او سهولتونه پېښ کړي وو او ده له دې علمي سهولتونو نه د خپلې ژبې او خپل قوم د علمي څېړنو په لاره کښې زیاته ګټه وچته کړه او په دې لړ کښې یې د نورو علمي کارونو تر څنګ د پښتنو یو نوے او ابتکاري تاریخ هم تالیف کړ چې د لته پرې غږېږو۔

د رضواني صاحب دا کتاب په فارسي ژبه دے او "سرګذشت باستان در تاریخ افغان" نومېږي کتاب دوه ټوکونه لري په لومړي ټوک کښې یې پښتانه د نسل پېژندنې له مخې څېړلي شوي او قوم په قوم او خېل په خېل پرې غږېدلي دي، په دوهم ټوک کښې د افغانستان تاریخ، جغرافیه، مشهور ښارونه او ځایونه لرغوني آثار، په افغانستان کښې استوګن قومونه، د افغانستان لرغوني اوسېدونکي، د یوناني سکندر له راتلو بیا د امیر عبدالرحمن خان تر وخته د افغانستان تاریخي پېښې په کښې خوندي دي. د کتاب د لومړي ټوک خطي نسخه ۷۰ مخونه او دوهم ټوک یې ۱۰۱ مخونه لري۔ ده دا کتاب په ۱۹۱۴ع کال په لاهور کښې سرته رسولے او قلمي نسخه یې دده د زوے میر اعظم شاه په قلم ده چې په ۱۹۶۲ع کال یې په پېښور کښې د چاپ له پاره چمتو کړې خو چاپ شوې نه ده۔

قاضي صاحب دا کتاب د پښتنو د تاریخ د یوې لویې خلا د ډکولو له پاره لیکلے وُ او هغه دا چې دده تر وخته پورې ټولو پښتنو او نورو شرقي مؤرخینو پښتانه د قیس عبدالرشید (د ۴۰ هجري کال مړ) اولاد ګڼلي او د دوی د ژوندګونو کلونو تاریخ یې هېر کړے دے۔ د دې خپل کتاب د تالیف سبب د همدې تش د ډکول بولي۔

د رضواني صاحب تیوري دا ده چې له لرغونو زمانو را هسې افغانستان ته د بېلا بېلو عواملو په سبب له بېلا بېلو هېوادونو نه خلق راغلي، دلته مېشت شوي او بیا دې بېلا بېلو خلقو د پښتنو په نامه یوه ټولنه جوړه کړې او په یوه ژبه غږېدلي دي۔ د هم دې تیوري له مخې دے لرغوني پښتانه د کک شاه کهزاد اولاد بولي چې کوچیاني ژوندی یې درلود، درانی۔ جدون، غوریه خېل، څمکني، شیراني، استراني الایي۔ زمري۔ همړي بېټني۔ سړه بني۔ متني، داني او ځیني نور قبایل عبراني نسله ګڼي، ارماتني، سوري۔ خټک، ناصر۔ شیتک

Scanned with CamScanner

او ځینې نور نچلوته کنعاني بولي، وزیر- لودي او ځینې
نور قومونه مصري نسله بولي، مروت - شلماني
او بربري له مغرب نه راغلي بولي، تیراهي- دوداني
کتي او اوان یوناني نسله ګڼي، نوري خوګیاڼي-
ازاره رومیان بولي، بنوڅي او دمړ او کاراتي
بابلیان بولي، غلجي - توخي، تغلق تورانیان
ګڼي، هوني او منګل تاتاري قبیلې شمېري، میوند-
لغماني - پشه یي له چین نه راغلي بولي، بابي- باکړني-
بختیاري- اورک زي- اپریدي - سرکاڼي- وردک
سافي - خوګیاڼي - کاکړوني - کاسي - ښخواني آریایان
ګڼي، بالک زي - رتن زي - پشاکي - خروټي -
ناګر - کهړ - تڼي - هري پال - مهیال، شینواري
بسیاڼي او نور هندي الاصله بولي، لواڼي او
جلیاڼي سندیان ګڼي، اسکیناپي - پرنګي - پختاني-
مېماني، سواتي - ساکتي او زرمتي روسي او جرمني
طوایف بولي او ښتکني د عربو له نسله ګڼي-

دغه د پښتنو د نسل څېړنې د معما د حل له پاره
د تواریخ افغاني د مبصر په توګه د شتو آثارو تر
تحقیق، تنقید، تنقیح او تصحیح وروسته دا اثر
لیکلی او څرګنده کړې یې ده چې دغه اثر په کښلو
کښې یې له ګڼو پخوانیو او وسنیو په شرقي او
غربي ژبو لیکل شوو مستندو تاریخونو او ګڼو
کتابونو څخه استفاده کړې چې د مصر، یونان، نینوا،
بابل او کنعان محققانو لیکلي او هم یې د پښتانو
له یاده شتونو د هند و چین د ګوټند ویانو له

سفرنامو، د یورپي محققینو له تذکرو د پهلوي -
نبطي او قطبي کتابونو له ترجمو، له زړو سکواوړېر
لیکونو څخه را ایستلي او په دې اثر کښې خوندي کړي دي.

د رضواني صاحب تر وخته پورې د پښتنو په
باب یوازینی مسلط نظر دا و چې دوی شامي نژاده
او د یهودانو تربرونه دي او ورسره دا نظر هم
مسلط و چې دوی د قیس عبدالرشید اولاده ده
او تر اسلام را وروسته د پرشوي او پنځېدلي دي
خو هم او خت عربي څېړونکو د پښتنو د آریائیت
نظریه هم په دلائیلو او اسنادو وړاندې کړه او
علمي بحثونه پرې وشول - ځینې انګلیسي محققینو
بیا نظر وړاندې کړ چې پښتانه واحد قوم نه بلکې
ګډه کلتوري ټولنه ده چې ارواښاد رضواني هم په
خپل کتاب کښې هم دا نظریه پخه کړې او ټینګه کړې ده
لکه څنګه چې ارواښاد رضواني خپل کتاب په تنقیدي روحیه
لیکلی هم دا راز د دغه کتاب هم له تنقید نه لوړ نه دے
او له ګڼو برخو سره یې اختلاف کېدلے شي -

د مثال په توګه په پښتنو کښې د دومره قومونو
ګډون چې دغه شمېرلې او دقیق پرې غږېدلے دے په
کلي توګه د منلو نه دے - البته په جزوي توګه دا ثابته
ده چې په پښتنو کښې ځینې نورو یې تر وسه خپل
تشخص ساتلے دے، خصوصاً کله چې سړے وګوري چې
د ځینو قومونو او ځایونو په منسوبولو کښې یې د
لفظونو د صوتي او تلفظي نزدیوالي له مخې حکم کړے
لکه منګل څکه منګول، مغول او تاتاري نژاده بولي چې

Scanned with CamScanner

د نوم صوتي آهنګ ئې ورسره نژدې دے، یا کابل ځکه د آدم علی نبینا و علیه السلام د زوے قابیل په لاس آباد شوي ځائے ګڼي چې کابل او قابیل تلفظي نژدېوالے لري، یا سوریان له دې کبله چې له سوریې سره یې نوم ورته دے د سوریې وسېدونکي ګڼي، هغه اسې یې نور درواخله!

د قاضي صاحب دا تاریخ له دې کبله زیات ارزښت لري چې دهٔ د دې کتاب په لیکلو سره د پښتنو په تاریخ لیکنه باندې هغه مسلط بت مات کړے چې پښتانهٔ سامیان بولي او له قیس عبدالرشید سره ئې د دوئ په تړلو سره د دوي د زرګونو کلونو تاریخ په سوونو کلونو کښې رالنډ کړے او د دوي د زرګونو کلونو سوابق او شته والے ئې هېر کړے دے. د دهٔ دا کتاب که هغه وخت چاپ شوے وے پښتنو ته به ئې د خپل ځان په باب نوے نظر او فکر ورکړے وُو او په دې برخه کښې به ئې لاندېو او ابتکاري څېړنو ته هڅولي وو. همدا راز دا کتاب اوس هم بې ارزښته نهٔ دے او که اوس هم چاپ شي نبهٔ بحث برانګېز کتاب به وي او د پښتون پېژندنې ابحاثو او څېړنو ته به نوي ابعاد او اړخونه ورکړي.

زهٔ دلته د دې کتاب نقدول نهٔ غواړم بیانې وې غوښتل چې تاسو ته دا درونه کتاب در وپېژنم او د قاضي صاحب له یوه ګټور قلمي اثر سره مو اشنا کړم، زهٔ په پای کښې له ښاغلي سید فیروشاه ګیلاني منته کوم چې د دې اثر نسخه یې رابانديې ولوروله او ښاغلي ډاکټر سهېل انشاء ته پېرزوني وړاندې کوم چې د دې اثر فوټوسټېټ ئې رابانديې پېرزو کړ او ورسره تاسو ټولو مشکور یم چې زما معروضات مو په پوره پاملرنه واورېدل.

# اِعلان

د پښتو اکېډمۍ اداره د مرحوم پروفېسر عبدالروف نوشهروي په مرګ د غمرازۍ څرګندونه کوي او د هغه د وارثانو سره په دغه زیان کښې ځان شریک ګڼي.

Scanned with CamScanner

شهریار قتاش خیل

# د رضواني په یاد کښې

شمس العلماء وې په پښتو دې احسانونه دي
نه چې په پښتو په پښتنو دې احسانونه دي
ستا په وجه ستا له برکته مونږ سر لوړي یو
بس په دغه تولو شاه زلمو دې احسانونه دي

نصرالله خان نصر د خپل دور ناصر وُ
رضواني په پښتونخوا کښې منور وُ
محمد ګل وزیر هم عصرئې یاد پړی
سنهٔ نیکوال قلم نګار وُ دیده ور وُ

اے د علم لوئے خاوندانو دانشوره
دا ژوندي کړلي خلیلو بختوره
برکت دې د خلیلو د جرګې چې
پښتونخوا کښې منور شوې سخنوره

نصر، رضواني و کړه وزیر محمد ګل
کړي ستې پښتو ژبې له د پر وو خدمتونه
بیا مې لویه خدایه رهبرانو ته حاجت دے
بیا چې راته وښائې ورک شوي منزلونه

پښتو چې چاکړه په غورزنګ مالګرو
نیشته د هغه خلقو رنګ ملګرو
وینبې جذبې او لوړ خیالونه ژوندي
وو په ماضي کښې د فرهنګ ملګرو

ليکوال: سيد محي الدين هاشمي

# رضواني او خطاطي

د قاضي مير احمد شاه رضواني د ژوند او فن په حقله ترڅه وېلو دمخه لازمه برېښي چې د خط په دولونو او د خطاطۍ ارزښت او اهميت ته يوڅه لنډه کتنه وکړو.

د خط د پېژندنې په لړکښې ويل کېږي چې خط د وضع شويو رسمونو مجموعه ده چې د يوې ژبې د غږونو، الفاظو، وېنا او افکارو د انځورولو او ثبتولو دپاره استعمالېږي (۱)

يا په بله وېنا: د ټولنيز افهام او تفهيم يا دځان له پاره د پنسل، قلم يا بل شي په مرسته د انساني اندېښنو او فکرونو ارونه په نخښونو او رسمونو (هيروګليف خط)، نخښو او علامو لکه مصر، بابل، آشور او همدارنګه وسني چيناني او جاپاني خطونه) يا الفبايي سيستم باندې (و سني عربي لاتيني، يوناني او هندي خطونه) چې په کاغذ يا بل شي وشي خط بلل کېږي (۲)

دلرغون پېژندونکو د څېړنو په نتيجه کښې جوته شوې چې ليک د نن نه پنځه زره کاله پخوا په لرغوني مصر کښې را منځ ته شوي دي.

لرغوني ليکونه د بڼې له مخې په درې سترو کټګوريو وېشل کېږي:

۱- مېنځي خطونه (۲) هيروګليف خطونه

۳- الفبايي خطونه.

چې د نړۍ د ژبو ټول خطونه د بڼې له مخې په لږ و ډېر و توپير له همدغو پورتنيو خطونو څخه را منځ ته شوي دي. (۳)

په پورتنيو خطونو کښې ورمېني دوه دولونه (مېنځي او هيروګليف) د زمانې په لحاظ لرغوني او دريم دول (د الفبايي خطونو سيستم) چې وسني عربي، لاتيني، يوناني او ځينې هندي ليکونه پکښې شامل دي، په نسبتاً را وروسته زمانې پورې اړه لري.

د اسلام مقدس دين په خپرېدو سره د هغو هېوادونو خلقو چې د اسلام دين يې منلی د خپلو ژبو د ثبت او ليکنې لپاره عربي ليک دود غوره کړے دے. په دې دله کښې پښتو، پارسي او اُردو ژبې هم شاملې دي، نو ځکه موږ د لته د موضوعي ارتباط

له مخې د الفبائي سيستم خطونه له جملې نه د عربي خط او خطاطۍ په ارزښت، اهميت او ډولونو بحث کوو.

## د خط او خطاطۍ (کتابت)

## ارزښت او اهميت

د ليک پېدا ېښت د بشر په ژوند کښې د نورو هغه کوښښونه وه چې د جهل تورې تيارې يې لاندې کړې، انساني لالهاندې ژوند ته يې نظم و بخښه، د بشري تجربو د ليږد اغېزمنه وسيله شوه، زده کړو او علومو ذخيرې يې خوندي کړې او بشريت ته يې د دې ځواک ورکړ چې د تمدن ماڼۍ ودانه کړي او بالاخره ليک د بشري تاريخ پېلامه وګرځېد.

د ليک او قلم پېځلتيا عظمت، ارزښت او اهميت تر هر څهٔ وړمبي د الله (ج) له دغو مبارکو ارشاداتو څخه څرګندېږي.

(ن وَالْقَلَمِ وَمَا يَسْطُرُوْن) يا "اقْرَأْ وَرَبُّكَ الْاَكْرَمُ الَّذِی عَلَّمَ بِالْقَلَمِ عَلَّمَ الْاِنْسَانَ مَالَمْ يَعْلَمْ"

د اسلام د ستر پيغمبر صلی الله عليه وآلهٖ وسلم د مبارک حديث ژباړه ده "څوک چې قلم تراش کړي او په هغې د علم په برخه کښې څهٔ وليکي، خدای (ج) به ورته په جنت کښې داسې ونه ورعطا کړي چې له دنيا او هغه څهٔ نه به چې په دنيا کښې دي بهتره وي".

حضرت علی کرم الله وجهه قول دے چې ښکلے ليکل (خوش نويسي) د کړۍ چې د روزۍ کلي ده "(۴)

خوشحال بابا په خپل مشهور اثر "دستارنامه" کښې د خط او د دغه ښکلي هنر د ارزښت او اهميت په باب ليکي:

"علم او خط سره لازم او ملزوم دي. علم په مثال د وحشي، خط يې لکه کمند چې وحشي پرې قيد شي. دا هومره کتابونه به نهٔ وُو کهٔ خط نهٔ وے په حساب په کتاب په سياق. به څوک پوهېدل کهٔ خط نهٔ وے؟ د جهان کار سره ټول په خط دی، لوے هنر دے، منزلت مرتبت يې هم ډېر دے، قدر قيمت يې تر حساب تېر دے کهٔ يې دولتمند زده کا زيب او زينت يې وي، کهٔ يې درويش زده کا دَ درويش دولت دے" (۵)

کتابت (خطاطي) په لغت کښې راټولول او جمع کول دي. خط او ليکنو ته له دې امله کتابت وائي چې کاتب توري په کلمو، کلمې په جملو او کرښو يا د يو څهٔ په مخ راټولوي.

يا کتابت يو روحاني فن او صنعت دے چې ليکونکي توري په خپل ذهن کښې مجسم او په خپل عقلي او نفساني ځواک يې د قلم په وسيله انځوروي (۶)

د خطاط (کاتب) لغوي معنیٰ فرهنګونو مشاق، خوشنويس، د ښکلي او اصولي خط خاوند ښودلے دے او خطاطي (کتابت) د ښکلو هنرونو هغه څانګه ده چې په ليک کښې د موضوعه اصولو ،

اسلوبو، فني تکتیکونو او ښکلا څخه بحث کوي (٧)

د خطاطۍ د فن استادانو د کاتب یا خوشنویسۍ لپاره شپږ پړاوونه (مرحلې) په ګوته کړي دي

١- ابتدائي (٢) متوسط (٣) ښه (خوش) (٤) عالي (٥) ممتاز (٦) استادي چې د دغه ښکلي هنر زده کوونکي د ډېر مشق، تمرین او کړاو په نتیجه کښې د غه پړاوونه وهي تر هغې د استادۍ مقام ته ورسېږي.

د کتابت اوزار او وسایل: قلم، قلمدان، قلم تراش، دوات (سیاهي) دي (٨)

## د خط قواعد او ډولونه

دا چې د هر علم او فن له پاره ځانګړي اصول او قواعد وي چې په زده کړې کښې یې بنسټیز رول لري. د غسې د خطاطۍ هنر او فن هم خپل قوانین او قواعد لري.

ویل کېږي چې عربي خط له نبطي خط څخه چې ریشه یې له ارامي خط څخه ده را منځ ته شوی دی. په دې لړ کښې ورمبني تر لاسه شوي اسناد امري قیس بن عمرو د قبر ډبرلیک (کتیبه) دی چې نبطي په ۳۲۸ میلادي کال لیکلي دي. ځکه نو ځینې لرغون پېژندونکي د عربي لیک را منځ ته کېدل په شلورمه او پنځمه میلادي پېړۍ کښې د طور په شبه جزیره کښې ګڼي (٩)

د حضرت محمد صلی الله علیه واٰلهٖ وسلم په زمانه کښې عربي لیک ساده ښه درلوده چې غوره بېلګې یې د اسلام د ستر پیغمبر هغه لیکونه او فرمانونه دي چې د وخت پاچهانو او واکمنانو ته یې لېږلي او اوس هم د معتبرو تاریخي اسنادو په توګه موجود دي.

په صدر اسلام کښې ورمبنی شخص چې د خطاطۍ فن یا د خط ښکلا ته یې پام واوښت. خالد بن الهیاج د حضرت علی کرم الله وجهه له نږدې ملګرو څخه و. وروسته بیا دا کار عام شو او هر لیکونکي به دا هڅه کوله چې ښکلی خط ولیکي خو د دې کار له پاره کوم ځانګړي قواعد او اصول نه وو موجود. هرچا د خپل هنري ذوق له مخې د خط د ښه کولو او ښکلي کولو زیار وېوست. دې کار د ابن مقله تر وخته پورې دوام درلود. وزیر ابن مقله د خپل ورور په مرسته د خط قوانین د هندسي علم په میزان برابر کړل او خط ته یې یوه علمي او فني ښه ورکړه. ورپسې یاقوت مستعصمي د خط له پاره قواعد منظم کړل او شپږ ډوله (محقق، ریحان، ثلث، نسخ، توقیع، رقاع) خط یې را منځ ته کړ. وروسته بیا میرعلي هروي تبریزي (٨٥٠ هـ ق مړ) خط په قواعدو کښې له سره کتنه وکړه او د "نستعلیق" په نوم یې یو بل ډول خط هم په اسلامي خطونو کښې ورزیات کړ. (١٠)

ابن ندیم په الفهرست کښې د عربي لیک واضعین مرامر بن مره، اسلم بن سدره او عامر بن جدره ښودلي دي. ویل کېږي چې اسلم بن سدره یې د

توروفصل او وصل وضع کړي او عامر بن جدره يې تمکي ته منځ ته کړي دي.

ابن نديم ليکي چې لومړني عربي ليک "مکي" ترهغې وروسته "بصري" او په درېيم پړاو کښې "کوفي" ليک را منځ ته شوی دی (۱۱)

حبيب الله فضايلي په خپل اثر "تعليم خط" کښې اسلامي خطونه اته ډوله ښودلي دي.

۱- کوفي ۲- محقق او ريحان ۳- ثلث ۴- نسخ ۵- تعليق او ديواني ۶- رقعه ۷- نستعليق ۸- شکسته

اوس دلته هريو په لنډه توګه دروپېژنو.

## ۱- کوفي خط:

په اسلامي ليکونو کښې تر ټولو لرغوني ليک دی، د دغه په بېلو بېلو نومونو ياد شوی دی، تر څو چې کوفه د خپل سوق الجيشي اهميت له مخې د اسلامي حوزې مرکز شو، دا ليک په کوفي مشهور شو له صدر اسلام څخه تر اوسه پورې ددې ليک د دوو ستر و ډولونو بېلګې ليدل شوي دي:

۱- ساده تحريري او کتابتي شکل

۲- پېچلې بنايي يا معقلي شکل

په وړمبي ډول کښې يې زياتره د قرآن عظيم الشان او نورو ديني کتابونو نسخې ليکل شوي او دوهم ډول يې په ودانيو کښې تزيني او ښکلا ئيزې ليکنې او نقشونه دي (۱۲)

ويل کېږي چې کوفي خط مراره بن مره تر اسلام دوه سوه کاله پخوا اختراع کړی دی (۱۳)

په دغه ليک کښې د بېلا بېلو توروليکلو پاره تقريباً سره يو شان او مشابه انځورونه کارول کېږي چې لوستونکي د لوستنې په وخت په حېرانتيا او اشتباه کښې اچوي. څرنګه چې ددې ليک لوستنه ستونزه وره ده، نو ځکه يې پر ځای د قرآن عظيم الشان او نورو کتابونو د ليکلو له پاره "نسخ" ليک کارول کېږي. اوس دغه ليک تقريباً متروک او يوازې ځينې خطاطان يې د تزين لپاره ليکي (۱۴)

## ۲- محقق خط:

خطاطان محقق خط ته د خطونو پلار او ثلث خط ته د خطونو مور وائي. دې خط ته ځکه محقق وائي چې يو لاس او روښانه ليکل کېږي، او توري يې هر يو په ښکاره توګه په خپل ځای واقع کېږي. يا په بله ژبه د کوفي خط برعکس د تورو داسې انځورونې چې د اشتباه او التباس سبب وګرځي، په دې ډول ليک کښې نشته. يو بل ډول ليک چې د "محقق" خط څخه را منځ ته شوی خطاطان يې د "ريحان" په نوم پېژني، دا ډېر ښکلي، ظريف او ډېر وهېدني وړ خط دی. د محقق خط ټولې ځانګړنې او ښکلاوې پکښې شته. خطاطان د هغې ښکلا او ظرافت له مخې چې دا ليک يې لري د ريحان ګل د پاڼو سره تشبيه کړي او ريحان يا ريحاني ليک يې نومولی دی (۱۵)

## ۳- ثلث خط:

خط څېړونکي ثلث خط ته د خطونو مور وائي -

۲۷۶

خط دیوانی ۱
شبه طغرا

ثلث ۲

نسخ ۳

نستعلیق ۴

اجازه‌ای مزیّن ۵

رقعی ۶

دیوانی ۷

دیوانی جلی ۸

کوفی ۹

رقم

هاشمی ...

منقول از المنجد طبع جدید

(١)

(٢) جمعت الطبيعة عبقريتها فكانت الجمال

الثلثي

(٣) وكان أحسنه وأشرفه ما حلّ في الهيكل الآدمي وجاور العقل الشريف والنفس اللطيفة والحياة الشاعرة

النسخي

(٤) فالجمال البشري سيد الجمال كله

الفارسي

(٥) لا الفنّان البارع استطاع أن يخلعه على الدمى الحسان ولا النيّرات الزهر في ليالي الصحراء ما لهن من محبة وبهاء

الريحاني

(٦) ولا البديع الزاهر وغريره في شباب الربيع ما له منه بشاشة وطيب

الرقعي

(٧) وليس الجمال بحمرة العيون ولا ببريق الثغور ولا بهيف القدود ولا بأسالة الخدود

الديواني

(٨) ولا بلؤلؤ الثنايا وعسول الشفاه ولكن شعاع علوي يحيط بالجمال البديع على بعض الهياكل البشرية

الديواني الجلي

(٩) يكسوها روعة ويجعلها سحرا وفتنة الناس

الكوفي

بيروت في ١٠ تموز ١٩٥٤

فؤاد ...



دې ډول یک ته ځکه ثلث وایي چې د شپږو برخو نه یې د شپږ دوه ثلثه دور او څلور برخې سطح وي (۱۶)

ثلث خط په څلور ډوله (توقیع - رقاع - اجازه - غبار)

الف - توقیع :-

دا د ثلث یک یو خاص ډول دے چې پخوا یې په دفترونو او دیوانونو کښې د فرمانونو او شرحو په لیکلو کښې استعمال درلود - وروسته یې ځاے په تدریج سره رقاع او اجازه خطونو ونیو او له استعماله ولوید -

ب : رقاع :

دا ډول یک د چټک لیکل کېدو، لنډیز او اختصار له وجې د توقیع یک څخه را منځ ته شو او بیا د روانۍ او اسانۍ له امله په ډېرو لیکنو کښې عام او رواج یې وموند، بېلګې یې د قران شریف او نورو دیني کتابونو په شرحو کښې لیدلے شو -

ج : اجازه خط :

وایي چې دغه یک ترکي خطاطانو را منځ ته کړے دے - په دې ترتیب چې په توقیع یک کښې یې څه ناڅه تصرفات کړي او هم یې د رقاع او نسخ لیکونو شکلونه ورداخل کړي دي - د بڼې له مخې یې ځینې بنا خونه او پانې ورکړي چې له یو لاس والي او خالص والي څخه یې ویستلي دي او س په عربي هیوادونو کښې زیات رواج لري - ښکلے خط دے او د قلم تحریف یې د ثلث یا توقیع په اندازه دي -

د - غبار خط :

په دې ډول یک به پخوا پټ او سري سیاسي لیکونه لیکل کېدل - او س له رواجه لوید لي دي - څرنګه چې د بڼې له مخې ګرد او غبار ته ورته وو، نو ځکه یې غبار بللے دے - (۱۷)

۴ : نسخ خط :-

خط څېړونکي ددې یک لرغونتیا صدر اسلام او ځینې بیا لا تر دې هم پخوا زمانې ته رسوي، خو ابن مقله شیرازي له زمانې را وروسته چې نوموړي دغه یک ته یوه بڼکلې، هنري او چوکاټي بڼه ورکړه، دا یک مشهور او د زیاتې پاملرنې وړ وګرځېد او بالاخره دومره مقبول شو چې د کوفي یک په ځاے د قران عظیم الشان ولیکنې یک شو او وروسته دا تول د مشیني چاپ او طباعت یک وګرځېد.

د ځینو خط څېړونکو په عقیده دې یک ته ځکه نسخ وایي چې د قران دیکاوله پاره وضع شوے او د نورو ټولو خطونو ناسخ ګرځېدلے دے (۱۸)

جعفر باسنفري وایي : دغه یک د محقق، ریحان، ثلث او توقیع لیکونو ترا غېزې او تاثیر لاندې را منځ ته شوے او د یک یوه اصلاحي بڼه ده - (۱۹)

دا یک په اسلامي نړۍ کښې په دوو ډولونو دود دے.

۱- یاقوتي یا عربي ډول -

۲- افغاني او ایراني ډول

پښتو لیکني په عامه توګه په نسخ خط لیکل کېږي -

## ۵ ـ تعلیق خط :

خط څېړونکي وائي چې له شپږمې هجري پېړۍ څخه را وروسته ایراني خطاطانو په رقاع خط کښې تصرفات وکړل او د فرمانونو، احکامو، مکتوبونو او عادي لیکونو د لیکلو له پاره یې یو ډول لیک رامنځ ته کړ چې د "تعلیق" په نامه مشهور شو.

وایل کېږي چې خواجه تاج ددې لیک له پاره یو لړ اصول وضع کړل ـ دا لیک تر ډېره وخته مروج ؤ خو اوس تقریباً متروک شوی او له استعماله لوېدلی دی ـ ډېرلږ خطاطان یې کله کله د تفریح، لیکنې تنوع او ښکلا له پاره لیکي البته دې ته ورته یو بل ډول لیک اوس په عربو کښې دود دی چې "دیواني لیک" ورته وائي ـ

د تعلیق لیک د ښې له مخې یو لاس نه دی، توري یې ځنې واړه او ځنې لوی لیکل کېږي ـ تړښت (اتصال) یې د توقیع او رقاع لیک په شان دی دیواني خط ددې لیک یو ډول دی چې د لته یې درپېژنو ـ

### دیواني خط :

دا لیک په واقعیت کښې هماغه تعلیق لیک دی چې په عربو کښې یې د دیواني خط په نوم رواج موندلی دی ـ په دې معنی چې په تعلیق کښې د ترکیې عثماني دولت منشیانو څه نه څه تصرفات وکړل او هغه یې د دولت د فرمانونو، مکتوبونو او احکامو او نورو دیواني او دفتري چارو لیک کړځولی دی نو ځکه یې دیواني یا همایوني لیک بولي ـ وروسته دا

لیک له ترکیې نه عربو ته تللی او هلته یې لیکنې زیات رواج موندلی دی دا چې دا لیک له نورو خطونو سره ګډ شوی ښه ده ځکه یې ښکلا ښېرزه ښه په زړه پورې، لوستنه یې روانه او اسانه ده او همدغه یې د مقبولیت ستر عامل هم دی (۲۰)

## ۶ رقعه خط :

رقعه په لغت کښې دیوې پاڼې او ټوټې ته وائي او د خطاطۍ د فن په اصطلاح هغه ګډ او مخلوط شوی لیک دی چې ایجادګرو یې د نسخ او دیواني لیک تر اغېز لاندې را منځ ته کړی دی لومړی په عثماني ترکیه کښې رواج شوی او بیا په نورو اسلامي هیوادونو کښې عام او دود شوی دی ـ دغه لیک نن ورځ په عربو کښې دعا دی، توري یا دداشتونو او نورو لیکنو د لیکنې له پاره کاریږي او لکه د افغانستان او ایران د شکست خط په څېر د عمومي فوري لیکنو لپاره عام دی یا په بله وینا وټلی شوی چې دا د نسخ خط ماته (شکسته) بڼه ده ـ څرنګه چې دا ډول خط شکسته بڼه لري، نو ځکه د قرآن عظیم الشان د آیتونو د لیکلو لپاره مناسب او مقبول نه دی ګڼل شوی ـ وایل کېږي چې دا لیک د سلطان محمد فاتح (۸۵۵ – ۸۸۶) په زمانه کښې پیدا شوی دی ـ

## ۷ ـ نستعلیق خط :

دا خط د دوو لیکونو "نسخ" او "تعلیق" ګډ شوی بڼه ده او د دغه ګډون په نتیجه کښې د نستعلیق په نوم کوم لیک را منځ ته شوی له دواړو

لیکونو سره د بڼې له مخې پوره بدلون لري . ویل کېږي
چې دا لیک خواجه میر علي تبریزي په اتمه هجري
قمري پېړۍ کښې د نسخ او نستعلیق له یوځای کېدو
څخه په هنري بڼه را منځ ته کړې دے (۲۱)

نستعلیق لیک د بڼې د ښکلا سادګۍ او روانۍ
له مخې ډېر په زړه پورې او په افغانستان ایران،
پاکستان او هند کښې ډېر عام او مقبول ګرځېدلے دے.

## ۸. شکسته خط :

د لیک د تعلیق او نستعلیق لیکونو له ګډون څخه
منځ ته راغلے دے او دا چې د دغه دواړو ډولونو اصول
پکښې مات شوي دي ځکه یې شکسته لیک بولي (۲۲)
دا خط په دوه ډوله دي :

۱- ترسل شکست چې په ترښتونو او لیکني روش کښې
یې د تعلیق خط څخه پېروي کېږي . ددې ډول لیکونو
لوستنه ډېره مشکله ده نوځکه یې دود کم او ډېر نهٔ
دے مقبول شوے .

### ۲. نستعلیق شکست :

چې په روښنایۍ او سادګۍ کښې د تعلیق خط
څخه پېروي کوي دا ډول شکست خط مقبول او زیات
مینه وال لري. (۲۳)

په عمومي ډول ویلے شو چې دا لیک ځانګړي اصول
او قواعد نهٔ لري یو لاسي خط نهٔ دے، هر لیکوال یې
د خپل ذوق او خوښې له مخې لیکي په عامه شخصي
او دفتري لیکنو کښې یې استعمال زیات دے. په
افغانستان او ایران کښې له یوولسمې هجري قمري
پېړۍ راهسې دود دے او ځینې ډېرې ښکلې بېلګې
یې د خطاطانو په آثارو کښې موندل کېږي .

## عمومي یادونه :

د لیکونو پورتني ډولونه د نړۍ په بېلابېلو
اسلامي هېوادونو کښې په لږه یا ډېره پیمانه رواج
دي. مونږ دغه اسلامي خطونه په نړیواله سطح په
څلورو لیکنیو طریقو او شیوو ویشلای شو.

الف: عربي او ترکي ب: افغاني ج: ایراني
د: هندي او پاکستاني .

ثلث، دیواني، اجازه او رقعه خطونه زیاتره
په عربي هېوادونو کښې عام او رواج دي. خو په
افغانستان ایران، پاکستان او هند کښې د غه پورتني
خطونه د خطاطانو په آثارو کښې ډېر کم لیدل کېږي،
ولې ددې په پرتله نسخ، نستعلیق او شکست خطونه
زیات رواج او د فن لوړ معیار ته رسېدلي دي.

د پورتنیو د متداولو اسلامي خطونو او د
هغوی له فروعاتو (چې ټول ۱۲ ډوله کېږي) برسېره نه
د «سنبلي» او «سیاقت» په نوم دوه ډوله نور خطونه
هم شته چې د ترکي خطاطانو ایجاد دي . دا چې دغه
خطونه د مروجو اسلامي خطونو سره ډېر زیات شکلي
توپیر لري یوازې په ترکیې پورې منحصر او نورو
هېوادونو کښې نهٔ دي عام شوي، نوځکه یې مونږ دانهٔ
کونو اسلامي خطونو په ډله کښې نهٔ شمېرو .

د قاضي میر احمد شاه ژوند او فن

د پښتو د معاصر ادبي تاریخ د معاصرې ادبي

Scanned with CamScanner

دورې د پېلامې د نومياليو ښنتګرو ليکوالو په ډله

کښې د ميراحمد شاه رضواني نوم د څانګړې يادونې

اوستاينې وړ دے۔

نوموړے ۱۱ اپريل ۱۸۶۰ (د تقويم تاريخي مطابق

۲۰ رمضان المبارک ۱۲۷۶ھ) د پېښور نه لس ميله

شمال ته د اکبرپورې نومې کلي کښې د قاضي مير

صاحب زاده په کور کښې سترګې نړۍ ته غړولې دي۔

لومړنۍ زده کړه ئې د خپلې سيمې له نامتو عالمانو

او بيا په لوړې ديني او نوې مروجه علومو په

زده کړه پسې د هند افغانستان او مصر مشهورو ښارونو

ته سفرونه کړي او مصر الازهر په پوهنتون کښې

خپلې زده کړې پاى ته رسولې بېرته خپل وطن ته

راستون شوے او د پنجاب پوهنتون د ختيځ پوهنې

د څانګې نه ئې د منشي فاضل او مولوی فاضل برې

ليک هم تر لاسه کړے دے په ۱۱ نومبر ۱۸۸۸ء

(د تقويم تاريخي مطابق ۶ ربيع الاول ۱۳۰۶ھ) کال د

ښوونې او روزنې په محکمه په دنده ګمارل شوے،

بيا د هلې نه تللے او هلته ئې انګرېزانو ته د پښتو

ښوونکے او وروسته د لاهور سنټرل ټرېننګ کالج

کښې د ختيځ پوهنې د څانګې د پروفيسر په توګه مقرر

شوے دے۔ په ۳۰ دسمبر ۱۹۳۴ء (د تقويم تاريخي مطابق

۲۳ رمضان المبارک ۱۳۵۳ھ) کال ئې له دې نړۍ

نه سترګې پټې کړې دي: (۲۴)

رضواني د خپل وخت نامتو ديني عالم او پياوړے

ليکوال او اديب وُ چې د برطانوي هند حکومت وائسرائے

لارډ کرزن ورته د "شمس العلماء" لقب ورکړے وُ۔

په پښتو سربېره په انګرېزي، عربي، پارسي او

اردو ژبو هم پوهېده، په دغو ژبو ئې مقالې او

آثار ليکلي او شعرونه ئې هم پرې ويلي دي (۲۵)

پښتو ژبې او ادب ته د رضواني له ستر و خدمتونو

څخه يو دا دے چې نوموړي د پنجاب په پوهنتون

او د پښتونخوا د کالجونو په تعليمي نصاب کښې د پښتو

ژبې تدريس شامل کړ او د غسې ئې په خلقو کښې

خپلې ژبې ته د خدمت روحيه راژوندۍ کړه۔ نوموړي

په دې لړ کښې "د شکرستان افغاني" او "بهارستان

افغاني" په نومونو کتابونه وليکل او تدريس ئې

کړل (۲۶)

رضواني د معاصر نثر ښتګرو په ډله کښې

شمېرو دي او د "روهي ادب" د ليکوال په قول ئې په

خپلو نثري ليکنو کښې د ساده او روان نثر انداز خپل

کړے او د مولوي احمد د نثر نګارۍ په اسلوب کښې

ئې د مزاح مالګه ورزياته کړې ده۔ (۲۷)

او د پښتو نثر هنداره اثر مؤلف ئې نثر د

څلورمې (معاصرې) ادبي دورې له غوره نثرونو څخه

بولي او وائي چې د رضواني د نثر عبارتونه او جملې

رواني او لنډې دي، ترکيبونه ئې د پښتو په چوکاټ

---

۱ د قبر په غاړه ئې د فارسي شعر ۲۲ رمضان المبارک ښائي کوم چې د ده زوی ميراعظم شاه بېدل ليکلے دے

برابردي، د پښتو سوچه لغات پکښې ډېر، ژبه يې
خوږه، پسته او د اولس له محاورې سره سمه ده.(۲۸)

مير احمد شاه رضواني د علم، فرهنګ، ژبې
او ادب په خوا خوږو خدمتګارانو کښې شمېرې دے
چې د ژوند او فن زياته برخه يې د غه خدمت
ته وقف کړې وه، په دغه لارکښې يې ډېر کار وونه
کاللي او ډېر وختونه يې په زده کړه، تدريس، څېړنه
او ليکنه تېر کړي چې زيات شمېر تاليفات او تصنيفات
يې زموږ د دغې ادعا ښکاره ثبوت دے.

(ډاکټر مياسهيل انشاء په خپله يوه مقاله
"شمس العلماء مير احمد شاه رضواني" کښې د رضواني
د کشرې زوے سيد مير اعظم شاه د ويناله مخې هغه
د کم او زيات (۱۷۰) آثارو مؤلف او ليکوال ګڼلے دے
چې په دې جمله کښې (۷۰) عربي، (۴۵) پارسي، (۳۰)
پښتو، (۱۰) اردو او (۵) يې په انګريزي ژبه وو.(۲۹)
نو اوس له بده مرغه موږ له د غو (۱۷۰) آثارو
څخه ددې لاندې د ۴۳ کتابونو يوازې نومونه
او بيا په دې نومونو کښې ترلسو يولسو پورې
اثار په لاس کښې لرو هغه نومونه او څه نور
معلوم شوي نومونه چې د ډاکټر مياسهيل انشاء
په زيار راجوت شوي دي هغه دا دي:)

۱ هجويريه در منقبتِ حضرت سيد علي هجويري رح
المعروف به داتا ګنج بخش لاهوري رح.

۲- ردِ نصارىٰ (فارسي)

۳- رسالهٔ صلوٰة العرب (عربي)

۴- تحفة البحري (فارسي) در علم ميراث.

۵- جذريه: افغاني منظومه يعني پښتو په
نظم کښې.

۶- شرح بديهات امرة القيس (عربي)

۷- شرح شلشلى اعشٰى اسدي جاهلي. (عربي،
فارسي)

۸- شرح الامية الغرب شنفرىٰ (عربي)

۹- شرح غرائبُ الامثال العرب (عربي)

۱۰- شرح قصيدهٔ مستجمه علام طنطراني (عربي)

۱۱- تلخيص العروض (عربي)

۱۲ وافيه؛ در صرف و نحو زبانِ افغاني
المعروف د پښتو ګرامر- اردو لوستونکو
اشاعت اول ۱۸۹۰ - دوم ۱۸۹۸ سوم ۱۹۰۸
دپاره په اردو کښې ليکلے شوے دے.

۱۳- قيصريه: (منظوم عربي)

۱۴ صاحبيه: (منظوم عربي)

۱۵- رسالهٔ ذات و شرافت

۱۶- تحفة الاولياء (فارسي)

۱۷ ثمرة العرب فى لسان الهند و لا عرب

۱۸ کتاب فارسى روزمره ايران

۱۹ ديوان اشعار عربيه و فارسيه و افغانيه

۲۰- تاريخ قديم افغان و افغانستان
المعروف به يادګار باستان. (فارسى)

۲۱ باكوره شبهيه مى تاريخ بنويه

۲۲ اثارِ قديمه

۲۳ تاریخ کافرستان

۲۴ تاریخ افریدي

۲۵ سفرنامه رضواني

۲۶ مجربات رضواني

۲۷ تحقیق الاسنه

۲۸ شکرستان افغاني

۲۹ بهارستان افغاني

۳۰ مخ البعوض في علم العروض

۳۱ متلونه

۳۲ اسلام کے بنیادی اصول (اردو)

۳۳ ترجمه معه تفسیر قران پاک موسوم به "لمع العرفان فی توضیح القرآن" (اردو)

۳۴ تاریخ پښتون

۳۵ تاریخ انبیا علیهم السلام

۳۶ فارسی گرامر جدید برائے مډل کلاسز

۳۷ عربي ریډر برائے فرسټ مډل کلاسز

۳۸ عربي ریډر برائے سیکنډ مډل کلاسز

۳۹ " " " تهرډ " "

۴۰ عربیک هائی سکول بُک برائے هائی کلاسز

۴۱ ایلیمنټري عربیک گرامر

۴۲ د فرقه واریت په ضد کتاب (اردو)

۴۳ " " " (پښتو)

۴۴ علم التعلیم رساله کښې ډېر بوزده کړې په باب زیاته حصه۔

۴۵- د مختلفو ژبو او شاردونه نورو ژبو کښې ژباړني

۴۶- تجوید القرآن سره د فارسي شرحې چې په خپله خوبصورته خطاطۍ باندې ئې د خپل لاسه دوولسو کالو په عمر کښې لیکلې دے۔

۴۷ مناقب خواجه صاحب اجمیريؒ

۴۸ مجربات رضواني برائے بیماران بذریعه ډاک

۴۹- خلاصة التسیر (فارسي) ۵۰- ترجمان فارس

د میراحمد شاه رضواني د ترلاسه شویو آثارو او افکارو له مطالعې څخه جوتېږي چې په عام دول د علم، تاریخ او ادب ستړې معلوماتي پانګې او په ځانګړي توګه زموږ د پښتني فرهنګ، ادب او تاریخ په باب د ارزښتناکو معلوماتو زېرمې دي۔ نوموړي تر اوسه پورې د لوړ او برې پښتونخوا په ادبي حلقو کښې د پیاوړي نثر لیکوالي، شاعر، مورخ، ژبپوهاند، دیني عالم، او نومیالي ادب پېژندونکي په توګه پېژندل کېدۀ، خو د وروستیو څېړنو په ترڅ کښې ددۀ د علم او فن یو بل اړخ هم راڅرګند شو۔ د دغو څېړنو په ترڅ کښې داسې اسناد ترلاسه شول چې رضواني ئې د ښکلو هنرونو د مینه وال او مستعد خطاط (کاتب) په توګه را وپېژندۀ۔

لومړنۍ سند چې په دې لړ کښې ترلاسه شوے دے د رضواني په خط تجوید هغه (۳۰) مخیزه رساله ده چې قلمي نسخه ئې د ډاکټر میا سهیل انشاء په ځانګړي کتابتون کښې خوندي ده د ه رولکوړئ دکتابونو لست کښې ۴۶ نمبر) دغه رساله شیخ احمد جزري په عربي ژبه لیکلې چې ترې لاندې پارسي ژباړه او حواشي هم

هم لري رضواني ددې رسالې په پایله کښې لیکي -

" تمت این رساله متبرکه شیخ احمد جزری
بروز اسعد سه شنبه شهر جمادی الثانی
سنه یک هزار دو صد و هشتاد نه هجری
بدست خط کمترین بندگان فقیر حقیر پر
تقصیر آحقر عباد حق سبحانه و تعالیٰ قاضي
میر احمد شاه مرقوم و مرسوم شد - امین
یا حضرت رب العالمین -

لکه چې له پورتني متن څخه ښکاري رضواني دغه رساله په (۱۲۸۹) هجري قمري کال خطاطي کړې ده. د رسالې عربي متن په ثلث او نسخ خط پارسي ژباړه یې په نستعلیق خط او شرحې حاشیې یې کله په نستعلیق او کله په شکست خط لیکلي دي.

ددې رسالې د خطاطۍ په وخت د رضواني عمر څه د پاسه دولسو کالو په شا وخوا کښې وُ، ځکه چې نوموړی د هجري قمري سنې په حساب په (۱۲۷۶ هـ ق) کال زېږېدلی او د رسالې د خطاطۍ کال ۱۲۸۹ هـ ق دی په دې رساله د یک د ځلور پنځو دولونو کارول مونږ ته د رضواني د ځپاند هنري استعداد ډېره ښه ښکارندوي کولی شي -

رضواني د خپلو استادانو په ډله کښې د ملا عبد الله د نوم یادونه کوي - په خپل مشهور اثر "تحفة الاولیاء" کښې نوموړی ملا د عصر د عالمانو او فاضلانو په ډله کښې یادوي، په شاګردۍ یې ویاړي او وائي چې ملا عبد الله مشهور خطاط او

(۱۳) ډوله خط لیکلی شي (۳۰)

د پورتني څرګندونې په رڼا کښې ویلی شو چې کېدی شي رضواني د خطاطۍ فن له همدغه مشهور خطاط ملا عبد الله څخه حاصل کړی وي -

دوهم سند چې مونږ ته رضواني د یو خطاط په توګه راپېژني هغه د رضواني "مخ البعوض في علم العروض" نومې عربي اثر دی او کوزۍ د کتابونو لست ۳۰ نمبر) د "الفیصل" نومې مجله کښې د دغه اثر د پېژندنې په لړ کښې لیکل شوي دي چې دا اثر په عربي ژبه لیکل شوی، تولې شل پاڼې لري - د عربي ژبې د عروض په حقله دي، په ۱۳۰۵ هـ ق کال لیکل شوی، مؤلف او خطاط (کاتب) یې میر احمد شاه رضواني دی قلمي نسخه یې د واشنګټن پبلک (عامه) کتابتون کښې خوندي ده چې له درې چاپي رسالو سره په یوه ټوټي کښې ګنډل شوې ده (۳۱)

د رضواني دغه اثر تر اوسه نه دی چاپ شوی او نه یې د کومې بلې قلمي نسخې څرک لګېږي. د کانګرس د کتابتون نسخه یوازنۍ نسخه ده چې د "الفیصل" مجله یې له ځینو ځانګړونو څخه مونږ ته راپېژني - دا چې ددغې نسخې لیدنه زما له پاره میسره نه ده، نو ځکه یې د یک د څرنګوالي په حقله هم څه نه شم ویلی - یوازې او یوازې د رضواني د خطاطۍ د فن د تائید او تصدیق د یو سند په توګه یې یادونه کوم -

پورتني دواړه سندونه ښکاره وي چې رضواني
دعلومو او فنونو په بېلا بېلو څانګو کښې د پیاوړي
استعداد ترڅنګ د خطاطۍ ښکلې هنر هم زده
کړې وُ - کېدے شي ورو ستیو علمي او تعلیمي
مصروفیتونو ددې فن پالنې او ودې ته نسهٔ
وي پرېښې او یا ئې دا فن ترپایه پالنے وي.
او خپل زیات آثار ئې په خپل خط لیکلي دي - دا
موضوع هله روښانه کېدے شي چې مونږ ته د لیکوال
هغه آثار هم چې اوس ئې مونږ د ډېرو کمو نوموړو
سره اشنائیو، ترلاسه شي -

که د رضواني په خط کښلي نور آثار ترلاسه
شي بیا نو کولے شو چې د نوموړي د خطاطۍ د فن ارتقائي
سیر معلوم کړو -

(د رضواني صاحب د خطاطۍ د رسالې اخري دوه صفحې وګورئ)

## ماخذونه


۱- هاشمي، سید محی الدین، د لیکوالۍ فن، پېښور دانش کتابخانه، ۱۹۹۴ء کال، ۱۴۸ مخ

۲- پښتو، پښتو تشریحي قاموس، دوهم جلد، ۱۸۰۶ مخ

۳- فیروز رفاهي، تاریخ خط های جهان، (ژباړه) تهران، ۱۳۶۸ هـ ش، ۳۲ مخ -

۴ حبیب الله، فضائیلي، تعلیم خط، دریم چاپ، تهران، ۱۳۶۳ هـ ش کال، ۳۶ مخ

۵ خټک خوشحال خان، دستارنامه، پښتو اکېډمي پېښور یونیورسټي ۱۹۹۱ع کال، ۳۵ مخ،


۶- تعلیم خط، ۳۲ مخ -

۷- پښتو - پښتو تشریحي قاموس، دوهم جلد، ۱۸۰۷ مخ

۸- تعلیم خط، ۵۵ مخ -

۹- حبیبي، عبدالحی (پوهاند) تاریخ خط و نوشته های کهن افغانستان، انجمن تاریخ، کابل، ۱۳۵۰ هـ ش کال، ۸۳ مخ -

۱۰ تعلیم خط، ۵۷-۹۷ مخونه

۱۱ ګنجینه خطوط در افغانستان، مقدمه "ج - د" مخونه

۱۲- تعلیم خط، ۲۸۷ مخ -

۱۳ پښتو - پښتو تشریحي قاموس، څلورم ټوک، کابل، د افغانستان د علومو اکېډمي، ۱۳۶۵ هـ ش کال، (۳۴۳۷ مخ)

۱۴ تعلیم خط، ۲۷۹ مخ

۱۵ تعلیم خط، ۲۹۱ مخ

۱۶ ګنجینه خطوط در افغانستان، "ه" مخ

۱۷ تعلیم خط، ۲۹۲ - ۲۹۵ مخونه -

۱۸ ګنجینه خطوط در افغانستان، "ه" مخ

۱۹ تعلیم خط، ۲۹۵ مخ -

۲۰ تعلیم خط، ۳۰۱ مخ

۲۱ ګنجینه خطوط در افغانستان، "و" مخ.

۲۲ پښتو - پښتو تشریحي قاموس، څلورم ټوک - (۲۹۱۵) مخ.

۲۳ تعلیم خط، ۳۱۱ مخ -

Scanned with CamScanner

۲۴- ډاکټر میا سهیل انشاء (شمس العلماء میر احمد شاه رضواني) پښتو مجله، پښتو اکېډیمي پېښور یونیورسټي، ستمبر کنه، ۱۹۹۵ع کال، ۱۲ مخ.

او تقویم تاریخي مرتبه عبد القدوس هاشمي اشاعت دوم ۱۴۰۷ھ / ۱۹۸۷ء

۲۵- صابر محمد شفیع، شخصیات سرحد، یونیورسټي بک ایجنسي پېښور، ۸۹۵ مخ.

۲۶- هاشمي، سید محی الدین، د پښتو ادبیاتو تاریخ معاصره دوره، د دعوت او جهاد پوهنتون د پښتو ادبیاتو څانګې لیکچر نوټ.

۲۷- محمد نواز طائر، روهي ادب، پښتو اکېډیمي پېښور یونیورسټي، ۱۹۸۶ع کال، ۵۵۴ مخ

۲۸- رښتین صدیق الله (پوهاند) د پښتو نثر هنداره، یونیورسټي بک ایجنسي پېښور، ۳۳۶ مخ

۲۹- پښتو مجله، د ډاکټر میا سهیل انشاء مقاله، ۱۹۹۵ کال ستمبر کنه ۱۶ مخ

۳۰- رضواني میر احمد شاه، تحفة الاولیاء مطبوعه مفید عام پریس لاهور، ۱۳۲۱ هجري قمري کال ۷۳ مخ

۳۱- الفیصل مجله، ۱۴۱۳ کنه ه ق (۱۹۹۲ع) کال، ۲۴ مخ.


# اعلان

ستا د کوتو بخښې دي مکمل دي که صنم اشنا
څوک که دې مني او که نه زه خو دې منم اشنا

د میاشتنۍ پښتو مجلې راتلونکې خصوصي نمبر به "غني نمبر" وي۔ ټولو لیکوالو ته خواست دے۔ چې د غني خان په فن او شخصیت دې خپل معیاري لیکونه او نظمونه د پښتو اکېډیمۍ د ډائرېکټر په نوم را ولېږي۔ لیک دې د کاغذ په یو مخ صفا او کښلے شوے په نوې املا کښې ډیکلے شي

# سرحدي صوبه

دا تحریر د اروا بناد رضواني صاحب د کشر زوي میرا عظم شاه بېدل دے. د تحریر کاغذونه ډېر بوسیده دي او ځاے په ځاے د شوکیدو له وجې عبارت ئې نیمګړے شوے دے. د خوشحالي خبره دا ده چې د میر اعظم شاه زوے میر خادم شاه د دې یو نقل اخستے ؤ. بیا هم دوه درې ځایونو کښې هغه ونه لوستے شو. خادم صاحب د تحریر نه علاوه د اقبال ریویو ۱۹۷۷ء صفحه ۲۷۶ مطابق د رضواني او اقبال د ملاقاتونو ذکر هم کړے دے او د رضواني په نوم د سر صاحبزاده عبدالقیوم د یو خط ذکر ئې هم کړے دے. خو زما کار د اصلي عبارت ترجمې سره دے په دې وجه نورې خبرې مې په ځاے پرېښودې. دا تحریر په اردو کښې دے. ژباړن

شمس العلماء ابوالصفاء سید مولوي قاضي میر احمد شاه رضواني اکبرپورے پېښورے هیډ مولوي ګورنمنټ سنټرل ماډل سکول لاهور پنجاب.

(ولادت: ۱۱ اپریل ۱۸۶۰ء)

د پېښور د علاقې شاهي سندیافته د قاضیانو[1] د مشهور او معروف خاندان نځخه دے. د دوئ مشران د احمد شاه ابدالي دُرِّ دران د وخت نه تر اوسه نسل په نسل د بادشاهانو له طرفه د مسلمانانو دیني حاکمان او د افغانانو پېشوا او راوان دي. د دوئ د مشرانو وطن ترکستان ؤ. د دوئ په ابا و اجداد کښې حافظ میر عبدالرحمٰن بخاريؒ د نادرشاه افشار په وخت کښې پېښور ته راغلو. د دهٔ زوے قاضي حافظ میر عبدالله څوک چې د دهٔ غوره نیکهٔ ؤ او د احمدشاه بابا له طرفه قاضي وګمارلے شو.

---

[1] دا سند ونه اوس هم د دې خاندان د یو غړي او د رضواني کړوسي میرا صغر شاه په تحویل کښې دي.

میراعظم شاه بېدل

# سرحدي صوبه

دا تحریر د اروا ښاد رضواني صاحب د کشر زوي میراعظم شاه بېدل دے ۔ د تحریر کاغذ ونه ډېر بوسیده دي او ځاے په ځاے د شوکېدو له وجې عبارت ئې نیمګړے شوے دے ۔ د خوشحالۍ خبره دا ده چې د میراعظم شاه زوے میرخادم شاه دې یو نقل اخستے وُ ۔ بیا هم دوه درې ځایونو کښې هغهٔ ونهٔ لوستے شو ۔ خادم صاحب د تحریر نه علاوه د اقبال ریویو ۱۹۷۷ء صفحه ۲۷۶ مطابق د رضواني او اقبال د ملاقاتونو ذکر هم کړے دے او د رضواني په نوم د سرصاحبزاده عبدالقیوم د یو خط ذکرئې هم کړے دے ۔ خوزما کار د اصلي عبارت ترجمې سره دے په دې وجه نورې خبرې مې په ځاے پرېښودې ۔ دا تحریر په اردو کښې دے ژباړن

شمس العلماء ابوالصفاء سید مولوي قاضي میر احمدشاه رضواني اکبرپورے پېښورے هېډ مولوي ګورنمنټ سنټرل ماډل سکول لاهور پنجاب ۔

(ولادت : ۱۱ اپرېل ۱۸۶۰ء)

د پېښور د علاقې شاهي سند یافته[1] د قاضیانو د مشهور او معروف خاندان څخه دے ۔ د دوئ مشران د احمدشاه ابدالي دُرّ دران د وخت نه تر اوسه نسل په نسل د بادشاهانو له طرفه د مسلمانانو دیني حاکمان او د افغانانو پېشوا دا روان دي ۔ دَ دوئ د مشرانو وطن ترکستان وُ ۔ د دوئ په ابا وُ اجداد کښې حافظ میر عبدالرحمٰن بخاريؒ د نادرشاه افشار په وخت کښې پېښور ته راغلو ۔ د دهٔ زوے قاضي حافظ میر عبدالله څوک چې د دهٔ غورنیکهٔ وُ او د احمدشاه بابا له طرفه قاضي وګمارلے شو ۔

[1] دا سند ونه اوس هم د دې خاندان دیوغږي او د رضواني کړوسي میراصغر شاه په تحویل کښې دي ۔

دے د بادشاه ـ پیرومرشد د ټولو حضرت میاں عمر صاحب پیر وروړ او سبتي وُ ـ دې نه پس بیا دده (یعني د میر عبدالله) زوے قاضي حافظ میر غلام محي الدین د تیمور شاه ابدالي او شاه زمان له طرفه قاضي وټاکلے شو ـ بیا دده (رضواني) پلار قاضي میر رضا حیدر د مخدوم الوقت او شیخ الوقت سید و بابا عبدالغفور چې په سوات صاحب باندې شهرت لري، خلیفه او ماذون وُ ـ کوم ته چې د مهاراجه پنجاب وانسرا ے جنرل ابوطویله صاحب بهادر فرانسیسي له طرفه دَ قضا منصب ورکړے شو ـ دده تره میر صاحب شاه په علاقه پچ، میر عین الدین او میر غیاث الدین په قشقار او بدخشان او میر بادشاه په بلخ او کابل کښې مېشته شول ـ او دده ماما قاضي فضل قادر، سره د ټول کور او ماشومانو د نور یا نو په ملک کښې آباد شو ـ او اولس ته ترې قسما قسم علمي او عملي فائدې حاصلې شوې ـ دده سلسلهٔ نسب د والد صاحب له طرفه تر سید جلال بخاري او د مورنۍ بي له طرفه د اخونزاده مفتي محمد اکرم علوي هراتي او سید علي او شیر علي په ذریعه سید بو علي ترمذي المعروف پیر بابا صاحب بونیر سره یو کیږي ـ

دده خپل ابتدائي تعلیم په کور کښې د خپل والد صاحب میر صاحب زاده او نورو استاذانو چې په کښې اخوند عبدالله حطاط قندهاري، مُلا محمد نفري، ملا محمد عفران پاسني او ملا کندل اخونزاده شامل دي ـ دې نه پس متواتر شل کاله د علوم و فنون د حصول د پاره ئې په لرې لرې ملکونو کښې ئې مسافري اختیار کړه ـ د باختریه، خراسان، افغانستان، پنجاب او هندوستان وغیره د مشهورو او مستند و استاذانو نه ئې استفاده وکړه ـ مُلا محمد عاصم لالوي، مُلا ایوب شاه، مُلا مرغزي، میرزا یوسف، ملا نصیر احمد، مفتي عزیز الدین مفتي حمید ګل، حاجي برهان الدین افغاني ـ مُلا نجم الدین بدخشي، مُلا دوست محمد کابلي، بهاؤالدین اخونزاده غورغشتي، مُلا شریف ساماني، میرزا اختر خراساني، دُرِّ ملا حمید الدین بخاري، میرزا علي طهراني، شیخ محمد صالح یماني، محمد یوسف کروي ـ قاضي غلام حسین دهنوي، مولوي غلام قادر صاحب بهیروي، د زماني ادیب او د هر فن اُستاذ مولانا مولوي فیض الحسن سهارنپوري ـ د مولوي فضل حق خیر آبادي شاګرد) او تبرکاً شیخ العصر، مخدوم الزمان شیخ عبدالغفور مشهور په اخوند صاحب سوات رحمة الله علیه دده قابل ذکر استاذان دي ـ

در خدمتِ اهل دل رسیدم بسے
دریوزه کنان ز هر کسے یک نفسے

دے په وړوکي عمر کښې لوئیو لوئیو طالب علمانو سره هم سبق پاتې شوے دے ـ مثلاً ملا شهنواز لعماني او مُلا نجم الدین اخونزاده کابلي مشهور په هدې مُلا صاحب دده سبقیان وو ـ

ه سا و مجنون هم سبق بودیم در دیوان عشق
او به صحرا رفت و ما در کوچه ها رسوا شدیم

د سفر په دې دوران کښې دهٔ د پنجاب پوهنتون فارسۍ او عربۍ کښې د عالم او فاضل امتحانونه په اعلیٰ درجه کښې پاس کړل او په هر مضمون کښې به اول وُ ۔ تقریباً درې کاله نارمل سکول امرتسر کښې د عربۍ او فارسۍ اُستاذ پاتې وُ ۔ دې نه پس څو کاله د هندوستان په طول و عرض کښې په استاذانه لباس کښې پولټیکل افسرانو سره په سیاحت کښې به تل ملګرے وُ او ددې ملګرتیا په وجه دهٔ ته د راجپوتانه سنټرل انډیا ریاست میسور، چیف کمشنر کورګ ، علاقه، مدراس، بمبئ ، کلکته، بنارس، کشمیر علاقه هائے کوهستانِ شمالي او دَ بلوچستان په حدودو کښې د رسیدو اتفاق وشو۔ د غه وخت د ښکار د مشغولا نه علاوه دهٔ د زړو زړو کتب خانونه د بې شمیره قلمي نسخو او د هر علم د نادر او کمیابه کتابونو په اسانه د ترلاسه کولو او ددې د وسیعې مطالعې عملي موقع بیا موندهٔ په دې توګه دهٔ ته د ډېرو سیاحیه او سناسیه نسخو او قسما قسم جړو بوټو د خواصو د تجربو او دَ فلزاتو بې شماره او سریع الاثر کشته جاتو ذخیره په لاس راغله کوم چې اکثرو مایوسه کونکو مرضونو د پاره مؤثر وو او لرغوني عجیب و غریب سکې دَ کوم په لوستو کښې چې دهٔ ته خاص مهارت حاصل وُ جمع یې کړې ۔

په ۱۱ ر نومبر ۱۸۸۸ کښې دهٔ د سرکاري تعلیم په ډائرېکټوریټ پنجاب کښې ملازمت اختیار کړو او په مدرسته المعلمین راولپنډۍ د فارسۍ اُستاد وټاکلے شو ۔ ۲۶ ر جون ۱۸۹۶ء کښې سنټرل ماډل سکول لاهور کښې د مشر مولوي په توګه دلته راغلو او هِز آنروې لفټیننټ ګورنر له طرفه د پنجاب ټیکسټ بک کمیټۍ ممبر هم وټاکلے شو ۔ دے څهٔ موده په سنټرل ټرېننګ کالج لاهور کښې د علوم شرقیه پروفیسر هم پاتې شو د پنجاب یونیورسټۍ د عربۍ او فارسۍ او پښتو دَ اعلیٰ امتحانونو همېشه ممتحن وُ ۔ د علوم قدیم او علوم مروجه د طالب علمانو نه علاوه د ډېرو مشهورو او نامي ګرامي یورپي افسرانو مثلاً د اکټر لټنر (Dr. Ieitner) مسټر سي جے راجرز (C.J. Rodgers) ، مسټر ایل ډبلیو کنګ کمشنر وغیره دهٔ شاګردان وو چا چې دے په خپلو سرټیفیکیټونو کښې د علوم شرقیه د میدان شهسوار او د ممالک ایشیاء د علماؤ یوه ښهٔ نمونه ګرځولې وه۔

په دیني معاملاتو کښې اکثر د مباحثو او مناظرو په موقعه اجلهٔ علمائے وقت مثلاً سید احمد فیضي ، مُلا محمد مرصاد قادري بنګلوري ، مُلا عبدالله اکبر آبادي ، خان ملائے غزنوي ، مولوي محمد عارف ولایتي میرزا پوري ، مولوي علي اصغر اجمیري ، قاضي فضل الدین کشمیري ، مُلا عبد الوهاب د مانکي شریف خلیفه ګانو وغیره د ډېر په منصفانه توګه باندې دهٔ د صاحب الرایت اعتراف کړے دے ۔ دَ

Scanned with CamScanner

استاذانو استاد ملا نصیر احمد صاحب د قصه خوانئ
د تحقیق مسئله طلاق په باب دهٔ سره یو طولاني
بحث و مباحثې تصفح کتب جدیده په دنیا کښې
دهٔ په فتوئ باندې دستخط وکړو او د علماء په
یوه لویه اجتماع کښې چې دوئ ته د خطاب په
دوران کښې دا شعر ووئیلو .

کتابهائے جهان را ورق ورق کردم
خط تو دیدیم و گفتم که مدعا این جاست

نوموړو سخنو دانو او وخت استاذانو
په دهٔ د اشعارو ډیر قدر کولو . مثلاً میرزا
صفائي شیرازي دهٔ په تعریف کښې ډیرې
قصیدې وئیلي دي . استاذِ خراسان ملا پریشان
دهٔ د اشعارو ته ډیر خوند اخستو او وې وئیل

"بخدا اگر رضواني در این عصر ے
بود من به این پیری به دیدنش
ے رفتم"

"په خدائے که رضواني په دې
عصر کښې وے زهٔ به په دې پیرۍ
کښې دهغهٔ دکتو دپاره تلے وم"

هر کله چې دے سردار محمد ایوب خان سره
ملاقات دپاره راولپنډۍ ته راغلو نو هغهٔ
ته معلومه شوه چې دے راغلے دے نو هغه پچپله
وزیر شاه محمد خان کابلي سره دهٔ د لیدو دپاره
راولپنډۍ ته راغلو . ډیر په شوق او ذوق ئې
ورسره ملاقات وکړو او دا شعر ئې ووئیلو .

ببین که با همه این پیري و پریشاني
دلم کشید به سیر ریاض رضواني

یو ځل دے خپل والد صاحب محترم سره د اخون
صاحب سوات زیارت دپاره سیدو شریف ته
لاړو چرته به چې دلوې او نږدې د درې څلور
سوه علمائے کرام موجود وو .

دغه وخت د شیخ عبد الله فتان د مطرود او مردود
کیدلو په باب د اخون صاحب د طرفه د سلطانِ روم
د فرمان دځواب لیکلو دپاره چې د چا انتخاب شوے
وُ هغه هم دا سرے (رضواني) وُ . دهٔ د تقریر او
تحریر نه صاحب موصوف او ټول حاضرین چې
قاضي صاحب ایلي او قاضي صاحب دکړوړ په
کښې هم شامل وُ ډیر محظوظ شول .

۱۹۰۱ء کښې سید عبد الرزاق بغدادي کوم
چې یو ادیب او د دار العلوم قاهره (مصر) محصل
وُ او چا چې په انجمن اسلامیه کښې ځیل مضمون
اورولے وُ او چا چې د سید جمال الدین سلیماني
ایډیټر قسطنطنیه د عربئ ژبې "تاریخ افغانان"
نومې کتاب دهٔ دپاره بطور پیشکش راوړے وُ چې
دهٔ د عربئ قصیده "في بني افغانان" ئې واوریده
نو ډیر خوشحاله شو . او وې وئیل .

والله هذا لقول الحماسي یعني په خدائے
چې دا د دیوانِ حماسه د اشعارو په شان دي .

Scanned with CamScanner

د امیر عبد الرحمٰن والئ کابل د ضیاء الملة والدین د خطاب حاصلولو اود ملکه وکټوریه قیصرهٔ هند د مړینه په تعریف باندې چې دهٔ کوم فارسي نظمونه . . . . . . . . . . ۱

بیا هم د مهربان حکومت ډېر حق شناس او وفادار جان نثار ګڼلے کېدو۔ د دهٔ په تعریف کښې د سرحد یو تجربه کار افسر مسټر کنګ بها درسی ایس آئی تصدیقاً لیکي۔

He is also thoroughly and has alone much to foster a loyal spirit among his Coreligionists

دے پوره وفادار دے او د خپلو هم مذهبو په منځ کښې ئې وفادارانه جذبې روزولو د پاره ډېر څهٔ کړي دي۔

په عربۍ فارسۍ او پښتو کښې دهٔ ډېر مفید او قابل قدر کتابونه ولیکل کومونه چې خاص و عام ته هر قسمه فائدې حاصلې شوې۔ د دهٔ پښتو ګرامر د سرحد ملازمانو سول او ملټري افسرانو د پاره ډېر ګټور ثابت شو۔ حل جذري جامع میراث، شرح عرائب الامثال العربیه، شرح لقبس طنطراني، تلخیص العروض، شرح بدیهات امرأة، شرح شنفرۍ، شرح شلشلیه اغشی اسدي جاهلي، ثمرات العراب فی لسان الهند والاعراب، تاریخ افغان یا کوره شبیهه فی تاریخ بنو امیه تاریخ کافرستان، اثار قدیمه، تاریخ افریدي، سفرنامه رضواني، مجربات رضواني، تحقیق الاسنه، دیوان اشعار عربیه و فارسیه و افغانیه وغیره څو کتابونه د دهٔ یادګار دي۔ د دهٔ د خپلو طبي تجربو او سریع الاثر نسخو او دوایانو په ذریعه اولس ته ډېره ښېګړه رسولې ده۔

صوبه سرحد کښې د خون ناحق په بیولو او بې ځایه قتلِ عام د مخ نیوي اود هغې مذهباً حرام ثابتولو په غرض دهٔ په فارسۍ او پښتو کښې فتوې ولیکلې چې ډېر ښهٔ اثر ئې وشو۔

الغرض قاضي د خپل وسیع معلوماتو، ذاتي امتیازاتو، خانداني شرافت، ښېځلي خیالاتو او استرضائے خاص وعام او د ګڼو قابل قدر خدماتو په وجه د ډېرې مودې نه د یو خاص اعزاز مستحق وُ۔ د کوم په صلا کښې چې مسټر ډبلیو بل (Bell) په شان لائق ډائرېکټر، حضور میجر ایچ ډین صاحب بهادر په شان قابل قدر کمشنر د صوبه سرحد او حضور لارډ کرزن (Curyon) په شان قدر شناس وائسرائے او ګورنر جنرل په ډاګه کښې په ۹ نومبر ۱۹۰۱ء د اعلیٰ حضرت ملک المعظم ایډورډ اووم قیصر هند دهٔ ته د یو خاو ښبت کالو په عمر کښې د شمس العلماء خطاب عطا کړو

منت افزوه ازین لطفِ شهنشاه ذبان + بردل هندی و سندی و بلوچ و افغان۲

زیاره: ډاکټر میا سهیل انشاء

---

۱ عبارت د منځه ختم شوے دے ۲ اصل دا سې ده

آن کرد اراه وفادارے اوجان دادن
هندی و سندی وکرماچ و بلوچ و افغان

Scanned with CamScanner

ډاکټر محمد صدیق ازهري

# دَ قاضي میر احمد شاه رضواني

## علمي او ادبي تحقیق تشریح او تصنیف

پهٔ دنیا کښې دوه قسمه عالمان وي ـ وړومبني هغه چې پهٔ یو څو علمونو کښې مهارت لري ـ دویم هغه چې پهٔ مروّجه ټولو علمونو کښې قابلیت لري ـ دَ وړومبني قسمه دَ قابلیت او مهارت معلومولو دپاره دځو تصانیفو مطالعه کافي کېدلے شي ـ او د دویم قسمه عالم مکمل نقشه او شکل وصورت معلومولو دَپاره دَهغهٔ دَ ټولو تصنیفاتو مطالعه پهٔ غور او فکر سره ضروري ده ـ خصوصاً قاضي میر احمد شاه رضواني صیب چې جامع المعقول والمنقول دے ـ دَ عقلي علومو منطق، فلسفه، صرف، نحو، اشتقاق لغت، بیان، معاني، بلاغت، ادب او نقد او شرعي علومو، قرآن، علوم قرآن، تفسیر اصول تفسیر، حدیث، اصول حدیث، فقه اصول فقه، کلام او صفات ماهر دے ـ نو دداسې عالم او ادیب بنه صورت او واضحه نقشې وړاندې کولو دپاره دَ هغهٔ دَ ټول تخلیق پهٔ تنقیدي عمیق نظر سره جاج اخستل ضروري دي.

او زما پهٔ وړاندې دَ قاضي صیب یوه مختصره رساله پهٔ علم عروض کښې او تشریح دَ دوو قصیدو د مجموعې او دهغه یوه قصیده پهٔ عربۍ کښې دَ افغان قوم پهٔ هکله او دَ هغهٔ دَ دیوان دوه قصیدې په فارسۍ کښې دَ کشمیر متعلق دي ـ چې پهٔ حقیقت کښې دا ټول تخلیق دیو فن سره تعلق لري. چې د قاضي صیب دَ ټولو تصانیفو پهٔ مقابله کښې دیو قطرې او څاڅکي نه زیات نهٔ دے ـ ددې وجې نه د قاضي صیب مکمل علمي مرتبت او قد و قامت بیانول ډېر مشکل کار دے ـ لیکن که چرې پوره واضحه نقشه رابښکلے نهٔ شم ـ نو بالکل پړېښو دے ئې هم نشم ـ

قاضي صیب د شرعي او عقلي دواړو علومو ماهر وو ـ لیکن ادبي رنګ او فن پهٔ تخلیق غالب وو ـ د قاضي صیب طبعي او فطري رجحان اختصار نهٔ وو ـ بلکې سمندر پهٔ کوزه کښې بند وي ـ

قاضي صيب د ډېرو ژبو ماهر معلومېږي. لېکن عربيّت پرې غالب وو. قاضي صيب يو مکمل پښتون وو. دَ پښتون تمام سره ډېره مينه لرې. قاضي صيب يو کامل انسان و دَ کشمير متعلق قصيده ئې د انسانيت يو لوړ دليل دے قاضي صيب دَ عامو مُلايانو په شان دَ خلقو نه کناره کش نهٔ و. بلکې د هر قسمه خلقو سره د هغهٔ ناسته پاسته او روزګار وُ. دغه وجه ده چې قاضي صيب په سکول کښې هيڅ وُ. قاضي صيب وسيع النظر، ترقي پسند، حقيقت شناس او خود اعتماده عالم وُ. پهٔ خپل علمي تحقيق دَ هغهٔ دومره اعتماد وُ. چې طالب علمانو ته دَ خپل تصانيفو دَ مطالعه کولو وصيت کوي. او د نورو خلقو دَ تاليفاتو نه ئې منعې کوي. بلکې خپل علمي تحقيق د احفش او خليل دَ تحقيق نه اوچت ګڼې حالانکې دا دواړه ددے فن امامان تېر شوي دي. قاضي صيب دَ ادبي ذوق په ميدان کښې يو لوړ مقام لرې. د تشريح او وضاحت دپاره چې کومې قصيدې هغهٔ منتخب کړې دي. دا د هغهٔ پهٔ ذوق سليم او حسن انتخاب باندې دلالت کوي. د قاضي صيب شاعري جذباتي نهٔ وه. بلکې عملي وه. ان ترڅو چې جذباتي معانيو ته ئې هم عملي رنګ ورکړے دے. د قاضي صيب شاعري فطري او طبعي ده. تصنّع او تکلّف ورکښې نشته. دغه وجه ده چې دَ يو قصيدې پهٔ ځينو ابياتو کښې تعبيرات الفاظ او لغات ډېر مشکل او ګران دي. او پهٔ ځيني کښې ډېر زيات سهل او اسان دي. قاضي صيب پهٔ فن کښې واقعي دے. ددهٔ اشارات، تشبيهات او کنايات عالم وجود سره تعلق لري. خيالي پلاوُ نهٔ پخوي. د موسيقۍ پهٔ ميدان کښې د قاضي صيب دَ منتخب الفاظو هغه بهترين غږ او آوازته دَ غوږونو پردې څيله پرا لستے شي. او نېغ پهٔ زړهٔ اثر کوي. د قاضي صيب فن دَ فن دپاره نهٔ و بلکې د جامعې او معاشرې دپاره وُ.

## دَ قاضي صيب تخليق

قاضي صيب دَ جاهليت دَ وخت دوه دَ قصيدو مجموعې د تشريح دپاره منتخب کړې دي. اول "قصيدهٔ شلشليه"[٢٥] ددې دَ پنځويشتم بيت نه دغه نامه اخستې شوې ده. دا قصيده د اغشٰى ده. چې دَ اسلام نه مخکښې د جاهليت پهٔ دور کښې تېر شوے دے. دَ قصيدې پهٔ اول کښې قاضي صيب دَ شاعر پهٔ اجمالي حالات باندې رڼا اچولې ده. دا مجموعه شلور شپېتهٔ[٦٤] بيته ده. دويمه قصيده (مجموعه) دَ الشنفرىٰ ده. چې په لاميته العرب مشهوره ده. دا شاعر هم جاهلي دے. يعني د اسلام نه مخکښې تېر شوے دے. دَ قصيدې

پهٔ آخر کښې قاضي صيب د شاعرئ ډېره مختصره
ترجمه کړې ده۔ دا قصيده پهٔ اتهٔ شپېتهٔ (٦٨)
بيتونو مشتمله ده۔

## دَ تشريح طريقه

دَ هر بيت د هر لفظ
مکمل وضاحت سره
تشريح شوې دهٔ ۔ او دَ کوم لفظ پهٔ معنیٰ
کښې چې اختلاف يا دَ يو نه ډېر اقوال دي
نو پهٔ دې کښې دَ يوې معنې دَ ترجيح دپاره
ديو ماهر، قابل او مشهور کس لغوي قول
نقل کوي. دغه رنګ کهٔ يو لفظ دَ قرآن پاک پهٔ
آيت کښې راغلے وي. نو دَ هغې ذکر کوي او کهٔ
پهٔ حديث کښې وي نو بيا دَ هغې ذکر کوي۔
او کهٔ چرې دَ نورو شاعرانو پهٔ کلام کښې
راغلے وي نو بيا د هغوي دَ هغې شعر ذکر
کوي. دَ هر لفظ اعراب او محل وقوع پهٔ
جمله کښې دَ علم نحو پهٔ طريقې سره ښائي۔
بيا دَ هرې جملې د بلې جملې سره دَ تعلق
وضاحت کوي. او کهٔ چرې يوه جمله دعربو
پهٔ محاوراتو کښې راغلې وي. نو د هغې محاورې
ذکر کوي. پهٔ آخره کښې د هر بيت با محاوره
ترجمه او دَ بيت مقصد واضحه کوي. البته
پهٔ فارسي کښې د هر بيت صرف با محاوره ترجمه
کوي. پهٔ فارسي کښې نور مزيد تشريح
نشته.

دې ټول بحث نه دا معلومه شوه چې
قاضي صيب د قصيدو پهٔ تشريح کښې ډېر
لوئې محنت نه کار اخستے دے۔ او پهٔ دې کښې
ئې د ډېر مهارت او قابليت اظهار کړے دے۔
دا پهٔ صرف، نحو، لغت، بلاغت، پهٔ عربي
اشعارو عبور، دَ محاوراتو مکمل علم او پهٔ
قرآن و حديث کښې لوئې مهارت باندې دده
دَ قابليت عکاسي کوي. او دده پهٔ علومو باندې
رڼا اچوي۔ قاضي صيب د خپلې زمانې موافق دَ
قصيدو تشريح او وضاحت کړے دے. اګر چې
د موجوده زمانې ادباء او ناقدين د دې تشريح
نه مطمئن نهٔ دي. او پهٔ ښهٔ نظر ورته نهٔ
ګوري۔

## د موجوده زمانې طرز عمل

انسان دَ دوؤ
بنيادي عناصرو
نه جوړ شوے دے۔ (۱) روح (۲) ماده۔
روح کوشش کوي چې انسان کښې ملکي صفات
پيدا شي او بالآخر فرښته ترې جوړه شي۔
ماده کوشش کوي چې انسان کښې شيطاني صفات
پيدا شي او بالآخر شيطان ترينه جوړ شي۔
د دواړو د اختلاف او تضاد پهٔ وجې سره
انسان د مختلفو صفاتو مالک دے۔ چې پهٔ
حقيقت کښې دا صفات د انسان د پټو اخلاقو
ظاهري شکل او صورت دے۔ د انسان هر
بنيادي رکن پهٔ خپل مقصد کښې دَ کاميابولو
دپاره ماحول او ګير چاپېره حالاتو نه اثر

اخلي ـ که خوا و شا کښې روحانیت غالب وي.
نو د انسان روح د ترقۍ په لار کښې د
فرښتې مقام ته نزدې کېږي. او که مادیت
غالب وي ـ نو انسان په مادیت کښې ترقي کوي
آن تر دې چې د شیطان مقام او درجې ته
اورسي ـ دې ته نبي کریم صلعم په یو حدیث
کښې اشاره هم کړې ده ـ " کُلُّ مَوْلُوْدٍ
یُوْلَدُ عَلَی الْفِطْرَةِ فَاَبَوَاهُ یُهَوِّدَانِهٖ
اَوْ یُنَصِّرَانِهٖ " هر بچه په خپل فطري
طبعي دین (اسلام) کښې پیدا کېږي (چې
لوے شي) نو مور او پلار ئې په خپل ادین
روانوي ـ که یهودیان وي نو یهودي ترینه
جوړ کړي او که نصرانیان وي نو نصراني
ترینه جوړ کړي یعني د ماحول نه اثر قبول
کړي ـ چې څه رنګې ماحول او ګېرچاپېره
حالت وي په هغې رنګ کښې رنګ شي ـ

دا ګېرچاپېره حالات دده په وینه او
رګونو کښې داسې سرایت اوکړي ـ چې بعض
اوقاتو کښې خپل شخصیت ترینه ورک شي
او د ماحول یو شکل، عکس او صورت ترېنه
جوړ شي ـ دغه رنګ حالت د یو فنان او
شاعر هم دے ـ دې که د خپل شخصیت په
ظاهر ولو کښې ډېر کوشش اوکړي او یا که
بالعکس د خپل ځان او د ماحول او د خلقو
په مینځ کښې ډېرې پردې او ړانې کړي خو
پټېدې نه شي ـ بلکې خواه مخواه په څرګندېږي ـ

فن او ادبي تخلیق همېشه د یاره یوه
صافه، پاکه او سوتره شیشه ده ـ چې په
هغې کښې د معاشرې مکمل صورت او عکس
لیدلے شي ـ معاني، الفاظ، تعبیرونه، تشبیهات
او کنایات د ادا طریقه او طرز دا ټول د معاشرې
په ډول دي ـ د فن او ادب هېڅ شے د معاشرې
نه خلاف نه وي ـ دې کښې شک نشته چې
ځینې ځینې شعراء کله کله د خپل خاص شخصیت
اظهار په فن کښې کوي ـ لیکن ډېر زر اجتماعي
شخصیت پرې غلبه کوي ـ بلکې فن د معاشرې
یو زنده شخص وي ـ چې ګرځي راګرځي، کښېني
پاڅي، خوري څښېکي، خبرې اترې کوي او
لین دین او روزګار کوي ـ په دې اعتبار سره
هر کله چې یو ادیب قصیدې ته وړاندې کېږي
نو پکار دا ده چې ناقدانه او عمیق نظر سره
ورته اوګوري ـ چې قصیده د خپلې زمانې حالات
څومره حده پورې پېش کوي ـ په قصیده
کښې د زمانې خیال، تصویر او رنګ شته او که
نه؟ د شاعر الفاظ، معاني د ادا طریقه او
لاره څه ده؟ شاعر چې کوم تشبیهات استعمال
کړي دي څرنګه دي؟ د شاعر خیال او تصویر
څه رنګه دے؟ د شاعر مفرد الفاظ او
مرکبې جملې څه رنګه دي؟ د الفاظو او
معاني مابین کښې مناسبت شته او که نه؟

Scanned with CamScanner

شاعر دَ معاشرې ټول حالات او واقعات من وعن قبلوي او که په ځینې باندې تنقید کوي. د شاعر خپل شخصیت شته او کهٔ ورک شوے دے. دغه رنګ نورې ډیرې خبرې دي. چې ناقدانه نظر دَ هغې استخراج کولے شي. لیکن په دې معامله کښې قاضي صیب معذور دے ـ ځکه چې د زمانې د طور او طریقو خلاف خبره نشي کولے. کومه طریقه چې قاضي صیب استعمال کړې ده ـ هغه دَ هاغه وخت یوه اعلیٰ طریقه وه اګر چې اوس بنسهٔ نهٔ شي ګڼلے ـ

## التلخیص فی العروض

د قاضي صیب یو مختصر تصنیف دے

چې په علم عروض باندې لیکلے شوے دے علمِ عروض په حقیقت کښې میزان او تله ده چې په دې کښې د اشعارو صحت او روغ تن او فساد او ناجوړه تن معلومیږي.

د کتاب په سر نوشت کښې قاضي صیب دَ علم عروض دَ هغه ضروري څیزونو بیان کړے دے. چې د هر علم په ابتداء، اول او شروع کښې د هغې بیان او پیژندل ضروري ګڼلے شي. ددې کتاب د تصنیف او لیکلو د پاره چې کوم کوم کتابونه قاضي صیب مطالعه کړي دي او لیدلي ئې دي او لوستنه ئې کړې ده. د هغې ټولو کتابونو نامې او لوے فهرست ئې وړاندې کړے دے ـ دغه رنګ پوره اعتماد او یقین سره خپل تصنیف دَ نورو حلقو دَ تصنیفاتو په مقابله کښې حق، رښتیا او روانه چیته ګڼي ـ ددې وجې نه طالبانو ته د خپل کتاب د لوستلو مشوره ورکوي. او د نورو حلقو د کتابونو نه ئې منعې کوي. بلکې د نورو عالمانو کتابونه لوستل د قاضي صیب په خیال کښې د جاهلانو او ناپوهه خلقو اقتداء او تابعداري ده. په آخره کښې خپل تحقیق ددې علم دَ دوؤ مشهورو امامانو (اخفش او خلیل) تحقیق سره برابر بلکې دَ هغې نه اوچت ګڼي ـ

دا یوه ډیره اوچته او مبالغه ده. او حد نه ډیر زیات تیر بدل دي ـ چې دَ قاضي صیب په رنګ عالم فاضل د پاره مناسب نهٔ دي ـ کیدے شي چې د قاضي صیب عرض او مقصد د نورو عالمانو تنقیص او سپکاوي او د هغوئ کتابونه سپک او بې کاره ګڼل نهٔ وي. بلکې د طالب علمانو په نظر کښې خپل کتاب ته قبولیت ورکول او هغه بنسهٔ او اوچت ښکاره کول وي.

قاضي صیب ددې علم دَ پیژندګلوي باره کښې فرمائي :- په دې علم کښې دَ شعر دَ اوزانونو او دَ شعر دَ تعلقد ارانو بیان دے.

Scanned with CamScanner

دې ته علم میزان هم ویلې شي - ددې علم دَ حاصلولو او زده کولو غرض او مقصد د هغې اشعارو پېژندل دي چې پهٔ تول او وزن پوره وي. او د هغې اشعارو چې پهٔ تول او وزن پوره نهٔ وي. ددې علم اول او ورومبیز اختراع کونکی او مصنف خلیل دے چې په زمکه کښې دهٔ ته ددې علم الهام او ښودنه شوې ده. او پهٔ دې وجه هم دې ته عروض ویلې کېږي. چې دَ مکې په نومونو کښې یو نوم دا دے. دغه رنګ دې ته عروض ددې وجې نه هم ویلې کېږي. چې په دې کښې پهٔ وزن پوره اشعارو او دَ وزن نه کم ترو اشعارو پهٔ مینځ کښې فرق کېږي.

د ټولو علمونو پهٔ خپل مابین کښې یو بل سره څهٔ قدرې لږ ډېر تعلق او رشته داري ضرور وي. صرف علم عروض یو داسې علم دے چې ټولو نه پهٔ ارخ او یو څنډه کښې دے. ددې وجې نه هم د عروض پهٔ نامه یادېږي. اصطلاحات او عملي تجربه ددې علم څهٔ قدرې ګرانه او مشکله ده. ددې وجې نه دا هم پهٔ عروض سره مشهور شو. قاضي صیب د ډېر اختصار نه کار اخستے دے. سمندر يې پهٔ کوزه کښې بند کړے دے. پهٔ خپله وائي:- دا دَ لويو لويو ښکلې، ښايسته، نااشنا، نوي او نادره خلاصه او مازغهٔ دي. لکه د ماشي مازغهٔ.

دې نه وروستو قاضي صیب ددې علم اصطلاحي څېزونه بیان کړي دي. شعر، وزن کلام او دیو شاعر د شاعریت دپاره دَ څو اشعارو تخلیق ضروري دے. دَ عربو اشعار پهٔ شپاړسو[١٦] وزنونو راغلي دي. چې دې ته بحور ویلې کېږي. دَ بحر دَ جوړولو ضابطې او قاعدې، د هر بحر نامه او دکومو څیزونو نه چې بحر جوړ شوے دے. دې ټولو ته افاعیل ویلے شي. پهٔ دې افاعیلو کښې څلوېښت[٤٠] قسمه تغیر (د حرف کمول او د حرف زیاتول) راتلے شي. چې د هر یو جدا جدا نامه ده - ځینې تغیر مفرد دے. او ځینې مرکب - بعضې مفرد تغیر داسې دے. چې یو خاص ځائې او مقام سره تعلق نهٔ لري. بلکې د کلمې پهٔ ځائې کښې واقع کېدے شي. او ځینې مفرد تغیر هغه دے چې یو خاص ځائې او محل کښې واقع کېږي.

ددې ټولو قسمونو وضاحت او دَ هر یو قسم خپله خپله نامه او پهٔ کوم قسم کښې چې دَ خلیل او اخفش اختلاف دے. دَ هغې وضاحت دا ټول اقسام د مفرد تغیر پهٔ اعتبار د کمولو دَ حرف دي. هر چې مفرد تغیر پهٔ اعتبار دَ زیاتولو دَ حرف دے. دا حرف پهٔ آخر کښې واقع کېدے شي. ددې درې قسمه دي د هر قسم خپله خپله نامه ده. کوم چې مرکب تغیر دے په دې کښې دَ مفرد تغیر دوه قسمه جمع کېږي - پهٔ دې تغیر کښې

Scanned with CamScanner

د حرف کمول او د حرف زیاتول دداړه کېدې شي. په بعضې وخت کښې دا لازم او ضروري ګڼلے کېږي. او بعضې وخت کښې داسې نهٔ وي. ددې هم څو قسمه دي. چې دَ هر قسم خپله خپله نامه ده.

افاعیل پهٔ شمار نهٔ دي. او د هر یو څو څو ځانګې دي. چې ټول پهٔ شمار درې اویا پوره کېږي. د هرې ځانګې خپله خپله نامه او خپل خپل بیان او مثال دے. ددې افاعیلو نه پهٔ بعضو کښې ځینې وخت دوه حرفه داسې جمع کېږي چې کله کله د هغې دواړو حزف او اثبات جائز نهٔ وي. بلکې خواه مخواه دَ یو حزف او د بل پرېښودل ضروري وي. دغه رنګ پهٔ بعضو افاعیلو کښې کله کله داسې دوه حرفه یو ځائې کېږي. چې دَ هغه دواړو حذف جائز نهٔ وي. یا به دواړه ثابت پرېښودے شي. او یا به یو حذف کېږي او بل به ثابت پاتې کېږي. اول قسم ته مراقبه او دویم قسم ته معانقه وئیلې شي. معانقه پهٔ درې قسمه ده. د هر یو جدا جدا نامه ده. کله کله دَ بیت پهٔ اول او شروع کښې د یو حرف نه څلورو پورې زیاتولې شي. چې په وزن او تول کښې د هغې اعتبار نهٔ وي. هغه بیت ته خزم وئیلې شي. دې نه معلومه شوه چې دَ بعضو بیتونو ځینې افاعیل بغیر دَ حرف نه سالم پاتې کېږي. او د ځینې افاعیلو نه حذف کېږي. چې د کوم نه حذف شوے وي. د هغې څو قسمه دي چې دَ هر قسم خپله خپله نامه او بیان دے.

د اشعارو د وزنونو دَ اصولو او د بحرونو د پېژندګلو نه دروستو دَ شعر دَ تقطیع ټکړه ټکړه او یو جُز جدا جدا کول او پهٔ افاعیلو سره د هر یو جُز مساوات او برابرتیا معلومول، ساکن دَ ساکن پهٔ مقابله کښې او متحرک د متحرک پهٔ مقابله کښې بغیر د اعتبار زوَر، زیر او پېښ نه، اعتبار به تلفظ ته وي نه لیکلو ته. دَ عامو عالمانو پهٔ خیال کښې دَ شعر اجزاء اتو نه تر دوو پورې کېدے شي. خو زجاج وائي چې یو جُز هم کېدے شي. دَ شعر جُزونه به پهٔ مینځ نیمېږي. نیم به پهٔ اوله مصرعه او نیم په دویمه مصرعه کښې وي. د شعر جزونو نه بعضې وخت حرف حذف کېدے شي. او بعضې وخت نهٔ شي کېدے. دغه رنګ ځینې وخت کښې حرف یا حروف زیاتېدے شي او بعضې وخت کښې زیاتېدے نهٔ شي. پهٔ دې اعتبار سره د هر یو جُز خپله خپله نامه ده. چې کوم بیت کښې حذف او زیاتوالے رانهٔ شي دَ هغې بیت جُدا نامه ده. او چې کوم کښې حذف راشي. د هغې جُدا نامه ده او چې کوم کښې زیات راشي د هغې جدا نامه ده.

د بیت دواړه مصرعې کله برابر وي او کله
برابر نهٔ وي - او پهٔ دواړو کښې فرق وي. دغه
فرق مختلفو جزونو کښې راتلے شي - پهٔ دې
اعتبار سره هم د شعر مختلف قسمونه جوړیږي
شي - چې د هر قسم خپله خپله نامه ده .

د عربو اشعار پهٔ شپاړسو [1] وزنونو او
بحرونو کښې راغلي دي. دَ هر یو بحر نامه او
هر بحر کښې چې کوم تغیر په حذف یا زیاتوالي
سره کیدے شي د هغې اقسام، نامې او مثالونه

قافیه پهٔ بیت کښې آخر دوه [2] ساکن حرفه
او د دواړو مینځ کښې متحرک حرف او وړومبي
ساکن سره متصل متحرک حرف دے. دا دَ خلیل
مذهب دے چې حق دے - دَ اخفش پهٔ خیال
کښې قافیه د بیت آخري کلمه ده - چې دا قول
باطل دے . بعضې شاعرانو پهٔ خپل کلام
کښې بیت او قصیدې ته قافیه ویلې ده. لیکن
دا مجازي قول دے . حقیقت نهٔ دے . د قافیې
پهٔ وجود کښې دوه حرفه ساکن ضروري دي.
کله دا دواړه یو ځائې وي او کله دَ دواړو مینځ
کښې یو حرف وي. او کله دوه او کله درې او
کله څلور حرفه وي. پهٔ دې اعتبار سره دَ
قافیې پنځهٔ قسمه جوړیږي. چې د هر یو
خپله خپله نامه ده. دَ قافیې پهٔ وجود کښې
دَ دوو [2] ساکن حرفونو او مینځنې حرفونو نه
علاوه وړومبنې ساکن سره دَ متحرک حرف
اتصال هم ضروري دے - دې نه دا معلومه
شوه چې قافیه د څو حرفونو نه جوړیږي.
پهٔ دې اعتبار سره د قافیې شپږ حرفونه
کیدے شي. چې دَ هر یو خپله خپله نامه ده.

د قافیې په دې حرفونو او دې نه مخکښې
حرف باندې مختلف حرکات زور، زیر او پیښ
راتلے شي - پهٔ دې اعتبار سره دَ قافیې شپږ
قسمه جوړیږي چې د هر یو خپله خپله نامه ده.

رَوِي دَ بیت آخري حرف ته ویلے شي .
بار بار د قصیدې هر یو بیت کښې راځي - او دَ
قصیدې نسبت هم دغه حرف ته کیږي. بعض
حروف داسې دي چې پهٔ هغې کښې د حرف رَوِي
کیدلو صلاحیت نهٔ وي. د هغې ټولو حرفونو
بیان او وضاحت قاضي صیب پهٔ ډیرې ښې طریقې
سره کړے دے - د قافیې حرفونو باندې دَ سکون
او حرکت او د حرف رَوِي نه مخکښې الف، واو او ی
دَ راتللو پهٔ وجه د قافیې متعدد او ډیر اقسام
جوړیدے شي چې د هر قسم جدا جدا نامه ده.

پهٔ قافیه کښې مختلف قسمه عیوب او
نقصانات راتلے شي چې د هر یو قسم خپله خپله
نامه ده - دَ هغې بیان او وضاحت پهٔ مثالونو سره

پهٔ آخر کښې خاتمه ده - چې په دې کښې
د دوو څیزونو بیان دے - النصب : د قافیو
سلامتیا د فساد نه - الاعنات : د هغې څیزونو
لزوم پهٔ قصیده کښې (چې دَ فن عالمانو پهٔ

Scanned with CamScanner

خیال کښې) لازم نهٔ دے دَهغې بیان او مثال.

ددې لیکلو او جمع کولو نه فراغت دَ شوال العظم پهٔ آخرې نیټه سنه ۱۳۰۴ من الهجرة پهٔ جنډه چې دَ بنګلور دَ مدراس دَ ښارونه یو ښار دے. حاصل شوے دے. پهٔ هغه وخت چې زهٔ پهٔ دغه زمکه اوسیدم.

دا د قاضي صیب په علم عروض کښې مختصر بحث او خلاصه ده. د علم عروض اصطلاحي خبرې دومره ګرانې او مشکلې دي. چې د چا تعلق دې علم سره نهٔ وي. هغه پرې نهٔ شي پوهیدے. ددې وجې نه مونږه دا کوشش کړے دے چې ګرانې او مشکلې اصطلاحي خبرې ددې علم پهٔ رڼا کښې داسې تعبیر او وضاحت سره بیان کړو. چې هر سړے ترې نه فایده واخلي. دغه وجه ده چې د کتاب لفظي ترجمه مې او نهٔ کړه. بلکې د مقصد د واضحه کولو یو کوشش مو کړے دے. دغه رنګې ځائې پهٔ ځائې اصطلاحي څیزونو د نامو ذکر کولو نه موهم ځان ساتلے دے. ځکه چې پهٔ هغې د عامو لوستونکو پوهیدل نه شو کیدے.

دې نه وروستو د چاپ شوي کتاب او لیکلے شوي کتاب پهٔ غور او فکر سره مطالعه کوو. لیکلے کتاب د الفیصل عربي مجلې دَ ۱۸۴ نمبر کښې او د اپریل ۱۹۹۲ء مطابق حمد الجاسر صیب مونږه سره معرفي کوي.

دکوزې صفحه ۲۱ - ۲۵ او بیا خاص صفحه ۲۴ که پهٔ غور او فکر سره دَ دواړو کتابونو مطالعه کوو چې دا خبره واضحه شي چې آیا دواړه یو کتاب دے او کهٔ جدا جدا؟

د دواړو کتابونو اغاز:

قال العبد المفتقر الی ربه الباری ابو الصفا میر احمد شاه الرضوانی الفشاوری هذه قیصرة من طویله وغانیة جمیله نادرة (وسویه) فی فن العروض کانها مخ البعوض......

(ترجمه) خالق او خپل رب ته محتاجه بنده ابو الصفا میر احمد شاه رضواني پېښوري وئیلي دي. (چې پهٔ ښهٔ ترتیب او ښهٔ تعبیر او ښهٔ تحقیق کښې) یو ډېره ښایسته خوبصورته ناآشنا جینۍ ده (او پهٔ ورکوټوالي او خلاصه والي کښې) د ماشو مانغهٔ دي.

د دواړو کتابونو خاتمه:

خاتمه: الاعنات: ولیسمٰی لزوم مالم یلز-------- النصب: سلامة القوافی من الفساد. دَ هغه شي چې لازم نهٔ وي اعنات دے. دَ قافیو خلاصوالے او سلامتیا دَ (هر قسم) عیب او نقصان نه نصب دے.

د دواړو مینځ کښې فرق.

۱) د امریکې پهٔ کتاب کښې (الاعنات) دَ النصب نه وړاندې دے. او پهٔ چاپ شوي کتاب کښې (النصب) د الاعنات نه وړاندې دے.

٢ د چاپ شوي کتاب په اغاز کښې (مسوية) ليک
دے او د امريکې په کتاب کښې نشته

٣- د امريکې په کتاب کښې (لزوم مالايلزم) او په
چاپ شوي کتاب کښې لزوم مايلزم ليک دے

٤- د امريکې کتاب اخيره کښې: تمه الکتاب
ثلاثين من شهر رمضان ١٣٠٥ھ في اندورکاتبه
مولفه الرضواني (ثم ختم مکتوب فيه) ميراحمد شاه
الرضواني د رمضان په ديرشمه نېټه ١٣٠٥ھ دا
کتاب په اندور کښې پوره شوے دے ليکونکے او
جوړوونکے يې رضواني دے [ بيا په کتاب مهر لګېدلے
دے چې ورکښې ] ميراحمد شاه رضواني [ ليک دے ]
چاپ شوي کتاب کښې حصل الفراغ من تاليفه
وتسويده سلخ الشهر الشوال المعظم سن اربع وثلثمائه
بعد الف من الهجرة بجنده مدينة البنګلور من
بلاد مدراس (ايام اقامتي بها والقاء بصاعي على
ارضها )
ددې کتاب د ليکلو او جوړولو نه فراغت
حاصل شوے دے په اخري نېټه شوال المعظم
١٣٠٤ھ کښې په جنده کښې چې د بنګلور ښار
دے د مدراس د ښاريونه په هغه وخت کښې
چې ما کړې په دغه زمکه اړولي دي او استوګنه
مې کوله -

٥- د امريکې د کتاب نامه او عنوان "مخ البعوض
في علم العروض" دے او د چاپ شوي کتاب نوم
او عنوان " التلخيص في العروض" دے داسې معلومېږي
چې قاضي صاحب د کتاب جوړولو او ليکلونه د شوال په
اخري نېټه ١٣٠٤ھ کښې فارغ شوے دے - هغه وخت
کښې د فوټو کاپۍ او عکس ويستلو انتظام نۀ وُ په
دې وجه چاپې قاضي صاحب نه د کتاب خواهش کړے
دے قاضي صاحب ورته خپل کتاب ورکړے دے - چې
دې نه يې نقل کړي - بيا د هغۀ نه بل نقل کړے دے
او بل نه بل او د غسې څه ورپسې - عرض دا چې
کتاب د ډېرو لاسونو نه ووتو او په دې وجه دَ
کتاب په بعضو جزونو کښې فرق راغلے دے او اصل
کتاب محفوظ پاتې شوے دے - د پاسنی بيان په رڼا
کښې وښکاره شو چې دا دواړه ديو کتاب نسخې دي جدا
جدا کتابونه نۀ دي ځکه چې آغاز او انجام د دواړو يو
دے چې مقصد د کتاب دے او کوم فرق چې دے هغه
په بنيادي جز کښې نۀ دے بلکې د ليکوال غلطي معلومېږي
ورو مېنځ فرق صرف د ترتيب او وړاندې وروستو
کېدلو فرق دے چې د ډېرو لاسونو په وجه کېدے
شي دويمه او درېمه خبره هم د ليکوال سره
تعلق لري هر کله چې چاپ شوي کتاب کښې (لم) پاتې
شوے دے نو په کوتوليکلي کتاب کښې (سوية) ولې
نۀ شي پاتې کېدے - څلورمه خبره د تاريخ فرق دے -
او دا هم د کتاب غلطي معلومېږي - دغه رنګ پنځمه
خبره هم دا کېدے شي چې څۀ وجې نه اصل عنوان
او نامه د کتاب چا نه پاتې شوي وي او د ديباچې مخ البعوض عنوان او نامه مقرر شوي وي -
عرض دا چې زموږ د په خيال کښې دا دواړه
يو کتاب دے دوه نۀ دي -

# قصيدة الرضواني في بني افغان

(د پښتون قام په مدح کښې)

افغان قوم تريتهم ان لقيت بهم

أسد الشرى وبني جن لدى الباس

دا قصيده په څلور ديرش بند ونو مشتمله ده

د قصيدې عام مطلبونه : پښتون قام يو بهادر توريالے قام دے - د دوئ ليدل او څرګندېدل همېشه په مېدان جنګ کښې وي - د دښمن مړي او لاشونه مېدان جنګ کښې مرغانو ته ميلمستيا ورکوي - د دې وجې نه مردارخواره مرغان همېشه د دوئ په سوونو باندې تاوېږي راتاوېږي د توره و شرنګا کښې پېدا شوي او لوے شوي دي - دغه شرنګار د دوئ غوږونو ته د هر څيز نه ډېر خوند ورکوي - د دښمن د وينو تويولو نه په شراب ځان نه مشغولوي -

پښتون چې غصه شي دا زمري په شان حمله کوي - او د پېس يا نو په رنګ په خوږ درد هيڅ پروا نه کوي - په خپلو کورونو کښې ډېر نرم او پاسته دي - د ياجوج ماجوج ديوال هم دوئ نه شي بند ولے - د دوئ مقابلې ته دښمن نه شي ټېنګېدے. دا سې ترې نه تښتي لکه چې چيلۍ د ليوه نه تښتي د پښتنو ځوانان دي چې په هر مېدان کښې کاميابي د دوئ ته مونه ښکلوي چې اندازه ونګوئ نو د عرب بهادرو سره برابر او سر په سر وي - که زيات نه دي نو کم هم نه دي - غيرتي قام دے

د خپل ناموس او عزت حفاظت په هر حالت کښې کوي - او چې معمولي تور داغ ئې په عزت لګي نو د هغې د وينځلو او لرې کولو د پاره هر څه قربانوي په غريبو او حاجتمنو د خپل اهل وعيال نه ډېر رحم او مهرباني کوي - پناه غوښتونکي ته پناه ورکوي هر څوک چې وي د دوئ د پوښتکي زوې ولې نه وي - دا سې يې خيال کوي چې خپل بال بچ پرې قربانوي - بيا هغوته څوک په کږه سترګه نشي کتے د دې پورې چې د هغو خلاف شيطان وسوسه هم نشي کولے -

په ميلمستيا او سخاوت کښې دا سې کارنامې لري چې د عربو خلق يې ګوتې ته کړي دي - د شرافت عزت او بزرګۍ بنياد دوئ ايښے دے - د پلارنيکه نه ورته په ميراث کښې پاتې شوے دے - د مضبوطې ارادې خاوندان دي چې کومې خبرې ته مضبوطه ملا وتړي نو د دنيا هيڅ شے يې د هغې نه منع کولے نه شي خپل مقصد ته دا سې نېغ ورځي لکه بيلونکې توره او د ليندې غشے -

د ښو اخلاقو خاوندان دي د چم ګاونډ خيال ساتي - او په هر حالت کښې د هغوئ مرسته کوي - د وعدې پوره کولو خيال ساتي - او هر څومره تاوان او نقصان چې ورته رسي هغه برداشت کوي خو وعده خلافي نه برداشت کوي نه ئې وعده هېرېږي او نه ترې غفلت کوي - دوکه نه کوي هره معامله پاکه او سوتره کوي د دوئ د اخلاقو خوشبويي د مشکو او کشملونه ډېره ښه او

زیاته ده -

پښتون قام په خپلو هغه کارنامو فخر کوي چې په حقیقت کښې موجود وي - په دنیا کښې داسې جاهل او ناپوهه هم شته چې په داسې درو غو صفتونو فخر کوي چې ورکښې نهٔ وي لکه څرنګه چې بڼځم له شپږم کښې ضرب ورکړې نو هیڅ ترې نهٔ جوړیږي - ځکه چې بڼځم یو دے او دغسې شپږم یو دے نو یو له چې یو کښې ضرب ورکړې هم دغه یو دے -

آخري بیت : د عرب شاعرانو که د طمعې او لالچ دپاره د مالدارو خلقو په مدح کښې د یرې مبالغې کړې دي نو ابوالصفاء د پښتون قام په مدحه کښې مبالغه نهٔ ده کړې بلکې حقیقت ئې بیان کړے دے ځکه چې مبالغه د طمعې او لالچ په وجه کیږي او زهٔ په خپله بل ته ورکوُنکے یم -

دا د قصیدې لفظي ترجمه نهٔ ده بلکې د قصیدې د مطلبونو وضاحت دے - ددې وجې نه مونږ دې ته یو خاص مناسب ترتیب ورکړے دے چې څهٔ رنګه مونږ مناسب ګڼلو د اشعارو د ترتیب خیال نهٔ دے شوے -

د قصیدې څلور دیرش اشعار او بیتونه دي - قصیده د خپلې زمانې د معاشرې او د پښتون قام عام حالت، اوصاف او اخلاق د هغه دور په ډیرې ښې طریقې سره وړاندې کوي او که څرې مونږ د هغې زمانې په تاریخ نظر واچوُ نو د قصیدې عام شکل او صورت نه به مخالف نهٔ وي بلکې داسې به برابر وي لکه چې یوه ځیلۍ د بلې سره برابر وي -

په دې لحاظ سره قصیده د پښتون قام یو داسې عکس او صورت دے چې انساني شکل کښې ژوندے دے او خپل حالت او کارنامې بیانوي - او مونږ ورته غوږ ایښے دے - تشبیهات، کنایات او عام خیال چې په قصیدهٔ کښې کوم جاري دے د خپلې زمانې سره برابر دے که څرے د قاضي صاحب د دور او وخت د عربي اشعارو موازنه د قاضي صاحب اشعارو سره وکړو نو په الفاظو تشبیهاتو، کنایاتو او عام تصویري خیال کښې به هیڅ فرق نهٔ محسوسو -

قصیده بالکل په روانه او فطري ژبه کښې لیکلے شوے ده تکلّف او تصنّع ورکښې نشته - اګرچې د لغت د بعضو بیتونو دومره مشکل وي - چې د لغت د کتابونو د کتلو نه بغیر پوهیدل پرې ډیر مشکل او ګران وي - خو دا د هغې زمانې د عالمانو یو عام معمول او دستور وُ چې په بیت کښې خپل مهارت او قابلیت ښکاره کولو دپاره داسې وکړي سره د دې نه د بعضو بیتونو ژبه لکه داوبو روانه او اسانه ده چې دا په حالی ولی د تکلّف نه لوے دلیل دے -

قصیده کښې چې کوم الفاظ منتخب شوي دي - د خپل خاص آواز د موسیقیت په وجې سره زړهٔ د نښتو کوشش کوي - د هرې معنې عام صورتونه واقعي دي، فرضي او خیالي نهٔ دي -

په قصیده کښې د شاعر د تشخّص یو جهلک هم
شته چې هغه په خپلو صفتونو او کارنامو دومره
اعتماد کول دي چې د بل کارنامې ورته بېکاره ښکاریږي۔
دي یو اوچت ادیب او فنکار تشخّص په فن کښې سرګند
او نمایان وي یو کمزورے او ضعیف ادیب په
خپل شخصیت پردې اچوي او په معاشره کښې
پټوي دې د پاره چې د هغه ضعف او کمزورتیا
ښکاره نهٔ شي۔

په قصیده کښې د الفاظو او معانیو په
منځ کښې د پرېښهٔ او مزیدار مناسبت
موجود دے۔ کوم ځائے کښې چې وچته
معنیٰ ده هلته سخت وچت او مشکل
الفاظ دي۔ او کوم ځائے کښې چې لاندې
معنیٰ ده هلته اسان او کمزوري الفاظ
استعمال شوي دي۔

# میر احمد شاه رضواني صاحب ته

تا رنګ په رنګ کړهٔ د پښتو چمن کښې نال ګلونه
کړهٔ دې د خپل ژوندګې په وینو باکمال ګلونه

د ناز امېل دې کړو په غاړه د پښتو د ناوې
هم دې او دبل کښې ورله کېښودهٔ د خیال ګلونه

چې یې مشرق نه تر مغربه خوشبوي خوره شوه
د لاجوابه تخیل وو بې مثال ګلونه

قاضي حنیف الله حنیف

Scanned with CamScanner

میر احمد شاه رضوانی

## در خوص چای

آبروی و غازهٔ رخسار هر خوانست چای | گرمی بازار بزم میر و سلطان است چای
در پیاله عکس روی لاله رویانست چای | چاشنی بخش لبان نوعروسان است چای
ساز و برگ بی‌نوایان مونس آزادگان | مرهم زخم دل آشفته حالانست چای
صیقل آئینهٔ دلها و ارواح و دماغ | نوربخش و روشنی افزای چشمان است چای
برگ سبزش همچو خضر است آبدار زندگی | کز برای هر سکندر آب حیوانست چای
سبزپوش و سرخ رنگت و خوش مذاق و تعزبو | دلبر چینی نژاد و راحت جان است چای

## در پند و نصایح

دلا تو وسوسه‌ها این قدر چرا داری | ترا چه خوف و هراس است چون خدا داری
به هیچکس چو وفائی نمی‌کند دنیا | تو از چه میل به این زال بیوفا داری
بشیر بیشه گهی روبهی نمی‌زیبد | چه احتیاج به کس چون تو دست و پا داری
اگر ز ذات تو فیضی نمی‌رسد بکسی | چه سود از انکه تو در دست کیمیا داری
دگر بفرق کسی نیست سایهٔ مهرت | از آن چه بهره که تو خاصهٔ هما داری
ببین بگوشهٔ چشمی بسوی خسته دلان | که در فنون و اشارات صد شفا داری
گمان مبر که کدورت رسد ز دورانت | اگر معامله با هر کسی صفا داری

تو نیز در تگ و تازی مدام رضوانی
بخیرتم که به خاطر چه مدعا داری

Scanned with CamScanner

قاضي ميراحمدشاه رضواني

# پښتانه شاعران

د پښتو ژبې که ډېر دي شاعران
خو په واړو کښې بادشاه دے خوشحال خان

هيڅ حصار نهٔ دے په نوره په زوره
نهٔ پوهېږم اباسين دے که طوفان

منظومات ئې دي لړۍ د مرغلرو
کهٔ تسبيح دي د ياقوت و د مرجان

په شکوه د اورنګزيب او د بهرام کښې
فردوسي هم ورته پاتې شي حيران

په پښتو کښې خوشحال خان داسې شاعر دے
لکه وُ امرالقيس په عربستان
مقالات ئې واقعي او حسب حال دي
نه فرضي و ښُل چې کاندي شاعران

تر شيراز خوږ و الفاظو ئې زاړېږي
د پر خسرو غوندې طوطيان د هندوستان

اول زوے د خوشحال خان عبدالقادر وُ
بل هجري وُ چې ئې نوم وُ اشرف خان

د هجري طبيعت هاله زور ښکاره کړه
له وطنه چې دکن ته شو روان

پس له دوي چې کاظم خان شيدا ګويا شو
چې وُ زويه د دانشمند د افضل خان

بيا په دور د شاه عالم په سرهن کښې
چې ښکاره شو په جهان عبدالرحمان

بيا په دور د تيمور شاه او دل له واره
ماشو خېلو کښې را وخوت حميد خان

پس له دې نه زلالي به دې را ياد شي
کهٔ دې ولوستهٔ اشعار د علي خان
نور د دوي او سرنا شاعران ډېر دي
رضواني خو دي شمار لي اُستاذان

# راغلي ليک

عزتمنده راج ولي شاه ختک صاحب

د اټوپکتش پښتو اکېډمي پېښور

آخر په دنيا خوشحاله وسئ

اَلسّلام عليکم!

د ټولونه مخکښې زهٔ تاسو ته د پښتو اکېډمۍ د دا ټوپکټ په جوړېدو و د زړهٔ د اخلاصه مبارکي درکوم - خدائے پاک دې تاسو له د پښتو دَ خدمت کولو توفيق درکړي -

په دې خبره ډېر زيات خوشحاله شوم چې پښتو رساله يو ځل بيا په باقاعده ګئ سره جاري شوه د ستمبر په رساله کښې مې يو اعلان ترنظره شو چې را تلونکي خصوصي ګڼه به د شمس العلماء ميراحمد شاه رضواني په ياد کښې وي - زهٔ هم يو څو مات ګوډ شعرونه درلېږم انشاء الله تعالیٰ چې تاسو به ورته په دې خصوصي نمبر کښې ځائے ورکړئ -

په آخره کښې زهٔ تاسو ته يو خواست کوم رو هغه دا چې تاسو مهرباني وکړئ او دَ سيرة النبي صلی الله عليه وسلم پاتې درې جلده د چاپ کولو کوشش وکړئ - دا به ستاسو په پښتو ژبه او د سيرة النبي صلی الله عليه وسلم په طالب علمانو يو ډېر لوئے احسان وي -

فقط والسلام

ستاسو ورور

سرزمين شاه سرزمين

موتي بانډه (لونډخوړ) ضلع مردان

Reg: No. P-146

# PASHTO

MONTHLY JOURNAL OF THE PASHTO ACADEMY UNIVERSITY OF PESHAWAR
DEALING WITH THE PASHTO LANGUAGE-LITERATURE-HISTORY-
ARTS-CULTURE & RELEVANT FIELDS
EDITOR: DR. RAJ WALI SHAH KHATTAK
January, February, March 1996

PASHTO ACADEMY UNIVERSITY OF PESHAWAR, N.W.F.P.

Scanned with CamScanner